# د ثور په تراژیدۍ کي

# فرهنگ ، ادبیات او آزادي

زرین انځور

Ketabton.com

PROPERTY OF
ACKU
3381

د ثور په تراژیدۍ کې

# فرهنګ ، ادبیات او آزادي

لیکوال

محمد زرین انځور

۱۳۷۳ هـ ش

Ketabton.com

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم : د ثور په تراژیدۍ کې فرهنګ ، ادبیات او آزادي
لیکوال : زرین انځور
خپرندوی : د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه
د خپرونو نومره : ۷۲
د چاپ ځای : تاپ پرنټرز - پیښور
د چاپ کال : ثور ۱۳۷۳ هـ . ش ( مۍ ۱۹۹٤ ع )
تیراژ : ۲۰۰۰ ټوکه
کمپوزر : سید حسین پاچا

Ketabton.com

تقريظ :

بسم الله الرحمن الرحيم

## يو ګټور اثر او يو ښه اقدام

د ثور بدمرغه کودتا يوه داسې فاجعه وه ، چې زموږ د هيواد او خلکو ټول اجتماعي ، اقتصادي او سياسي نهادونه او د خلکو ترمنځ روابط او ملي ارزښتونه يې له يوې مخې داسې سره ومروړل چې خپله ټوله اصلي اسلامي او افغاني صبغه يې له لاسه ورکړه .

د ثور د کودتا او له دې کودتا څخه د رازړيد لو ټولو ملي آلميو په بيلا بيلو پړاوونو کې د نورو بنسټونو ترڅنګه په فرهنګ او فرهنګي بنيادونو هم ډير ناوړه اثرونه پريوتل .

د کودتا په لومړۍ مرحله کې د فرهنګ او فرهنګي ارزښتونو د مسخه کولو له پاره د کودتا عاملينو او د حاکم حزب غړو د خپلې کودتا له غوښتنو او اهدافو سره سم د دغو لاندې چارو او رسومو عملي کولو او دودولو ته لاس واچاوه :

الف : د خلکو د سياسي ، اجتماعي ژوند پر بيلا بيلو اړخونو د اختناق او وحشت تور کوڼاغ خپل وزرونه وغوړول او د رڼايۍ او دموکراسۍ ټول اثرات يې له منځه يووړل . دغه چار فرهنګيانو او د فرهنګ پر مؤسسه تر زياته حده مؤثر و . د ټولو سياسي او اجتماعي آزاديو له له منځه تګ سره سم د بيان آزادۍ ، د فکر او نظر د اظهار



Ketabton.com

آزادۍ زموږ له محیطه کډه وکړه ، پر مطبوعاتو او ټولو نشراتي وسایلو جدي او هر اړخیز سانسور پیل شو. له کمونستي او د کمونیزم په رنګ له رنګیدلو آثارو پرته نورو هر ډول علمي ، تحقیقي او هنري آثارو ته د نشر اجازه یا ګرد سره نه ورکول کیده او یا په مشکله ورکول کیده .

ب : تر کودتا د مخه ټولو پخوانیو فرهنګي کارونو ته په سپکه سترګه کتل کیدل . ټول زاړه کلاسیك آثار د زیړو کتابونو تر کټیګورۍ لاندې او د تیر رژیم معاصر هغه د ارتجاعي آثارو په نامه مردود ګڼل شوي وو . دوی غوښتل چې یوازې د مارکسیزم په لاړو لانده آثار د اصلي او واقعي آثارو په توګه وپیژني . د دوی هدف دا و ، چې که څوك زاړه ادبیات څیړي نو بایده دي چې د مارکسیزم د تیورۍ په رڼا کې یې وڅیړي .

ج : د کور کورانه تقلید پلوي کمونستانو د خپلو حامیانو په تقلید د فرهنګي مؤسساتو یوځای کولو ته شروع وکړه . ډیر فرهنګي مؤسسات یې له منځه یوړل او ډیرې معیاري فرهنګي موقوتي خپرونې یې بندې کړې .

په دې مرحله کې د فرهنګ او فرهنګیانو په وړاندې د دې روش د اختیارولو نتیجه دا شوه ، چې :

اکثرو لویو لیکوالو او شاعرانو له لیك او شعر ویلو سره خدای پاماني وکړه . که زموږ لویو لیکوالو او شاعرانو په دې دوره کې څه لیکلي او ویلي وي هغه په هغه مرحله کې نشر نه شول . ځکه دوی دغسې آثار چې د آزاد فکر مولود وو نه نشرول . ټول علمي او فرهنګي او اخباري نشرات یې د کمونستي افکارو خورولو او د ثور د کودتا د اهدافو تأمین ته وقف کړي وو . هغه مجلې او اخبارونه چې په لسګونو کلونه د ادبي او فرهنګي آثارو نشر ته وقف وو . هغه خپرونې هم د کودتا او هم د کمونستي آثارو نشر ته وګومارل شوې .

په دې مرحله کې چې څه کم زیات اتلس میاشتې یې دوام وکړ ، د



Ketabton.com

فرهنګ په ګټه کوم مثمر کار پکې ونه شو او نه څه داسې تخلیقي آثار پکې خپاره شول ، چې د ادبیاتو د رشد په پروسه کې مؤثر وي .
کره کتنه په ټپه ولاړه وه ، په ځینو نشراتي وسایلو کې که به کومه کره کتنه نشریدله ، نو په هغې کې به تر کودتا د مخه نشر شوي آثار د تیر رژیم د مولود په حیث په ډیر بیرحمانه شکل تر کره کتنې لاندې نیول کیدل ، چې حتی د نقد آداب به هم پکې نه وو مراعت شوي .
په دې مرحله کې ځینې تحقیقي آثار او متون د هیواد ځینو فرهنګي مؤسسو نشر کړل ، خو دا آثار یو هم په دې مرحله کې نه وو تهیه شوي ، ټول د تیر رژیم کارونه او آثار وو ، چې دوی را وایستل .
د دې مرحلې یوازینی د یادونې وړ کار د خوشحال سیمینار او دې سیمینار ته مربوط څو محدود کارونه وو .
په دوهمه مرحله کې چې د ۱۳۵۸ هـ . ش کال د جدي له شپږمې نه د ۱۳۶۵ هـ . ش کال تر ثوره یې دوام درلود په دې مرحله کې هیواد په مستقیم ډول د کمونستانو د بادارانو ( روسانو ) له خوا اشغال شوی و .
په دې مرحله کې تر ټولو د مخه د هیواد د ټولو اجتماعي ، اقتصادي او سیاسي جوړښتونو ترڅنګه د فرهنګي مؤسساتو روسی سازی ته په اوله درجه کې ارزښت ورکول شو .
د روسي مؤسساتو په څیر د اکاډیمۍ بنیادونه هم پسې پیاوړي کیدل او روسي ټیپ اتحادیې هم جوړیدې . د لیکوالو ، هنرمندانو او ژورنالستانو اتحادیې چې په روسي قالب کې جوړې شوې او هدف یې دا و چې ټول لیکوال ، شاعران ، نقادان ، ادبي څیړونکي ، ژورنالستان او هنرمندان په یو ډول نه یو ډول په خپلو شیطاني لومو کې ګیر کړي .
د کمونستانو د دغو جالونو له خورولو سره سم یې ډیر هغه لیکوال شاعران ، څیړونکي ، نقادان ، هنرمندان او ژورنالستان چې د لومړۍ مرحلې له تیغه پاتې شوي وو ، هغوی له هیواد نه په وتلو پیل وکړ ، ځینې محدود کسان چې پاتې شول د کمونستانو له هر اړخیزو توطئو ،


Ketabton.com

دسیسو او تهدیدونو سره مخامخ وو .

په دې حساب هیواد له معروفو او پخو لیکوالو ، شاعرانو ، استادانو ، محققانو ، هنرمندانو او ژورنالستانو څخه تش شو . د فرهنګ په دې ساحو کې څه محدود د کار خلك که پاتې وو ، د هغوی په واك کې څه نه وو ، ګوندي کسان چې علمي او هنري تومنه يې نه درلوده په زیاترو فرهنګي ادارو قابض وو .

په دې مرحله کې یو بل نه بخښوونکی کار دا وشو ، چې د فرهنګ سپیڅلي لمن يې د ملي نفاق اور ته د ببوڅی وهلو له لارې ربمنه کړه . کمونستانو د خپلو اهدافو د پرمخ بیولو له پاره د افغانستان د ورونو قومونو ترمنځ د بیلتون د ایجاد په منظور د ملي نفاق د خوړولو له پاره بیلا بیل کارونه وکړل . د کودتا په اوله مرحله کې دغه چار په ابتدايي ډول یوازې په ځینو سیاسي ، اجتماعي ساحو کې پیل شوی و . مګر په دوهمه مرحله کې يې هر اړخیز شدت ومونده او د فرهنګ ساحو ته يې هم نفوذ وکړ . د کمونستانو د تشویق او حمایت له امله ځیني خاص ګومارل شوي ، د فرهنګ د بیلا بیلو ساحو ځیني کار کوونکي په دې برخه کې ډیر فعال شول او ځیني داسې آثار يې ایجاد او ولیکل چې د افغانستان د سره ورونو قومونو او قبایلو ترمنځ ملي نفاق پیدا کوي .

په دوهمه مرحله کې پر فرهنګي مؤسساتو د حاکمو حزبیاتو شعار دا و ، چې هرڅه باید د انقلاب ؟ په خط کې وي ، هغه څه چې له دې خطه ماورأ وي هغه زموږ په درد نه لګي ، نو په همدې اساس هغه لیکوال ، شاعران او محققان چې د انقلاب په خط کې نه وو له ډیر تهدید سره مخامخ وو .

له دې ټولو خطراتو او تهدیدونو سره سره ځینو غیر وابسته لیکوالو او شاعرانو ځیني داسې آثار همدغه وخت ایجاد کړل ، چې د انقلاب په خط کې څه چې د کمونستانو پر ضد وو . همدارنګه د تحقیق په ساحو کې هم دغه مهال ځیني داسې آثار ولیکل شول چې د حزبي او



Ketabton.com

ایډیالوژیکو تمایلاتو تابع نه وو .

دغه ډله لیکوال او شاعران او څیړونکي د کمونستانو د سترگو اغزي وو ، د دوی آثارو او دوی ته یې په کرکه کتل او په خپلو حزبي غونډو کې یې پر دغو کسانو او آثارو خبرې کولې او دغه کټیگوري کسان به یې د بیلا بیلو فشارونو له لارې مجبورول چې وطن پریږدي او چې لږ پلمه به یې ورسازه شوه سملاسي به یې زندان ته اچول . د کودتا دریمه مرحله چې د ۱۳۶۵ هـ . ش کال له ثوره د ۱۳۷۱ هـ . ش کال تر ثوره یې دوام درلود . په دې مرحله کې دولت د خپل جنگي ماشین د چلولو له پاره د هیواد نور اجتماعي ، فرهنگي مسایل تر شا کړي وو . دا وخت د سولې او مصالحې تر پردې لاندې اصلي توجه جنگ ته وه ، او هرڅه د جنگ کوونکو او دې کار ته د مربوطو مؤسسو په اختیار کې وو .

د دې پړاو ناوړه اجتماعي ، اقتصادي وضعې د فرهنگیانو د کار پر کمي او کیفي معیارونو هم زیات اغیز درلود . د دې مرحلې په وروستیو کلونو کې د نورو افغانانو په څیر شاعران ، لیکوال ، هنرمندان ، ژورنالستان ، څیړونکي او استادان هم له ډیرو ستونزو سره مخامخ وو . تمام وخت به یې د ژوند د حوایجو په پوره کولو صرفیده ، او ډیر لږ به فرهنگي کار ته وزگاریدل ، په دغسې شرایطو کې طبیعي ده ، چې د آثارو د ایجاد زمینه هم محدوده وي .

د دې پړاو د اجتماعي فساداتو عمده څانگړنه په زیاترو اداراتو کې د رشوت او اختلاس عامیدل وو . دې کار د چاپ او نشر د وسایلو درلودونکو مؤسسو ته هم لاره پیدا کړه . په مطابعو کې به د کتابونو چاپ یوازې د پیسو او رشوت ورکولو له لارې ژر سرته رسیده ، که نه نو چا به یې پانه نه اړوله . په مطابعو کې هم د هغو کتابونو چاپ ته د اولیت حق ورکول کیده ، چې د رژیم په گټه به لیکل شوي وو . عامو کتابونو ته د چاپ موقع زیاته نه وه ، ډیر لږ به دغه ډول کتابونو ته نوبت ورکول کیده . که کوم شاعر ، لیکوال یا څیړونکي ته به د کتاب د چاپ زمینه



Ketabton.com

مساعده شوه ، مطابعو ته له میاشتو میاشتو منډو سربیره به دی اړ و ، چې له خپلې حق الزحمې څه پیسې د مطبعې کار کرونکو ته ورکړي . دا کار برالا کیده ، چا نه شکایت کولای شوای او نه یې ځای نیوه .

د دې پړاو بله ځانګړنه چې پر فرهنګ او فرهنګي مؤسساتو هم اغیزمنه وه ، هغه دا چې د دې مرحلې حکامو د دموکراسۍ پیښې کولې ، څرګنده به یې د دموکراسي وړاندې وړاندې کوله ، مګر په عمل کې به یې داسې کارونه کول چې دموکراسۍ پورې یې خندل . او په ټولو چارو کې له خپل حزب نه تیر نه وو او کله به یې چې ډیر ځان دموکرات وښود نو داسې غیر حزبي به یې پیدا کړ ، چې تر حزبي به زیات معتمد او منونکی و .

دوی په فرهنګي مؤسساتو ، لکه : پوهنتونونو ، اکاډیمی ، اتحادیو او انجمنونو کې هم د دموکراسۍ د مظاهرو عاملو په منظور ځینې کارونه وکړل . خو له نتایجو یې ښکاره شوه چې د دوی هر کار دوکه ، فریب او د خلکو غولول وو . په دې مؤسساتو کې یې ظاهراً د دموکراسۍ له لارې د انتخاباتو چغې او سورې هم خپرې کړې مګر په ټول قوت به یې دا هڅه کوله چې خپلو معتمدو غیر حزبیانو او یا خپلو حزبیانو ته د دې مؤسساتو رهبري وسپاري . جالبه دا وه ، چې حزب به د سیاسي دفتر په غونډو کې د هرې فرهنګي مؤسسې د رهبرۍ هیئت دوی خپله وټاکه ، بیا به یې د خلکو د غولولو له پاره نورې ونډوورې غزولې او په ټول قوت سره به یې زیار یوست ، چې د نورو مخه ونیسي او د دوی چُن کړی سړی راشي .

له دغو ټولو بدبختیو ، ورانیو ، تنګسو او محدودیتونو سره سره د معاصرې ادبي دورې د بدلون په دغه پړاو کې زمور د ادبیاتو په بیلا بیلو اصنافو کې ځینې بدلونونه او تغییرات را پیدا شوي دي .

په دې څوارلس کلن پړاو کې د افغانستان دننه او د افغانستان د باندې د مهاجرو افغانانو په منځ کې ادبیاتو په دریو مشخصو



Ketabton.com

استقامتونو کې وده موندلې ده . یو استقامت د خاصو ایډیالوژیکو تمایلاتو تر اغیز لاندې را لوی شوی استقامت دی ، چې تابع ادبي هنري آثار یې له ځینو استثنایي مواردو پرته اکثر شعاري ارزښتونه لري او تر ادبي ( هنري ) اړخ یې موسمي ( شعاري ) اړخ غښتلی دی . بل استقامت د ناپییلو او آزادو لیکوالو ، شاعرانو او نقادانو استقامت دی ، چې د هیواد دننه او د هیواد د باندې د مهاجرو افغانانو په لیکو کې یې په ډیرو ناوړو شرایطو کې له تخویف او تهدید سره سره ځیني داسې آثار ایجاد کړي دي ، چې د پردو متجاوزینو په وړاندې د افغاني مقاومت د رښتیني روحیې ښکاروندویې هم کوي ، هنري او فکري نوښتونه او ارزښتونه هم لري .

دریم استقامت یې د اولسي شاعرانو په ایجادیاتو پورې مربوطه ساحه ده . په دې خوارلس کلنه دوره کې زموږ اولسي شاعرانو هم له انګریزانو سره د مقابلې د وخت د شاعرانو په څیر د افغاني مقاومت ټولې مبارزې او اتلولۍ په خپلو اولسي سندرو کې را نغښتې دي . دا سندرې هم د پخوانیو دغسې سندرو په څیر مصلحتونو ته له پاملرنې پاکې دي ، شاعرانو په جامعه کې موجود واقعیتونه او د څوارلس کلونو خونړۍ جنګي پیښې د اولسي حماسو په توګه بیان کړي دي .

د میتود د پیوندونکو د لارښوونو په رڼا کې دغو دریو استقامتو را ـ زیږولو او را لویو کړو ادبي ، هنري آثارو مطالعه را څرګندوي ، چې د معاصرې دورې دریم پړاو ( بدلون ) ځیني داسې زمینې را مساعدې کړي دي ، چې که لوی خدای ( ج ) زموږ ګران هیواد افغانستان له اوسني خطرناك بحران څخه را وژغوره او افغانان بیا د خپل واك او اسلامي ملي حکومت خاوندان شول ، نو دا وخت به زموږ د معاصرو ادبیاتو د رشد او ودې بل پړاو نه ، بلکه بله دوره پیل کیږي ، چې دا دوره به د پښتو ادبي تاریخ څلورمه دوره وي ځکه د بدلون په دغه پړاو کې زموږ ادبیاتو ځیني داسې ځانګړنې خپلې کړي دي ، چې د خپلو



Ketabton.com

شرایطو له امله د یوې نوې دورې د پیل پیلامه ګڼل کیدای شي .

حاضره رساله چې ستاسو ګرانو لوستونکو مخې ته پرته ده ، د کمونستي رژیم تر ولکې لاندې د فرهنګ او فرهنګي مسایلو او جریانونو ښکلې انځور دی .

د رسالې ګران لیکوال د پښتو پیاوړی کیسه لیکونکی او ښه کره کتونکی ښاغلی زرین انځور د زیات تعارف محتاج نه دی ، ځکه په وروستیو پنځلسو کلونو کې د فرهنګ په ځینو ساحو کې د ده عملي او نظري هلې ځلې د ډیرې درناوی وړ دي .

د دوی د دغو فرهنګي هڅو په لړ کې دا رساله خپل ځانګړی مقام لري ، ځکه په تیر رژیم کې د فرهنګ او فرهنګیانو د وضعې بیان ته توجه پکې شوې ده . د تیر رژیم په اجتماعي ، سیاسي او پوځي چلندونو به ډیر آثار او مقالې لیکل شوي وي ، مګر په فرهنګ ډیر لږ نه وو لیکل شوي . دا تشه ګران انځور ډکه کړه .

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه د کور ودانۍ وړ ده ، چې د دغې ګټورې رسالې ته یې د چاپ زمینه مساعده کړې ده . په رسالې کې راغلي بیانونه اکثر د ګران مؤلف د سترګو لیدلی حال دی ، هغه کسان چې هورې وو ، ټول یې په صحت شاهدي لی ، انځور ته دې خدای همت ، برکت او عمر ورکړي چې دغه احوالونه یې له هیرې وژغورل .

سرمحقق زلمی هیوادمل



Ketabton.com

# فهرست


| سرليک | مخ |
|---|---|
| يوه يادونه | ۱ |
| سريزه | ۳ |
| د ثور کودتا | |
| او د ادبي او فرهنگي ټولو مؤسساتو او ځانگو بشپړ انحصار | ۷ |
| هنر او ادبيات - که وچ سياسي شعارونه او کړېکې | ۱۲ |
| پر ټولو ادبي - فرهنگي افتخاراتو د خيټې اچول | ۱۶ |
| د ليکوالو او شاعرانو سپکاوی ، زنداني کول | |
| او د نومونو او آثارو سانسور | ۲۳ |
| په دويم پړاو کې | |
| د پرديټوب نورې نښې نښانې | ۳۰ |


Ketabton.com

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| په فرهنګي - ادبي څانګو کې | |
| د مصنوعي شخصیتونو رامنځته کول | ٤١ |
| د ورځې په « نرخ » د آثارو ایجاد | ٤٧ |
| ادبیات - حکمونه او دستورونه | ٥١ |
| پر فرهنګ او ادبیاتو | |
| د زهیرو کسانو خپل منفرد تشبثات | ٦٢ |
| د ثور کودتا او پر څو مسیرونو | |
| د افغانستان د معاصرو ادبیاتو د یون ویش | ٧٣ |
| ضمیمه : | |
| رواني پېښې | |
| او د هیواد علمي او کلتوري میراثونه | ٩٢ |
| پایلیکونه او څرګندونې | ١٠٥ |

Ketabton.com

# يوه يادونه

دغه رساله مې له نن څخه درې نيم - څلور کاله پخوا هغه وخت ليکلې وه چې په افغانستان کې لا د کمونستانو واکمني وه . په دغو کلونو کې مې د دې رسالې د چاپ امکان پيدا نه کړ او دا دی اوس په داسې حالاتو کې خپرېږي چې په افغانستان کې ډېرې نوې پېښې رامنځته شوي دي ، ځکه خو د دې رسالې په باب د دوو ټکو يادونه لازمه گڼم : لومړی داچې د چاپ په وخت کې مې پر رساله يوه دويم ځلي کتنه کړې خو د رسالې اصلي بڼې ته مې بدلون ورنه کړ او که په « حال » زمانه کې د څه مسايلو د مطرح کولو خبره په کې راغلې وي ، هغې ته به تاسو د درې نيم - څلور کاله پخوا وخت د ليکنې په توگه وگورئ .



Ketabton.com

دویمه خبره دا ده چې دغه لیکنه په داسې نویو حالاتو کې د چاپ زمینه پیدا کوي چې د افغانستان د فرهنګ ، هنر او ادبیاتو په باب او د نن یا راتلونکي په هکله یې ډېر نوي مسایل مطرح دي او داسې پیښې وشولې چې ډېرو شیانو ته یې د شك او پوښتنې نخښې ایښې دي ، په همدې منظور مې د نویو حالاتو په رڼا کې د ځینو فرهنګي مسایلو لنډ جاج اخیستی او د رسالې د ضمیمې په توګه مې په پای کې راوړي دي .

په دې امید چې د راتلونکي لپاره د ترخو تجربو په عنوان ارزښت ولري او د وطن معاصر تراژیك تاریخ یې د فرهنګي تراژیدیو د ځینو اړخونو په توګه ثبت کړي .

په درناوی

زرین انځور

۱۲ حمل ۱۳۷۲



Ketabton.com

# سریزه

د ثور خونړۍ کودتا ، ټول وطن ، د ګران افغانستان ټوله شتمني ، دغه ربړېدلي خو غيرتي اولسونه ، د سره بدمرغه اور په لمبو کې را۔ ايسار کړل . دغې کودتا زموږ د هيواد په معنوي شتمنيو ، ذخايرو او مواريثو هم خپل ناوړه اغيز څرګند کړ .

د ثور د کودتا د لومړنيو غزونو ، د کودتايي منفورو ټانکونو او الوتکو له‌دوزهار او غرهار سره سم ، زموږ د مسلمان ميړني ملت بدمرغي هم پيل شوه . دغه باتور ملت ، له دغه پيل سره ، د يو بل تاريخي ازميښت پيل هم ملګرى کړ ، يو بل ازميښت ته را ولاړ شو . ساړه سنګرونه يوځل بيا تاوده او اورني شول . خوندي شوې توري يوځل بيا له تيکي راووتلې او ټوپکونو يوځل بيا خپل ځانونه د باتورانو لاسونو ته ور ورسول . کودتاچيانو او د پرديو لاس پوڅو پر اولس ناتار پيل کړ . د اولس پر سپېڅلو عقايدو ملنډې پيل شوې . د سپېڅلو



Ketabton.com

عقایدو خاوندان زیاتره د تورو تنبو ، د زندانونو ، د زنځیرونو او پولیگونونو خوراك شول . کودتاچیانو هرڅه د ځان کړل ؛ یوازې دوی وو چې هر څه یې کولای شول ، یوازې دوی وو چې وطن ټول « ویاړونه » باید ورسره تړل شوی وای . یوازې دوی وو چې د هرڅه په باب د صلاحیت لرونکي وو . یوازې دوی وو چې سرونه یې پرې کول او یوازې دوی وو چې « ښه » شاعران ، لیکوال او پوهان او « هر هر څه » وو . نور نو هیچا د هیڅ شي توان ، د هیڅ شي صلاحیت نه لاره .

دلته به د همدغو تراژیکو حوادثو د ادبي اړخونو په باب ځیني حقایق څرگند شي او پر علمي ، فرهنگي ، هنري او ادبي ځینو ساحو او څانگو به د ثور د کودتا تأثیرات په لنډیز سره بیان شي ، خو له دې وړاندې څو ټکو ته اشاره لازمه گڼم :

لومړی خبره دا ده چې دغه رساله ما زیاتره د خپلو ادبي خاطراتو ، د خپل کار د عملي اړخ په څنگ کې د سترگو لیدلو پیښو او نورو معاصرو فرهنگي او ادبي حوادثو پر بنسټ کښلې ده او ځینو هغو اړخونو ته مې گوته نیولې ده چې د ثور له کودتا او له روسي یرغل وروسته پر فرهنگي ادبي بهیرونو څه راغلي او څنگه راغلي دي ؟

دویم ټکی دا دی چې زه دغه رساله د هجرت په دوران کې لیکم . ډیر هغه آثار چې ضرورت ورته لرم ، زما په لاس کې نه شته او ترلاسه کیدل یې هم له ستونزو ډك او حتی د اوس له پاره ناشونی کار دی . ځیني هغه ادبي نمونې چې د دې رسالې په جلا جلا څپرکو کې ما اړتیا ورته لرله ، زما په واك کې نه وې ، ځکه خو له درنو لوستونکو څخه مخکې له مخکې د خپل کار د دغه اړخ د نیمگړتیا په باب معذرت



Ketabton.com

غوښتل لازم گڼم .

دریم عرض دا دی چې زما دغه رساله څه ځانګړې تحلیلي ، انتقادي او اکاډمیکه لیکنه نه ده ، بلکه لکه چې مخکې مې هم اشاره ورته وکړه تر ډېره ځایه پورې د بېلا بېلو پېښو ، فرهنګي او ادبي پالیسیو ، کړنلارو او چلندونو ، عملونو او عکس العملونو یو بیان دی . د دغه بیان د ادبي خاطراتو اړخ تر تحلیلي څېړنیز اړخ څخه زیات دی ، ځکه خو زه دا دعوه نه کوم چې ګوندې ما په خپله دې رساله کې ډېر دقیق ادبي مسایل په انتقادي توګه څېړلي او تاسو ته وړاندې کړي دي . البته د حوادثو د بیان په منځ کې چې په ضمني ډول د کومې موضوع د تحلیل ضرورت پېښ شوی دی ، په لنډه توګه بنایي له تحلیلي او څېړنیزو روښونو څخه هم ګټه اخیستل شوې وي .

هغه څلورم ټکی چې غواړم دلته یې څرګند کړم ، هغه دا دی چې زما دغه رساله ، د ادبیاتو په رابطه د ثور د کودتا غم لړلي حوادث دي . کیدای شي ، د افغانستان د معاصر ادبي بهیر د راتلونکو پراخو څېړنو د ځینو اړخونو د را برسیره کېدلو او څرګندېدلو په درد ولګي ، خو له کښلو څخه یې زما موخه یوازې دا نه وه چې د ماضي حوادثو په عنوان د افغانستان د معاصر ادبي بهیر د تاریخي سیر په توګه یوازې ثبت شي ، بلکه زما یوه عمده موخه ترې دا ده چې دا زموږ د وطن په تاریخ او د وطن په فرهنګي ، ادبي تاریخ کې د ترخو تجربو یو نه هېرېدونکی څپرکی دی . له دغه څپرکي څخه باید د تاریخ د یو درس په توګه استفاده وکړو او د وطن په هغو راتلونکو ادبي هڅو کې باید پاملرنه ورته وشي چې د فرهنګ ، هنر او ادبیاتو په غوړېدلو ، ودې او



Ketabton.com

پرمختیا کې عملي کیږي . دا د دغو ترخو تجربو د ځینو برخو او ځینو اړخونو څرگندول دي او باید په راتلونکې کې هیرې نه شي ، که هیرې شي ، نو بیې د بیا تکرار ویره شته دی .

گوره چې زه به په خپل دغه هدف کې څومره بریالی شوی یم !؟

په درنښت

محمد زرین انځور

۱۴ / ۸ / ۱۳۶۸

پیښور ، کچه گړۍ



Ketabton.com

# د ثور کودتا
# او د ادبي او فرهنګي ټولو
# مؤسساتو او ځانګو بشپړ انحصار

له هماغې ورځې څخه چې د ثور د کودتا ډولونه ، « د ثور انقلاب » په نامه وډنګيدل ، ادبي روان بهير له ګڼ شمير ځنډونو او خنډونو سره مخامخ شو . د سترو او نوميالیو پوهانو او شاعرانو او ليکوالو لاسونه ور وتړل شول ، يابې په زور له لاسونو څخه قلمونه واخيستل شول او يا خو هغوی لازمه ونه ګڼله چې د نهضت او بهير او غورځنګ او انقلاب په نومونو ، د وينو له دغه بهير سره خپل غږونه او خپل قلمونه يوځای کړي . د داسې کسانو پرځای ډيرو بې استعداده کسانو د علمي ، ادبي او فرهنګي مؤسساتو او ځانګو منسؤوليت پرغاړه واخيست . ټول علمي او فرهنګي مؤسسات ګوندیانو د خپل ځان کړل . د ډيرو سترو او مهمو ادبي او هنري ځانګو مسؤولين داسې کسان وټاکل شول چې له هنر او ادبياتو سره يې ابتدايي اشنايي هم نه لرله ، د شعر او ادبياتو د نورو ځانګو په يوه برخه کې يې هم کار نه و کړی . يو ابتدايي شاعر او



Ketabton.com

لیکوال هم نه و او حتی د ډیر عادي او ابتدایي سواد له لرلو څخه هم بې برخې و . په داسې حال کې نو د وطن د فرهنګ د سرنوشت په باب کومه پوښتنه ځکه نه شي را ولاړېدای چې دوی نه د فرهنګ په مانا پوهیږي او نه یې د سرنوشت له مفهوم سره مینه لري .

داسې کسان د شعر ډګر ته راووتل ، داسې کسانو د ادبیاتو وریښمینو لارو ته رامنډې کړلې چې نه د شعر قدر ورسره و ، نه د ادبیاتو د وریښمینو لارو او نه د فرهنګ . داسې کسان د شاعرانو او لیکونکو په نوم را منځته شول چې حتی د دغو دولسو کلونو په اوږدو کې یې تر ننه هم یو شعر ( د شعر او هنر په مفهوم ) نه و ویلی .

پر هرڅه د ګوند او ګوندیانو انحصار پراخ شو . راډیو په لومړۍ ورځ او نورې علمي ، فرهنګي ، هنري ، ادبي او مطبوعاتي برخې ، مؤسسې او څانګې په پرله پسې توګه د ګوندیانو تر مشرتابه لاندې رابښکیل شوې او لکه هغه د دوی مشر چې یې په یوه وینا کې ویلي وو چې : « په ملکي کې له علاقدار څخه نیولي تر ما پورې او په نظامي کې له دلګي مشر څخه نیولي تر ما پورې ټول قومندانان او مسؤولین « سره خلقیان » ټاکل شوي دي ، دغسې چلند د هنر او ادبیاتو په ظریفو او وریښمینو لارو کې هم تر سره شو او نتیجه یې دا شوه چې دغه ښکلې ، دغه ظریفې او دغه وریښمینې او دغه زرینې لارې او څانګې د کودتاچیانو په درنو عسکري بوټانو او د ګوندیانو په کرکجنو او کبرجنو قدمونو ولړلې شوې .

د موضوع له دغو ظواهرو څخه چې را تیر شو په هنر او ادبیاتو کې او په کلیت کې د فرهنګ په پراخو سیمو کې د انحصار اندازه دومره



Ketabton.com

زیاته شوه چې هیڅ معنوي اړخ هم ترې بهر پاتې نه شو ، د هرې ادبي او هنري څانګې ، د هر اثر مضمون او محتوی د ګوند او ګوندیانو د « تنګ نظرانه او متعصب » نظر له مخې ټاکل کیده . پر هرڅه چې به هغوی د « سم » نخښه کیښوده ، هغه سم او سنه او پرځای و . حتی په ډیرو تخصصي څانګو کې هم د هغوی نظر تر بل هر لوړ متخصص اوچت او قاطع و .

د ادبي او هنري آثارو مضمون دومره انحصار وموند ، چې پرته د ګوند او « انقلاب ؟ » او د ګوند د مشر (؟) له ستاینو او د امپریالیزم او سوسیالیزم له وچو سیاسي شعارونو څخه ، بله موضوع او محتوی نه په کې لیدل کیده . ګوند پر هرڅه حاکم شو ، ګوند پر شعر هم حاکم شو ، ګوند پر ټولو ادبي آثارو خپل حاکمیت ته ادامه ورکړه . د لینن د وخت د « ګوندي ادبیاتو » شعارونه تاوده شول . (۱) هرڅه د ګوند په انحصار کې شول . د شعر مضمون ، د هر ادبي اثر مضمون او محتوی باید یو « ګوندي ځوان » ټاکلی وای او په هر ادبي کار کې د هغوی نظر دخیل وای . له دې پرته هیڅ ادبي اثر د چاپ او خپرولو زمینه نه لرله . په ډیرو دقیقو ، تخصصي اکاډمیکو برخو کې هم د دغه انحصار شته والی محسوس و . تل به د « مسؤولو » کسانو له خوا دا توصیې کیدلې چې هرڅه ته باید د « انقلاب (؟) » او ګوند د کړنلارو له مخې وکتل شي . د کلاسیکو ادبیاتو د نومیالیو څیړو په باب هم د دغې کړنلارې په رڼا ( یا په تیاره ) کې یوڅه باید لیکل شوی وای . ویل کیدل به چې د پخوانیو آثارو ته لومړی خو چندان توجه نه ده په کار او که څه پرې لیکل کیږي نو یوازې هغو برخو ته یې باید زیاته پاملرنه



Ketabton.com

وشي چې زموږ په درد خوري (۲) . حتى د گوند د مرکزي کمیټې د وخت د تبلیغ او فرهنگ د څانگې‌یومشر په کراتو دا خبره کوله چې مثلاً د خوشحال خان خټك له کلیاتو څخه موږ ته د « یو څوان خادیست » د خاطراتو چاپول زیات ضروري دي . تاسو وگورئ ، د یو وطن د فرهنگ سرنوشت که د یو داسې چا په لاس کې وي چې د وطن د کلاسیکو ادبیاتو د نامتو شخصیت خوشحال خان خټك د کلیاتو له چاپ څخه ورته د یو جاسوس په باب څه لیکل ډیر ارزښت ولري ، نو آیا د دې هیواد د فرهنگ سرنوشت به څنگه وي ؟ دا یوه واقعي بیلگه ده او حتى د هماغه وخت د تبلغ او فرهنگ د مشر د دغې وینا پر بنسټ په افغانستان کې د خوشحال خان خټك د کلیاتو د چاپ کار په دولتي مطبعه کې وځنډید . تر ننه لا دا کار ځنډیدلی دی او گوره چې تر کومه به ځنډیدلی وي ! (*)

د ثور د کودتا په بیلا بیلو پړاوونو کې موږ دغه انحصار په څرگنده توگه لیدلی شو . البته له دې تیکي څخه باید سترگې پټې نه کړو ، چې د کودتا په پیلامه کې دغه انحصار د جهالت تر حده پورې مضبوط و . د روسانو له یرغل سره سم یې یوه نوې بڼه ومونده او انحصار بیخي په پردیو مشاورینو پورې په مستقیم ډول اړه پیدا کړله . په دې وروستیو وختونو کې یې هم په متفاوتو شکلونو او د لوړو ژورو په لړلو سره ادامه لرلې ده . د دې انحصار اندازه بیا کله زیاته شوې او کله کمه شوې ده خو له موجودیت څخه یې په هیڅ ډول سترگې نه شي پټیدلی .

(*) وروسته خبر شوم ، چې دغه کلیات له لس کلن توقیف وروسته په ۱۳۷۰ هـ ش کال کې چاپ شو . خو کله چې د کمونستي نظام تر سقوط وروسته تنظیمونه پر کابل وروختل د دوی په شخړو کې د اور د لمبو خوراك شو .



Ketabton.com

دغه انحصار د فرهنګ په ټولو برخو کې منفي تاثیرات ولرل . ناوړه ، بدرنګه ، کمزوري او نیمګړي آثار رامنځته شول ، د لوړو او پیاوړو او ښکلو آثارو د را منځته کیدلو تلوسه ونه شوه . یوازې د داسې آثارو د ایجاد زمینه پراخه شوله چې د ګوند د انحصار په حدودو کې به یې اجازه لرله ، او هر وخت چې هنر او ادبیات له دغسې انحصاري فکرونو او حکمونو سره مخامخ شوي دي ، د ښو او لوړو آثارو د را منځته کیدلو لارې یې بندې شوې او ډب شوي دي .



Ketabton.com

# هنراو ادبیات
## که
# وړچ سیاسي شعارونه او کړیکې

د ثور کودتا له پیل سره سم په افغانستان کې هنري او ادبي آثار په بشپړه توګه د دې کودتا ستاینو او اهدافو ته استخدام شول . دغه بې ځایه استخدام ، دغه ناوړه اغیزې ولرلې : .

الف – ډیر وسترو او نومیالیو لیکوالو له څه لیکلو څخه لاس واخیست . دا ځکه چې هغوی نه غوښتل چې ادبي آثار دې یې د یو داسې هدف له پاره استخدام شي . هغوی له دغه هدف سره بنسټیز مخالفت لاره ، د بیان له داسې ډول سره یې مخالفت و او نه یې غوښتل چې د ګوند په دغو فرمایشونو او د ساتیرو خپل قلم « داغي » کړي .

ب – ډیر بې استعداده کسان د لیکوالو په نوم را میدان ته شول . داسې کسان چې د ادبي آثارو د ایجاد توان ورسره نه و ، د ادبیاتو په نوم یې داسې څه چاپ او خپاره کړل چې هیڅ راز هنري ارزښت یې نه درلود . که د دغسې شاعرانو او لیکوالو لیکنو به هر څومره کمزورۍ او



Ketabton.com

نیمګړتیاوې لرلې ، هیڅ‌چا یې د چاپ او خپرېدنګ مخه نه شوه نیولای .
په دغو سطحي آثارو هیڅ‌چا د نقد او کره کتنې لیکلو ته زړه نه شو ښه
کولی . یا خو به د ستاینو له پاره تقریظونه پرې لیکل کېدل او که کوم
چا به ډېره ضمني او په اشارو کې هم انتقادي خبره وکړله نو بیا به له ډول
ډول اخطارونو او خطرونو سره مخامخ و .

ج - په دغه ډول استخدام کې د هنري او ادبي آثارو لوړ او منلي
هنري او ادبي ارزښتونه له بیخه هیر شول اوزیاتره هنري - ادبي آثار
په وچو سیاسي شعارونو او تبلیغاتي بې ارزښته ټوټو بدل شول . په
دغسې وچو سیاسي شعارونو کې حتی د ادبیاتو ډېر لومړني اصول او
معیارونه هم نه لیدل کېدل . یوازې د مظاهرو او سټیجونو د « مړه دې
وي ! » او « ژوندي دې وي ! » کړیکو او نارو د ادبیاتو ، د شعر او
کیسه لیکنې پاکه ، خوږه او رنګینه فضا ور بدرنګه کړې او ګردجنه
کړې وه . له سیاسي شعارونو څخه دلته زموږ موخه هغه ډول ادبي آثار
نه دي چې ګوندې د کوم سیاسي او اجتماعي هدف له پاره به شعر یا
کوم بل ادبي ډول استخدام شوی وي ، نه داسې نه وه ، هغه اثر به په
هیڅ ډول د ادبي - هنري اثر ابتدایي ځانګړنې هم نه لرلې . د ادبیاتو او
سیاست د تړون او بیلتون مسأله د ادبیاتو په تیوریک بحث کې یوه په
زړه پورې موضوع ده چې اوس پرې دلته د خبرو ځای نه دی ، خو هغه
څه چې دلته ترې زموږ هدف دی ، هغه دا دی چې په داسې آثارو کې
یوازې وچ شعارونه وړاندې کېدل .اد بي ارزښت هیڅ نه په کې لیدل
کېده او د یوې تبلیغاتي ټوټې بڼه یې لرله . دغسې ادبي ډوله لیکنو
له ژورنالیستیکي لیکنو سره چندان توپیر نه لاره او خبر ډوله ،



Ketabton.com

راپورتاژ ډوله او سیاسي بې مانا مقاله ډوله لیکنې به هم د ادبیاتو او ادبي آثارو په عنوان وړاندې کیدلې .

د – د « تعهد » او « التزام » او « رسالت » او « مسؤولیت » په تشو نومونو دومره تکیه وشوه چې که هرڅوك به يې له پامه بد راغلل نو هغه لیکنه به يې له تعهد او رسالت څخه بیرون گڼله ، پر سبو او وتلیو لیکوالو به د دغو او هغو تشو مقولو د تورونو پنډونه ور وتړل شول او هره مبتذله لیکنه به د انقلابي او رسالت لرونکې او متعهدې لیکنې په عنوان د لوړو آثارو په کتار کې ځلول کیده .

هـ – په ادبي او هنري ډگرونو کې سر سریتوب او سطحي توب په یوه ساري رنځ بدل شو . د شعر په نوم داسې منظوم او نیمه منظوم آثار را منځته شول چې حتی نظمونه هم نه وو ، پاتې خو لا شعرونه . دومره سر سري لیکنې د ادبي آثارو په نوم او ادرس خپرې شولې چې حتی د عادي ژورنالیستیکو لیکنو په معیار هم برابرې نه وې . اوس چې کله هغه شعرونه او هغه ادبي لیکنې خپلې مخې ته څوك کيږدي ، نو د وخت د تیرولو او ملنډو له پاره ډیر سبه دي او بس .

دا هغه ناوړه تأثیرات وو چې د هنر او ادبیاتو په بیلا بیلو څانگو کې د سیاسي او وچو تبلیغي شعارونو د خاورو او دوړو د ناڅاپه ورگډیدلو له امله را منځته شول . دغه سیاسي شعارونه که به په کومه لیکنه کې نه وو ، نو په ډیره بده سترگه به ورته کتل کیدل . دغه وچ سیاسي شعارونه د ادبي آثارو د چاپ او خپریدنگ په یوازینی لاره چاره بدل شول او بیا که به هرچا څه ولیکل ، په پای کې به يې د یو څو « مړه دې وي او ژوندي دې وي » ، « مرگ پر هغه او ژوند پر دغه »



Ketabton.com

شعارونه ور ونښلول او بيا به يې نو چا د چاپ مخه نه شوه بندولی .

کله چې ادبيات له يو داسې سرنوشت سره مخامخ شي ، کله چې د يوه وطن د ادبياتو پر سمسور بڼ د وحشت او بربريت يو داسې توفان راشي او کله چې د يو هيواد د ښکلي ، رنګين او پياوړي ادبي بهير ستونی د وحشت او جهل په منګولو خپه شي ، نو څنګه به په يو داسې دوران کې د ښکلو او منلو آثارو ايجاد او خپرېدلو ته څوك سترګې په لاره واوسي ؟

په داسې وخت کې د افغانستان معاصر ادبي بهير له سخت ابتذال سره مخامخ شو او دا د کودتا د پيل داسې يو پړاو و چې ډېرو په فرهنګ او وطن زهيرو ليکوالو هم لا د ابتذال پر ضد خپل غږ نه شو اوچتولی ، د دې کار له پاره لاوخت لازم و او البته په خپل وخت کې دا کار تر سره هم شو .

د سياسي شعارونو په بهيرونو کې په ادبي زياترو آثارو کې يو ډول روحيه موجوده وه . د ډېرو آثارو مضمون او محتوی يو ډول شوه . لکه ټول آثار چې يو تن ليکي . هرڅه په کليشو او چوکاټونو بدل شول . ابتذال خپل اوج ته ورسيده او د ليکوالو او شاعرانو خپل « انفراديت » چې په هنري – ادبي آثارو کې لازمي څيز ګڼل کيږي ، تری تم شو . ادبي ليکنې په مبتذلو کليشو او چوکاټي بحثونو بدلې ږشوې .



Ketabton.com

# پر ټولو ادبي - فرهنګي افتخاراتو د خيټې اچول

د افغانستان پر معاصر ادبي بهير د ثور د کودتا د ناوړه تأثيراتو په لړ کې يو ډير د پاملرنې وړ ټکی دا دی چې کودتاچيانو حتی د علم ، فرهنګ او ادبياتو په بيلا بيلو ساحو کې هم ټول افتخارات په ظالمانه توګه خپل ځان ته منسوبول . له کودتا سره سم داسې تبليغات پيل شول چې د دې وطن د مبارزې او نهضت د بهيرونو ټول افتخارات « د افغانستان د خلکو دموکراتيک ګوند » پورې مربوط دي چې همسې په نامه يې د خلکو او دموکراسۍ کلمې په ځان پورې تړلې وې . په پيلامه کې د « تره کي » له پاره پراخ تبليغات پيل شول . هغه نابغه هم شو ، ستر ليکوال هم شو ، وتلی فيلسوف هم شو او د مبارزو او نهضتونو ستراتيژيست هم ، نوميالی سياستمدار اورهبر هم . په دې يې هم لا زړه سوړ نه شو ، په بې شرمانه توګه يې د خلکو او روښانفکرانو په سترګو کې خاورې او ايرې ور واچولې او « تره کي » بيا په ټول



Ketabton.com

افغانستان کې د معاصرو نهضتونو مخکښ شو . د « ویښو زلمیانو » د نهضت مشر هم شو او د « انګار » د جریدې مؤسس هم دی شو . په داسې حال کې چې د « ویښو زلمیانو » د نهضت زیاتره غړي لا ژوندي وو او د دې نهضت مؤسسینو به هم په خپلو غوږونو اوریدل چې هغه دی مور خو په هغه وخت کې نه وو خبر خو اوس یې مشري د بل چا شوه (!) ټول پوهیدل چې هغه په « ویښو زلمیانو » کې یو عادي غړی و او هیڅکله د « انګار » جریدې مؤسس هم نه و . حتی له عادي تبلیغاتو څخه هم دا خبره تیره شوه او څو څو ځلې په بیلا بیلو آثارو او مقالو او کتابونو کې دا وکښل شول چې « نورمحمد تره کي » د « ویښو زلمیانو » د غورځنګ مؤسس او مشر او د « انګار » جریدې مؤسس و ، هرځل چې به دا خبره چرته واوریدل شوه ، نو ناستو کسانو به یو بل ته سره په سترګو کې وکتل او د سترګو په مرموزو کتو کې به یې خبرې سره وکړلې چې « آخر دې بې شرمۍ ته څه ضرورت و ! » او په کوم ځای کې چې به څوک خللي نه و نو بیا خو به ټولو د دغې خبرې له اوریدو سره وخندل او د دوی په بې شرمۍ به یې ملنډې ووهلې ، خو دوی لا هماغسې جعلیاتو ته ادامه ورکوله . خپله هم پوهیدل چې دروغ وایي او په دې هم پوهیدل چې نور ټول کسان هم زموږ په دروغو پوهیږي ، خو بیا به یې هم د واقعیتونو پر مخ د دروغو څادر غوړاوه او په ناحقه به یې غوښتل چې که داسې په دروغو دروغو ټول افتخارات په ځان پورې وتړو ، نو کیدای شي چې یو وخت « خلك » باور پرې وکړي .

د دغه ډول بې شرمیو او سپکورو دروغو یوه بله نمونه یې دا ده چې



Ketabton.com

د کودتا له پیل سره سم داسې تبلیغات پیل شول چې په افغانستان کې د ظلم ، استبداد ، ستم او بدمرغۍ په وړاندې د مبارزې یوازینی یو گوند موجود و او هغه همدغه د خلقیانو او پرچمیانو « د افغانستان د خلکو دموکراتیک گوند » و . بل نو هیڅ کوم گوند یا سیاسي سازمان نه و موجود . وروسته یې خبرې ته یو بل رنگ هم ورکړ او دا یې لا پسې زیاته کړله چې پرته د خلقیانو او پرچمیانو له گوند څخه بل سیاسی سازمان نه و موجود او کیدای شي چې کومه یوه نیمه ډله ټپله به وه چې په خاینانه اعمالو بوخته وه . د ببرک کارمل په وخت کې هم دا خبره ډیره توده شوه . په څو مطبوعاتي مرکو کې بهرنیو ژورنالستانو له هغه څخه پوښتنه وکړله چې آیا د ثور له کودتا مخکې په افغانستان کې کوم بل سیاسي سازمان موجود و او که نه ؟ او هغه په قاطع توگه ځوابونه ورکول چې : نه نه ، یوازینی پیاوړی سازمان همدغه زموږ سازمان و او نور نو پخوا هم او اوس هم په افغانستان د خلکو د دموکراتیک گوند څخه پرته کوم بل گوند او سیاسي سازمان نه شته دی .

بیا هم ټول په دې پوهیدل چې دی درواغ وایي ، دغسې مسایل څه د تاریخ د پاڼو د ریسرچ موضوعگانې خو نه وې . د اوسني دوران نژدې تاریخي او سیاسي حوادث وو او حتماً د وطن ټول زلمي هم په دغو معاصرو سیاسي حوادثو کې یا دخیل وو او یا یې له نژدې اشنایي ورسره لرله ، ټولو ته د افغانستان د معاصرو سیاسي هڅو په باب بشپړ معلومات وو ، نو بیا به یې هم پر ټولو واقعیتونو درواغجنه پرده اچوله .

که له دغسې زیاتو مسایلو څخه را تیر شو او نورې داسې نمونې پرځای پریږدو چې دا ټکی ترې ښه را څرگند شي چې څنگه خلقیانو او



Ketabton.com

پرچمیانو غوښتل په سپین سترګی سره ځیني افتخارات ( او کله کله خو هسې تش په نامه افتخارات ) خپل ځان ته منسوب کړي ، د ادبیاتو په برخه کې به خبره یو څه نوره هم تم کړو .

ادبیات ، د غه د ټولنې اروا ، دغه د ټولنې عاطفه ، دغه د اولس معنویت هم له بده مرغه چې د کودتا په دوران کې له ملنډو سره مخامخ شول . پر ټولو ادبي افتخاراتو هم د خیټې اچول پیل شول . « تره کي » بیا هم د افغانستان د معاصرو ادبیاتو د یوازیني مخکښ شخصیت (؟) په توګه تبلیغ شو . هغه و چې معاصر ادبیات یې نویو لارو ته سم کړل . هغه د ریالیستي ادب پلار شو . د هغه آثار په افغانستان کې هغه « منحصر په فرد » آثار وګڼل شول چې د افغانستان په ادبي تاریخ کې په هیڅ دوران کې هیڅ کوم بل ادبي شخصیت داسې آثار نه وو کښلي او نه به په راتلونکي کې داسې آثار څوك ولیکلی شي . د « تره کي » د آثارو له پاره پراخ تبلیغات پیل شول . د هغه آثار په لوړ تیراژ او ښکلی قطع او صحافت چاپ شول . د افغانستان په ټولو ژبو د هغه د آثارو د ژباړې کار پیل شو . په بهرنیو ژبو د هغه د آثاروژباړه پیل شوه او ځینو ځان ساتو او د ورځې د نرخ لیکوالو د هغه آثار د ډیرو سترو ادبي ارزښتونو لرونکي وګڼل . هغه ارزښتونه یې دې آثارو ته ورکړل چې هیڅکله به یې په برخه نه شي . دا هغه آثار وو چې په خپل وخت کې د کره کتونکو او د معاصر ادبي تاریخ د لیکوالو له پاره د غور وړ وو ، خو نه د داسې مبالغو ستر آثار . د نورمحمد تره کي د علمي او ادبي شخصیت په باب دومره ډیرو زیاتو مبالغو ، په حقیقت کې د نوموړي د ادبي آثارو خپل واقعي ارزښتونه هم تر خاورو لاندې کړل .



Ketabton.com

نورمحمد تره کی د پښتو ناول یو مشهور لیکوال و . د هغه په اندازه لا بل چا پښتو ناولونه نه وو کښلي ، د غسې يې يو شمير لنډې کيسې هم ليکلې وې . دغه آثار له دې امله د پاملرنې وړ وو چې تر هغه وخته پورې لا په پښتو ادبياتو کې دغو ادبي ډولونو ته چا دومره توجه نه وه کړې . همدارنګه د تره کي په ناولونو او کيسو کې د پښتنو د کليوالي ژوند نسبتاً په زړه پورې تصوير پروت و او ځانګړيو لهجوي خصوصياتو يې آثارو ته په زړه پورې خصوصيت وربخښلی و ، خو حقيقت دا دی چې دغو آثارو ګڼ شمير نيمګړتياوې هم لرلې . سره له دې چې د طبقاتي مسايلو په مطرح کولو کې دا د پښتو له لومړنيو آثارو څخه ګڼلی شو ، خو دغه موضوعات په دومره افراطي توګه په دې آثارو کې راغلي دي چې له افغاني ټولنې سره اړخ نه لګوي او يوازې کليشه يي او چوکاټي خبرې دي .

د نوموړي د شخصيت او آثارو په باب افراطي ستاينو او مبالغو په حقيقت کې د نوموړي د آثارو هغه رښتيني د غور وړ اړخونه هم د خلکو له سترګو پټ کړل .

په افغانستان کې په معاصر ادبي بهير کې بل هيچا ته دا حق نه و حاصل چې د معاصر ادبي بهير د مخکښانو او نوميالیو شخصيتونو په نوم يې چيرته ضمني شانته يادونه هم وشي . دا ځکه چې ټول افتخارات د « رهبر » په برخه وو او دغه وياړونه بايد ويشل شوي نه وای .

د ۱۳۵۷ هـ ش کال د قوس په ۲۸ نيټه د افغانستان د نوميالي اديب او حقدار ليکوال او شاعر اروانباد استاد ګل پاچا الفت د مړينې د لومړني تلين په مناسبت د راډيو افغانستان د هنر او ادبياتو د اداري



Ketabton.com

د « کره کتنې » په خپرونه کې د هغه ارواښاد استاد د ژوند او شعر په باب یوه ډېره په زړه پورې خپرونه وړاندې شوله خو په هماغه شپه د « تره کي » له خوا د وخت د اطلاعاتو او کلتور وزیر احضار شو او د دې خپرونې له امله یې سخت وراټه . په خپرونه کې د افغانستان په معاصرو ادبیاتو کې د اروښاد ګل پاچا الفت د هغه دریځ په باب په زړه پورې خبرې شوې وې چې هغه یې حقدار او لرونکی و . « تره کي » نه غوښتل چې پرته له هغه دې دا افتخارات د کوم بل چا په نصیب شي او له همدې کبله د هغه په امر د خپرونې لیکوال او نورو دخیلو کسانو ته جزا (؟) ورکړله شوه ( ۵ ) له دې وروسته نو د استاد ګل پاچا الفت نوم په راډیو ، تلویزیون او مطبوعاتو کې سانسور شو او په هغه پورې د « نابغه » له خوا داسې « تور تورونه » ور وتړل شول چې زه یې حتی یو داسې نومیالي او حقدار ادبي شخصیت ته د درښت له امله یادونه هم نه شم کولی . د نورو حقدارو لیکوالو په باب هم له دې وروسته سخته ځان ساتنه او محافظه کاري پیل شوه او بل هیچا ته کوم افتخار نه شو ور په برخه کیدلای . له مړینې وروسته یې ټول افتخارات هم ورسره مړه شول او بیا نو د ستاینو او مخکښۍ له پاره نور کسان پیدا شول .

د سوسیالستي ریالیزم او نورو « ریالیزمونو » مخکښان نور کسان شول او داسې خو د سیاسي څوکیو له بدلیدلو سره ادبي او هنري دریځونه هم بدلیدل ، را بدلیدل .

د یو وطن ادبیات چې داسې د سیاسي مقامونو او حکومتي څوکیو له بدلیدلو ، را بدلیدلو سره ځیرې بدلې کړي او داسې چې د وطن په یو ستر معنویت د څوکیو او مقامونو خاوندان خیټې واچوي نو دا څومره د



Ketabton.com

بدمرغۍ خبره ده . په داسې حالاتو کې سمه ده چې څو ورځې به د تبلیغاتو لړۍ پرې جاري وي ، خو هیڅکله به د ادبي تاریخ تلپاتې پاڼې د داسې کسانو نومونو ته په خپلو پاڼو کې ځای ورنه کړي او که ځای هم ورکړي یوازې د خپل موقعیت او اصلي ارزښت په رڼا کې ، نه د پراخو تبلیغاتو په وړانګو کې ، او د غه غضب او ناروا ته به یې تل خلك په بده سترګه ګوري .

ادبیات ، ادبي افتخارات او د فرهنګ تاریخي ویاړونه په مجموع کې د یو ملت شتمني ده . هیڅوك حق نه لري چې د غه ستره او له ویاړه ډکه شتمني د وطن پرځای ، د یو شخص او یو ګوند په افتخاراتو کې حساب کړي ، هیڅوك حق نه لري چې د هیواد د تاریخ ، د معنویت دغه اړخونه یوازې د یو چا او یا یو مشخص ګوند په انحصار کې راولي . دا په فرهنګ د خیټې اچولو مانا لري او د یوه هیواد پر ټوله شتمنۍ . په افغانستان کې له ادبیاتو سره ، له ادبي او فرهنګي تلپاتې افتخاراتو سره همداسې وشول او کمونستانو د دې پرځای چې دغه ویاړونه د ځان کړي ، دومره یې وکړل چې د ادبي سمسورتیا او ودې مخه یې د یو څه وخت له پاره ونیوله ، خو ځانونه یې هم د اولس او د سباني نسل د خندا کړل . له دغسې چلندونو څخه باید موږ عبرت واخلو ، زموږ راتلونکي نسلونه عبرت ترې باید واخلي او د ادبیاتو په پراخو زمینو کې ، د تعصب ، تنګ نظرۍ ، انحصار او نورو ناوړو چلندونو او اندونو سره د یو ملت ادبیات له ابتذال ، سطحي ګرايۍ ، وچو سیاسي کلیشو او مخ پر ځوړ روانیدو سره مخامخ کیږي . موږ په خپلو سترګو دا هر څه ولیدل او موږ ټول د دغه ډول تراژیډیو عیني شاهدان وو ، بیا تکرار به یې ستره فاجعه وي او په بل هر نوم که تکراریږي ، پایله به یې هماغسې وي .



Ketabton.com

PROPERTY OF ACKU
3381

# د لیکوالو او شاعرانو
## سپکاوی ، زنداني کول
## او د نومونو او آثارو سانسور

.

د ادبیاتو په ساحه کې د ثور د خونړۍ کودتا د تراژیدۍ یو بل دردوونکی اړخ دا دی چې له بده مرغه د دې تراژیدۍ په هره پانه کې د ادبیاتو د بیلا بیلو برخو درانه شخصیتونه او درنې ستې بې عزته او تحقیر شوي . دغه درانه علمي - ادبي شخصیتونه د داسې ادب دښمنو له خوا تحقیر شول چې د ثور له کودتا مخکې چا د لیکوالو ، شاعرانو او ادیبانو په ډله کې هسې شمیرل هم نه ، خو له کودتا سره سم هم د علم ، هم د ادبیاتو او هم د فرهنگ په بله هره برخه کې تږي متخصصین او د نظر خاوندان جوړ شول.د ادبیاتو د بهیر جرس هم د داسې چا گوتو ته ورغی چې نه د لیك او قلم قدر ورسره و او نه د لیکوال او قلموال ، د سرسري ، وچو او مبتذلو شعرونو خاوندان د لویو شاعرانو په نوم معرفي شول او نومیالي شاعران د هیرتابه اړخ ته پاتې شول . پیاوړو ادبي څیرو ته نه یوازې دا چې پاملرنه ونه شوه ، هغوی تحقیر شول ، د



Ketabton.com

آثارو د خپریدلو مخه یې ونیوله شوه ، د هغوی د آثارو په متن او محتوی او فکر کې د بندیز او مداخلې تکل وشو ، هغوی د زندانونو او زنځیرونو ملګري شول او ډیر خو یې د تورتم له دغو وحشي زندانونو څخه بیا را بهر هم نه شول .

په لومړي قدم کې د سپکاوي بهیر پیل شو ، هر هغه اثر چې په مطبعه کې بشپړ چاپ و ، هغه آثار یا د اور لمبو ته واچول شول ، یا په تحویلخانو کې بندیان شول او یو شمیر آثار یې د کتابونو لیکوالو ته د بشپړ سپکاوي په منظور له یوې تحقیروونکې سریزې سره له مطبعې را-ووتل . په دغه سریزه کې به د کلمو په بدلون داسې څه لیکل شوي وو :

« دغه کتاب د ثور له ویاړلي او پرتمین او ستر او لوی او ... انقلاب څخه پخوا لیکل شوی او چاپ شوی و . لیکوال یې تیروتنې هم کړې دي . زموږ لیکوالو د ثور له انقلاب پخوا حقایق نه شول لیکلی . اوس د حقایقو د لیکلو وخت را ورسید . خو موږ دغه اثر په خپل اصلي شکل د ثور له انقلاب څخه د پخوا وخت د اثارو په عنوان هسې له مطبعې راباسو او ستاسو قضاوت ته یې پریږدو ... » (٦)

او دغه ډول لیکنې د ارزښتناکو علمي - ادبي آثارو په پیل کې ورونښلولې شوې ، لیکوال یې تحقیر کړل او دا په مجموع کې د ادبیاتو تحقیر و .

په محافلو کې غیر ګوندي ، هیوادپال او مسلمان عناصر تحقیر شول او حتی د ادبیاتو یو ډاکتر چې نوی واك ته رسیدلی و ، په محافلو کې یې مخامخ هغه کسان چې خلقیان نه وو ، تحقیر یې کړل او نورو زلمو ته یې امر وکړ چې په محافلو کې داسې کسان مه را غواړئ ، نور نو د



Ketabton.com

دوی دوران تیر شوی دي . د ادبیاتو د معاصرو نومیالیو شخصیتونو په وړاندې له پوره بې اعتنایي او سپکاوي څخه کار اخیستل کیده . تکړه لیکوال او هنرمندان به په زوره له دفترونو څخه داوطلبانه ( جبري ) کار او مظاهرو او میتنگونو ته بیول کیدل . یو خلقي ځوان به لښته په لاس دفتر او دهلیز په دهلیز گرځیده اوټول کسان به یې له کاره د بې کارۍ خواته کش کول . که به چا سرغړاوی وکړ نو بله ورځ یې سرنوشت بیا بل ډول و . د علومو د اکاډمۍ لوی لوی علمي شخصیتونه به یو ناا هله او بې سواده زلمي د داوطلبانه کار او مظاهرې په نوم له ځانه سره مخکې کړي وو .

علمي او ادبي شخصیتونه په یو او بل نوم ونومول شول ، هغه او دغه تورونه ور پورې ور وتړل شول ، په یوه او بله بهانه له کاره گوښه کړای شول او یا خو هوښیارو کسانو ځانونه خپله یوې گوښې ته کړل .

د سپکاوي له بهیر سره د تعقیب او تحقیق او زنداني کیدلو او تورتم ته د سپارلو لړۍ هم پیل شوه . دا یوه ډیره بدمرغه لړۍ وه . د ثور کودتا په پیلامه کې را پیل شوه او د ۱۳۵۷ هـ . ش.کال پای او د ۱۳۵۸ هـ . ش.کال لومړنۍ څو میاشتې یې د اوج دوران و . وروسته یې هم دوام وکړ خو د اوج په دوران کې یې گڼ شمیر هیوادپاله عناصر، مسلمان افغانان او روښانفکران په یوه او بل بهانه زندان ته واچول چې ډیر په کې د زندان د خونړي ښامار خوراك شول .

په دغه لړ کې د افغانستان یو زیات شمیر پوهان ، د پوهنتون استادان ، ښوونکي ، هنرمندان ، شاعران او لیکوال هم شامل وو . د لیکوالو او شاعرانو په لړ کې کیدای شي د بیلگې له پاره دغه نومونه



Ketabton.com

واخلو :

محمدجان فنا ، عارف تسل ، امان الله سیلاب ، محمد موسی شفیق ، بسم الله کمکی ، پائیز حنیفی ، محمدشاه ارشاد ، عبدالهادی هدایت او یو زیات شمیر نور .

د زندان ټولې ناخوالې یې پر دغو فرهنګیالیو ، لیکوالو او شاعرانو تیرې کړې او بیا د زندان د خونړې سره ښامار له خولې را ونه وتل .

د لیکوالو او شاعرانو د نومونو او د ادبي آثارو سانسور د دغه وخت یو بل « سوغات » و . کودتاچیانو د ګوندیتوب او خلقیتوب معیارونو څخه ډیر لږ عدول ته هم په لیکنو کې اجازه نه ورکوله . هرڅ باید په اصطلاح د « علمي ایډیالوژۍ » په رڼا کې کښل شوي وای . آثار په پریمانه توګه سانسوریدل . شعرونه او کیسې په پراخه توګه سانسوریدلې . هر هغه څه چې به د ګوندي « مسؤول » خوښ نه شول ، هغه به یې یوې خواته وغورځول او زیاتره خو به یې لیکوال پرې تهدید هم کړ .

د افغانستان د نومیالیو لیکوالو او شاعرانو نومونه او آثار سانسور شول . حتی د مشهورو سندرو وروستۍ برخه به د دې له پاره قطع کیدله چې د سندرې د شعر په پای ( مقطع ) کې به د کوم شاعر نوم اخیستل شوی و . تر هرڅه یې لا جالبه دا وه چې دغه بندیزونه ، خنډونه او سانسورونه د داسې کسانو له خوا تر سره کیدل چې نوي به یوې څوکۍ ته رسیدلي وو . د ادبي-هنري آثارو د ارزښتونو او خصوصیاتو په هکله به له عادي مسایلو څخه هم نه وو خبر ، خو ځانونه به یې په هرڅه پوه ګڼل ، داسې چې ګوندي په نوې تیورۍ او نوې ایډیالوژۍ سمبال دي او پرته له دوی څخه نور څوک په هیڅ هم نه



Ketabton.com

پوهیږي . نور ټول ز وړ او تکراري فکر کوي او دوی د نوي مترقي (؟) ایډیالوژۍ او تیورۍ او نظریاتو په رڼا کې د هرڅه په باب ژور او هر- اړخیز فکر کولی شي .

ادبي لیکنې ، مقالې ، تحقیقي او ادبي تیوریك ژور مسایل به د سطحي او د عادي سواد لرونکو کسانو ارزیابي کول او د هغوی د چاپ او نه چاپ حکمونه به یې چلول چې په ادبیاتو کې د ریالیزم او سور- ریالیزم په مانا هم نه پوهیدل . کوم چا حتی د « نوي فکر او نوي ایډیالوژۍ » په رڼا کې یوه مقاله لیکلې وه . په هغه مقاله کې د اروپا د ادبي مکتبونو په باب څه خبرې شوې وې . په یوه برخه کې بحث د « ریالیزم » او « سور ریالیزم » په باب را گرځیدلی و . لیکونکي د ریالیزم په مقابل کې سور ریالیزم غندلی او د دې ادبي مکتب د پلویانو په باب یې انتقادي خبرې کړې وې . د سانسور او دقیقې ارزیابۍ د ځوان نورو خبرو ته فکر نه و رسیدلی خو د ریالیزم او سور ریالیزم نومونو ته متوجه شوی و . د یادې شوې مقالې لیکونکي ته یې قهر را- پاریدلی و . هغه یې ځانته احضار کړی او تهدید کړی یې و چې څنگه دې د سور ریالیزم غندنه کړې ده او یوازې ریالیزم دې تائید کړی دی ؟ هغه ځوان ته سور ریالیزم له ریالیزم څخه د مترقي ایډیالوژۍ په رڼا کې لا مترقي او پرمختللی ښکاره شوی و او سور ریالیزم یې د ریالیزم سور شکل یعنی سور ( د رنگ په مفهوم ) ریالیزم شمیرلی و او په هغه مقاله یې یوه لویه چلپا راکښلې وه .

د ۱۳۵۹ هـ . ش .کال یوه جالبه حادثه هم په دې برخه کې د یادونې وړ ده . کوم چا د راډیو د کوم ادبي پروگرام له پاره د نړۍ د مشهور



Ketabton.com

ليکوال ارنست همينګوی په ډېر مشهور او وتلي اثر « له وسلې سره مخه ښه » په باب يوه معلوماتي او علمي مقاله ليکلې وه . د ارزيابی او څېړنې يو مسؤول شخص چې څنګه دغه مقاله ليدلې وه نو نه د ارنست همينګوی د نوم په باب څه خيال ورغلی دی او نه يې نورې مقالې ته فکر شوی دی . د مقالې سرليک هغه ډېر قهرولی او را پارولی و . د سر ليك له ليدلو سره سم يې د مقالې پر څنډه ليکلي وو :

« موږ کله له وسلې سره مخه ښه کړې ده ؟ اوس له وسلې سره د مخه ښې وخت نه دی . داسې مقالې بايد څوك ونه ليکي، د خپرېدلو وړ نه دي ... »

سانسور د داسې کسانو په لاس کې و . د افغانستان د سترو ليکوالو او معاصرو نوميالیو څېرو آثار بايد همدغسې کسانو ارزيابي کړی وای . د لوړو آثارو ارزښتونه بايد همداسې کسانو ټاکلی وای . دا د تراژيدۍ څومره غمجن اړخ دی . که د کوم چا به هسې د يو چا له نامه څخه هم بد راتلل ، که کوم چا به په پخوا وخت کې له دوی سره ستړی مشی هم نه وو کړي ، نو د آثارو د سانسورولو او د نوم د سانسورولو له پاره به يې ډېرې بهانې موجودې وې . په دې برخه کې هيڅ ډول دلايلو ته هم اړتيا نه ليدل کيدله .

په ډېرو علمي او اکاډميکو مسايلو کې هم دغه د سانسور تور جال خپور و . په يوه علمي ، تحقيقي موضوع کې به دې د سانسور شوي ليکوال ، محقق او مؤرخ او شاعر « نقل قول » نه شو راوړلی او که راوړلو به دې نو د هغه شخص نوم دې نه شو يادولی ، ځکه چې بيا مقاله نه خپرېدله . په ځن ليك کې هم د داسې کسانو د نومونو اجازه نه وه .



Ketabton.com

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د « کابل » مجلې له پاره یو ښاغلي لیکوال د مجلې څلوېښت کلن فهرست په ډېر کړاو تهیه کړی و . په هغه فهرست کې د داسې کسانو نومونه زیات وو چې اوس سانسور شوي وو . د نمونې له پاره د استاد عبدالرحمن پژواک نوم زیات په کې راغلی و او لکه څنګه چې د فهرست لیکنې اصو ل دي ، هغه لیکوال او محقق او حتی بل هیچا دا حق نه لرلو چې د فهرست لیکنې له اصولو څخه یې سرغړاوی کړی وای او خپله یې نومونه سانسور کړي وای . په هغه ټاکلې برخه کې د استاد پژواک د نوم له خاطره ټول فهرست سانسور شو.

لیکوال یې دې ته هم حاضر شو چې د استاد عبدالرحمن پژواک نوم په مخفف ډول « ع . پ » ولیکي خو حتی د داسې مخفف نوم د چاپ اجازه هم ورنه کړل شوه . د هغه لیکوال ټول کړاو بې ځایه لاړ او فهرست چاپ نه شو .

دا یوازې څو نمونې وې . په هره ورځ کې او په هره برخه کې داسې نمونې زیاتې وې . دا د اولس د عمومي بدمرغۍ په څنګ کې د ادبي بدمرغۍ یوه نه هېرېدونکې تراژېدي باید وشمېرل شي .



Ketabton.com

# په دویم پړاو کې

## د بردیتوب نوري نښې نښانې

د ثور د کودتا دویم پړاو هغه وخت پیلیږي چې د روسانو مستقیم پوځي یرغل پیل شو . روسانو زموږ ګران وطن په مستقیم ډول په خپلو سرو پوځونو اشغال کړ .« ګوندیانو » دغه پړاو ته د ګوند او خلکو د نجات د پړاو نوم ورکړ ، خو دا په حقیقت کې د تراژیدۍ یو بل داسې پړاو و چې زموږ په هیواد کې یې د وینو رودونه نور هم زیات کړل او زموږ مسلمان ملت ته یې ډیرې بدمرغۍ را مخې ته کړلې . ټولې وروستنۍ بدمرغۍ د دغه اشغال نتیجه ګڼل کیدای شي . زموږ قهرمان ملت د دغه پوځي مستقیم تیري په وړاندې را پاڅید ، او د افغانستان د ملي - اسلامي جهاد په لاره کې هر ډول سربښندنو ته چمتو شو .

دغه په اصطلاح « نوی پړاو » په افغانستان کې د ادبیاتو او فرهنګ په بیلا بیلو ساحو کې هم « نوي سوغاتونه » له ځان سره ولرل . دغو « سوغاتونو » زموږ ادبي بهیر له نویو بدمرغیو سره مخامخ کړ



Ketabton.com

چې دلته به په پرله پسې ډول د نوي پړاو ، دغو نویو سوغاتونو ته لنډې لنډې اشارې ولرو :

۱ – له نوي پړاو سره سم د افغانستان په ادبي روان بهیر کې د پردیتوب نښې نښانې نورې هم زیاتې شوې . د سرو لښکرو توپان پر ټول هیواد راغی او پر ادبي بهیر یې هم خپل تأثیرات ولرل . د وطن ګڼ شمیر لیکوال ، شاعران ، هنرمندان ، پوهان او د فرهنګ د ساحې نور وتلي کسان له هیواد څخه راوتلو ته اړ شول . دننه په افغانستان کې ادبي ډګرونه ، د مطبوعاتو برخې او نورې فرهنګي ساحې په بشپړه توګه د روسانو او روسي « مشاورینو » لاس ته ورغلل .

د فرهنګ ډیرې ساحې د روسي مشاورینو ( چې د مشاورینو پرځای عمومي آمرین وو ) تر لاس لاندې شوې . داسې مشاورین د فرهنګ په ساحه کې د چارو واکمنان شول چې له فرهنګ او هنر او ادبیاتو او مطبوعاتو سره یې عادي اشنایي هم نه لرله . یا د پوځي برخو کار کوونکي وو ، یا د ك . جی . ب استازي وو او یا د ډول ډول نورو روابطو له پاره په داسې ځایونو کې ټاکل شوي او را لیږل شوي وو .

د افغانستان د علومو اکاډمۍ یو ښاغلی لیکوال او محقق د خپلو سترګو لیدلي حال کیسه داسې کوي ، لیکي :

« د تاجکستان د علومو اکاډمۍ د هغه وخت رئیس عاصمي د روس په دربار کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ مسؤول وټاکل شو . کله چې به عاصمي کابل ته راغی ، نو خلکو د اکاډمۍ اصلي رئیس دی باله . دی به هم په دیپارټمنټونو ، انستیوټونو او مرکزونو ګرځیده او لکه بادار ؟ به یې حکمونه صادرول . له عاصمي پرته دوه تنه نور شوروي مشاورین



Ketabton.com

هم په همدغه کلونو کې په اکاډمۍ کې په کار وګمارل شول ، په هغو کې یو تن خاص د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز لپاره په دې نیامت ټاکل شوی و ، چې د پښتو څېړنو بین المللی مرکز په خارجي ژبو نشرات درلودل او له بلې خوا د یونسکو له خوا تمویلیده او دوی په ویره کې وو چې مبادا په دې مؤسسه کې د غربي تمایلاتو لپاره کوم ګام اوچت نه شي نو یې څکه دې مؤسسې ته ځانګړی مشاور ټاکلی و . » (۷)

که نور ټول مسایل یوې خواته کړو او لږه شیبه یوازې په دې باب فکر وکړو چې وطن روسانو اشغال کړ ، د وطن ټولې شتمنۍ د هغوی په لاس کې شوې . د معنویت پر ټولو اړخونو هم هغوی د تسلط غوښتونکي وو ، نو آیا د دغسې پردیو یرغلګرو په هڅو کې به زموږ د ادبیاتو سرنوشت څه ډول و ؟ د پردیتوب او د پردیو د لمانځنې عمومي بهیر روان و او سره له دې چې زموږ د خلکو د مقدس جهاد د یوې برخې په توګه زموږ لیکوالو د فرهنګ او قلم په سنګرونو کې مور چې ونیولې ، خو بیا هم ځینو ورخ چارو لیکوالو ، د هیواد ملي مقدسات یوې خواته کړل او د پردیو په ګټه یې لیکنې پیل کړې . سره له دې چې د داسې کسانو شمیر ډیر لږ و خو ورو ورو نویو ګوندیانو همدغه ساحه اشغال کړه .

د روسي مشاورینو په مستقیمه مداخله به فرهنګي چارې ترسره کیدلې . هر څنګه چې به هغوی اډر وکړ ، هماغسې به کیدل ، که په کومه استثنایي برخه کې به په مستقیم ډول روسي مشاور د « آمر » په توګه نه و موجود ، نو له روسانو څخه روسي تر کسان به د چارو واکمنان وو . هغوی به له روسانو څخه هم د روسانو د منافعو له پاره



Ketabton.com

زيات وفادار وو .

دغو روسانو او روسي ډوله افغانانو پر افغاني ادبياتو د پرديتوب لړۍ را پيل کړې خو له نيکه مرغه زموږ ادبي بهير بل لوري ته روان شو . د روسي مشاورينو او کمونستانو هڅو هيڅ ځای ونه نيو او عمومي ادبي بهير پر يو داسې لوري روان شو چې روسي مشاورين هم حيران ورته پاتې شول ، کمونستان هم هك پك شول او د فرهنگي - ادبي مؤسساتو واکمنان هم گوته په خوله پاتې شول . عمومي ادبي بهير پرديتوب ته په خپله ځولۍ کې ځای ورنه کړ او کمونستانوته په مستقيم ډول او يا هم په اشارو او سمبولونو د بې ننگۍ او بې غيرتيو پيغورونه ورکول کيدل او لا نن هم داسې پيغورونه ورکول کيږي .

د پرديتوب دغه ځپې دومره بې شرمۍ ته ورسيدلې چې په علمي- فرهنگي مؤسساتو کې د تقرر يوه ماده د « سويتيزم » درجه وټاکله شوه . کوم څوك چې به لوړې څوکۍ ته وړاندې کيده نو د تقرر په لومړنۍ فورمه کې به يوځای د « سويتيزم » د درجې ټاکلو ته ځانگړې شوې و . لوړ آمر به دغې برخې ته هم نومره ورکوله او په حقيقت کې همدغه معيار تر نورو ټولو لوړ او بنسټيز گڼل کيده . ډيرو هيوادپالو ليکوالو او پوهانو د همدغسې بې شرمې فورمې له ډکولو څخه او د لوړې څوکۍ له منلو څخه ډډه کړې ده .

روس ملانځنه او پرديتوب د ثور کودتا د دويم پړاو يوه داسې کړنلاره وه چې د کار او هڅو د ټولو برخو په رگ رگ کې مُخلول شوې وه ، خو له نيکه مرغه چې د افغاني اديبانو او ليکوالو ، شاعرانو او پوهانو اکثريت برخه له بنسټ څخه د دې طرحې او د دغه ډول هڅو په وړاندې



Ketabton.com

ودریدله او ښه په میړانه یې مقاومت ورسره وکړ .

۲ - د دویم پړاو یو بل سوغات دا و چې روسانو ، روسي مشاورینو او داخلي کمونستانو دافغانستان د ملي او وطني ادبي - تاریخي افتخاراتو پر ځای روسي افتخاراتو ته د لومړیتوب حق ورکاوه ، حتی خپل افتخارات یې یوې خواته پریښودل او د نورو په لکیو پورې به یې ځانونه نښلول . د روسي ادبیاتو د بې سویې کتابونو او آثارو ژباړې به یې په دې منظور کولې چې زموږ لیکوال هم په دغو لارو روان شي . حتی د روسیې په ادبیاتو کې د پخوانیو سترو او ارزښتناکو ادبي آثارو له پاره توجه نه کیدله او یوازې د انقلابي او کمونستي او حزبي او جنګي ادبیاتو د بې مزې ژباړې له پاره پراخې هڅې کیدلې ، خو دغو پراخو هڅو هم کوم ځای ونه نیو او هیڅوا ته یې کومه لاره ورونه ښودله .

پر پردیو ادبي څیرو له خپلو ملي - ادبي - تاریخي څیرو څخه زیات افتخارات روان وو . دغه پردۍ څیرې هم د نړیوالو ادبي څیرو په عنوان د پاملرنې وړ نه وې ، د روسانو د ادبي څیرو په توګه او یا د کمونستي نړۍ د ادبي څیرو په عنوان پاملرنه ورته کیدله .

د روسانو او کمونستانو د ریالیزم او « سوسیالیستي ریالیزم » نغارې ښې ګرمې وې ، حتی اوس چې خپله په روسیه کې نور د « سوسیالستي ریالیزم » نغارې سړې شوې دي او په معاصرو نړیوالو ادبیاتو کې دغه برخه او دغه ډول ویش غیر علمي ، غیر ادبي او مبتذل ګڼي ، زموږ ځیني داخلي کمونستان له روسانو څخه زیات نن هم همدغه د « سوسیالستي ریالیزم » په لکۍ پورې نښتي دي ، غواړي ادبیات یوازې د سوسیالیزم په تخیلي ، تشریفاتي چوکاټونو کې بند



Ketabton.com

کړي ، خو دغو نغارو په افغاني ټولنه کې هیڅ اغیز نه درلود . دغه نوم اوس د لیکوالو ، شاعرانو او پوهانو په منځ کې د ملنډو په یو نوم بدل شوی دی او په محفلونو او غونډو کې چې کله د سوسیالیستي ریالیزم نوم یاد شي ، خلك یې « حق الزحمه ریالیزم » او « جایزه ریالیزم » بولي او په دې توګه یې مسخره کوي .

۳ – له دویم پړاو سره سم داخلي کمونستانو خپل ټول موجودیت د روسانو د مهربانۍ یو اقدام وګاڼه او له بده مرغه چې د خپل موجودیت مطرح کول یې د وطن د موجودیت په توګه مطرح کړل او په دې توګه یې پر تاریخي افغانستان او د دې وطن په ویاړلو خلکو پورې د ننګ د پیټي د ور تړلو هڅه وکړله ، خو د هغوی له دې خبرو او وینآو څخه پراخه کرکه څرګنده شوه او هیڅ څه ځانګړی ارزښت ورنه کړ ، ځکه ټول پوهیدل چې څه ډول خلك دي او څه یې وکړل ؟

د دویم پړاو مشرانو د انترناسونالیزم او د شوروي د دوستۍ او سویتیزم نغارې داسې ګرمې کړلې چې ادبیاتو ته یې هم لاره پیدا کړله . واکمنانو به په دې تکي ډیر ټینګار کاوه چې ولې د روسانو پراخه او هر- اړخیزه (؟) دوستي زموږ په آثارو کې انعکاس نه پیدا کوي . د دوستو قواوو (!) یعنې د سرو وحشي پوځونو فداکارۍ (!) ولې زموږ سترو ادبي آثارو ته لاره نه کوي او انترناسیونالستي مسایل ولې په ادبي آثارو کې په پراخ ډول نه منعکس کیږي ، دا خبرې به واکمنانو او واکمنو مقامونو تل په ادبي او علمي غونډو کې مطرح کولې او کله کله خو به د دغو خبرو په وخت کې د قهر له لاسه د هغوی رنګ هم سور شو . خو هیوادپالو لیکوالو هیڅکله د هغوی دغو دستورونو او ګواښونو ته



Ketabton.com

د تسليم قلمونه اوچت نه کړل . يو شمير ځان پلورونکو ليکوالو او تش په نامه شاعرانو دغو غزونو او دستورونو او حکمونو ته مثبت ځواب وايهٔ او ځان يې په لوی لاس د افغاني ټولنې د کرکې وړ گرځاوه . د داسې کسانو شمير له يوې خواد کميت له پلوه د چندان پاملرنې وړ نه دی او له بلې خوا د کيفيت له پلوه يې آثار هيڅ ډول ادبي - هنري ارزښتونه نه لري .

دغو يو شمير ليکونکيو به په ادبياتو کې هم د « انترناسيوناليزم » وچې کلکې نارې جگې کړې وې ، هغه تخيلي انترناسيوناليزم چې په ټوله نړۍ کې د « روسي پرستۍ » له فکر څخه پرته هيڅ کوم اړخ نه لري او نه يې تر اوسه پورې لرلی دی . په دغه برخه کې د « مارکسيزم-لينينيزم ، د لوی تيوريسن احسان طبري خپلو خبرو ته غوږ نيول په کار دي ، هغه چې اوږد عمر يې د دغې کږې لارې له پاره په ايران او نړۍ کې کار او فعاليت کړی خو د ژوند په پای کې د دې کږې لارې کاږه منزلونه ښه ورته څرگند شول او ټولې نړۍ ته يې هم ښکاره کړل . هغه د ايران د پيښو په ارتباط او د ايران د تودې د گوند په رابطه د انترناسيوناليزم رښتينې څيره داسې را ښکاره کوي :

« جهان گرايي ( انترناسيوناليزم ) د تودې گوند په خپلو ايديالوژيکي آثاروٌ کې له سووتيزم ( شوروي لمانځنې ) سره يو ډول گانهٔ او ويل به يې چې هر شوروي ضد عمل يو کمونستي ضد عمل دی او په سوسيالستي هيوادونو کې د گوند د موجوديت د مودې له اوږديدلو سره د دغه فورمول تکرار بيخي عادي شوی و . د تودې گوند د ستالين مرگ يو ماتم وگانهٔ او موږ د تودې د گوند رهبران چې په



Ketabton.com

مسکو کې استوګن وو ، د هغه د جسد په څنګ کې دوه ځله د درنښت له پاره ودرېدلو . کله چې خروشچف د شوروي د کمونست ګوند عمومي منشی شو ، پاڼه واوښتله او د « ستالین د شخصیت له کیش » څخه انتقاد پیل شو . د تودی د ګوند رهبرۍ د ستالین په وړاندې خپل هغه پخوانی درنښت هیر کړ او د هغه د شخصیت په باب یې انتقادونه پیل کړل ... په دغو ټولو جریاناتو کې د خروشچف « ګفتار او کردار » د تودی د ګوند د تائید او ستاینې وړ و . په ۱۹٦٤ کال کې خروشچف له کار څخه ګوښه کړای شو . ګوند د خروشچف مداحۍ ودرولې او د هغه ګوښه کېدل یې تائید کړل ... د دغو ټولو کارونو توجیه کوونکی ځواب « انترناسیونالیزم » او له سوسیتیزم یا شوروی ګرایۍ سره د هغه ګډون ورکاوهٔ . » (۸)

احسان طبري په دې باب ګڼ مقالونه راوړي او دا خبره په ډېره ښه توګه څرګندوي چې په ټولو کمونستي ګوندونو کې انترناسیونالیزم څه مانا ، څه مفهوم او څه عملي هویت لري او یا یې د تاریخ په اوږدو کې لرلی دی ؟ د هغه ټولې لیکنې په دې برخه کې ځکه یو معتبر سند ګڼل کېږي چې هغه خپله د دغو جریاناتو په منځ کې و او د همدغو نظرونو له عمده او مخکښو کسانو څخه شمېرل کېږي .

خو زموږ یو شمیر داخلي کمونستانو حتی په ادبیاتو کې د دغه مفهوم د ښه ترا ځلولو له پاره کار او فعالیت کاوه او په ناخبره توګه به ځینو دغه ډول لیکونکو د ادبیاتو پر « انترناسیونالیستی » اړخ او په دې توګه په « روسي » او « کمونستی » اړخ یې ځانګړې او شله ټینګار کاوه . د روسي انترناسیونالیستي مرستو ( چې په حقیقت کې د اشغال



Ketabton.com

د تائید او د ځان پلورنې د سند د کښلو مانا یې لرله ) په باب خو تنو محدودو لیکوالو لیکنې وکړلې . یوه تن یوه کیسه ولیکله چې څنګه یو روسي ځوان د یوې افغانۍ پیغلې یادونه له ځانه سره وړي او د هغې د لاس یوه نښه د دسمال په بڼه له ځانه سره ساتي . دغه راز همدغه لیکونکي د لیلې د لارې د لارویانو په باب او د سرو پوځونو په باب کیسې ولیکلې . یو ، نیم بل لیکوال او شاعر هم په خبره او ناخبره توګه د ځان پلورنې او وطن پلورنې دغې لړۍ ته ورګډ شو ، خو عمومي ادبي بهیر د مقاومت او هیواد پالنې په لور روان و . د ثور د کودتا د واکمنانو په وړاندې د مقاومت نوې لیکې هلته او دلته جوړېدلې او د افغانستان په دننه کې هم هیوادپالو لیکوالو ځان له دغه ډول کړیو او لړیو څخه ګوښه کاوه .

٤ – د ثور د کودتا په دویم پړاو کې د پردیتوب د نښو د ځلولو له پاره روسي مشاورینو او داخلي کمونستانو په نورو هلو ځلو پیل وکړ.

د دوی بنسټیزه هڅه دا وه چې څنګه له خپل هیواد ، له خپلو ملي او تاریخي افتخاراتو څخه او په مجموع کې له خپل تاریخي بهیر څخه دوی را جلا کړي او روسي او کمونستي افتخارات پرې د خپلو افتخاراتو په توګه ور وتپي . حتی دغو کسانو د روسانو په مستقیم دستور د افغانستان د تاریخ د ویاړ شمله ، ستره ملي ورځ یعنی د اسد ۲۸ له انګریزي ښکیلاک څخه د خپلواکۍ د بیرته ګټلو ورځ په سپین-سترګۍ او بې شرمۍ سره د اردو د ورځې په نوم ونوموله او یو بل « داغ » یې پر خپلو تاریخي شرموونکو داغونو ور زیات کړ . دغې نوم بدلونې او نوم ایښودنې هیڅ واقعي او تاریخي توجیهات نه لرل . دا د اردو د



Ketabton.com

افتخاراتو خبره نه وه ، د افغانستان د میړني ملت د ګډ افتخار یوه ورځ وه او روسانو په دې منظور لوړی بشپړه د اردو د ورځې په نوم کړله او بیایې د اردو نوم ورسره ضمیمه کړ چې په دې توګه له پردیو څخه د خپلواکۍ د ګټلو موضوع روسي پوځونو ته توجیه نه شي .

دغه راز یې د افغانستان د خپلواکۍ په ګټلو کې د روسانو مرستې په بې شرمۍ سره یادولې او داسې بې شرمه تورونه به یې لګول چې له انګریزي ښکیلاک څخه افغانانو د روسانو په مرسته او د اکتوبر د انقلاب ( کودتا ) په الهام خپلواکي واخیستله ، روسیه لومړی هیواد و چې د افغانستان خپلواکي یې په رسمیت وپیژندله . دا او دغه ډول نور تورونه یې د روسانو په لارښوونه او حکم څو څو ځله او حتی په خپله هره بې- شرمه وینا کې پر افغانانو او د افغانستان پر تاریخ ور وتپل او په دې توګه یې د خلکو کرکه د ځان په وړاندې نوره هم زیاته کړله . حتی هیڅکله یې دا خبره ونه کړله چې افغانستان لومړی هیواد و چې شوروي دولت یې په رسمیت وپیژند ، یا دا چې افغانان هغه زړور خلک وو چې په آسیا کې یې د لومړي ځل له پاره پرنګي ښکیلاک ته ماتې ورکړله خو هغه نه منونکې ، غولونکې او دروغجنې خبرې به یې د روسانو د خوشحالولو له پاره هره ورځ تکرارولې . دا د افغانانو په تاریخ پورې د دوی ملنډې وې . افغانانو د هیچا په مرسته خپله خپلواکي د پرنګي له ښکیلاک څخه نه ده ګټلې ، دا د هغوی د وینو او قربانیو نتیجه وه . افغانانو که په هغه وخت کې انګریزي ښکیلاک خپل غلیم ګاڼه نو روسي ښکیلاک یې له هغه زیات خپل دښمن حساباوه . د افغانانو د تاریخ هره پاڼه د دې ټکي شاهدي ورکوي .



Ketabton.com

د نوي پړاو واکمنانو غوښتل چې په ادبیاتو کې دې هم دغه مسایل انعکاس ومومي . هغوی غوښتل چې د افغانستان په ادبي آثارو کې دغه تورونه تسجیل شي . هیڅ هغه داستان ته په پیل کې د چاپ اجازه نه وه چې د انګریزانو پر ضد به لیکل شوی و ، دا ځکه چې کیدای شي د لیکونکي منظور به له پرنګیانو څخه ، روسان وو . د خپلواکۍ روح په هیڅ توګه په ادبي او هنري آثارو کې ځلول کیدی نه شو ، دا ځکه چې د خپلواکۍ د روح په پیاوړي کیدلو خو د روسانو له پاره ستره خطره را منځته کیدای شوه ، د خپلو ملي ورځو او د خپلو ملي – ادبي او فرهنګي مناسباتو پرځای د روسانو او کمونستانو مناسبتونو ته زیات ارزښت ورکول کیدهٔ او دستور به ورکول کیدهٔ چې په ادبي آثارو کې هم باید دغو مناسبتونو ته پاملرنه وشي .



Ketabton.com

# په فرهنګي - ادبي څانګو کې

## د مصنوعي شخصیتونو را منځته کول

د ثور کودتا په ګران افغانستان کې د فرهنګ او ادبیاتو په سیمو کې یو بل ناوړه چلند ته هم وده ورکړله . دا هغه ګام او اقدام و چې د ادبیاتو د کار او فعالیت له ساحو یې دقیق علمي ، فرهنګي او ادبي کسان د هیرتابه یو اړخ ته پریښودل غوښتل او پر ځای یې مصنوعي شخصیتونه پر ادبي ، فرهنګي حلقو او پر ټولنې ور وتپل . د مصنوعي شخصیتونو د جوړولو او پر ادبي کړیو او پر افغاني ټولنه د هغوی د تحمیلولو کار د کودتا او اړودوړ په اوږد واټن کې په بیلا بیلو شکلونو ، تر سره شو .

په لومړي ګام کې خپله د ګوندي شاعرانو او څه لیکونکو د مصنوعي شخصیتونو د جوړېدلو له پاره پراخ تبلیغات تر سره شول . د ګوندي شاعرانو او لیکونکو په منځ کې ، د ګوتو په شمیر څو تنه یې داسې وو چې افغاني ټولنې مخکې هم د شاعرانو او لیکوالو په نوم



Ketabton.com

پیژندل ، آثار یې خپاره شوي او یو نسبي شهرت ته هم رسیدلي وو ، خو نور یې زیاتره نوي کسان وو چې را میدان ته شول او د ادبیاتو واکمني یې هم پر غاړه واخیستله . په دغو دوارو برخو کې له افراط څخه کار واخیستل شو . هغه کسان چې ټولنې پیژندل ، په روان ادبي معاصر بهیر کې د یو څه ونډې لرونکي وو او آثار یې په یو معیار کې راتللای شول ، د داسې کسانو له پاره له کودتا سره سم تبلیغاتو زیاته افراطي بڼه غوره کړله . مخکښان او د نویو لارو جوړونکي او په افغانستان‌کې د نویو ادبي مکتبونو مؤسسین وګڼل شول او یا خو د نورو ډیرو حقدارو لیکوالو او شاعرانو پرځای ، دوی له هرڅه غیږه راتاو کړه . دې کار نه یوازې دا چې د هغو کسانو له پاره یې نوي امتیازونه او نوي ویاړونه او افراطي لقبونه ورخپل نه کړل ، بلکه د هغو پخوانیو دریځونو په باب یې هم له خلکو سره شکونه او سوالونه را پیدا کړل . هغو پخوانیو ادبي موقفونو ته یې هم په دغو تبلیغاتو کې سخت تاوان ورسید .

په دویمه ډله کې نوي شهرت ته رسیدلي کسان شامل وو . د داسې کسانو پر مخ هم د کاذب شهرت دروازې خلاصې شولې . د آثارو له پاره یې د خپریدلو ټول امکانات برابر شول او حتی د نورو آثارو چاپول او نه خپرول د دوی په یوه اشاره پورې مربوط شول . دغه کسان هم په افغاني ټولنه کې د کوم ځانګړي ادبي دریځ څښتنان نه شول او حتی د کودتا په دوو پړاوونو کې یوې ډلې د بلې او بلې بیا د بلې هغه د هیرتابه ژورو کندو ته وغورځول . په دې توګه د ادبي شخصیتونو په عنوان په کې منلي کسان را پیدا نه شول . د خلق او پرچم د ګوندونو هغه کسان لا په ادبي ډګر کې د افغاني ټولنې د محبوبیت وړ وو ، چې خپله د



Ketabton.com

ګوند د اهدافو په وړاندې درېدلي وو . خپل ادبي آثار يې د ګوند د دستورونو پر بنسټ نه وړاندې کول . په آثارو کې يې يو هنري – ادبي انفراديت له ورايه ځلېده او په ډېرو لوړو شعري او نورو ادبي آثارو کې د سرهٔ ګوند په وړاندې ولاړ وو . د ځينو خاصو شرايطو ، محدوديتونو او مجبوريتونو له امله به ځينې داسې کسان ښايي د ګوند په ليکو کې ثبت هم وو . داسې ځينې ښې نمونې شته دي خو دلته پرې له نورو خبرو تيرېږو او په دې برخه کې يوازې يوه اشاره کافي ګڼو .

د مصنوعي شخصيتونو د جوړېدلو د بهير يوه بله کړۍ ، هغه غير – ګوندي اديبان او ليکوال وو چې د ځان ساتنې په رنګ اخته او د هغوی په خدمت کې وو . دغه کسان يا د زياتې محافظه کارۍ له امله او يا د نورو شخصي ګټو د ترلاسه کولو په منظور په بشپړه توګه د ګوند او ګوندیانو په خدمت کې وو . هرډول چې به ګوندیانو د ډول آواز تاو را – تاو کړ ، دوی به هم ورسره تاوېدل را تاوېدل . له ګوندیانو څخه د خلکو او اولس او وطن له پاره دغه ډله کسان څکه ډېر خطرناك وو چې ګوندیانو دوی د ټولو غير ګوندیانو او د ټولو روښانفکرانو د نماينده – ګانو په عنوان را ځلول . ډول ډول امتيازونه يې ورکول او په خپل خپل ځای کې يې د ځان پر ګټه ، استفاده ترې کوله . په مصنوعي توګه يې د ادبياتو د اتلانو او د فرهنګ د بيلا بيلو څانګو د نومياليو په عنوان دوی ته تبارز ورکاوهٔ او د شهرت د تبليغ زمينه يې ورته برابروله .

د علم ، فرهنګ او ادبياتو په ساحه کې يې د لوړو علمي مدارجو او القابو ورکول پر ګوندي او ګوند ته د وفادارۍ پر بنيادونو پورې مربوط کړل . د اکادميسين او کانديد اکاديميسين لوړ علمي مدارج يې د ګوند د



Ketabton.com

مرکزي کمیټې د تبلیغ او فرهنګ د څانګې په صلاحیت کې کړل او داسې کسانو ته یې دغه ستر علمي مدارج ورکړل ، چې د افغانستان د علم او فرهنګ په کړیو کې چا د عادي کسانو په حیثیت هم نه منل . له یو شو کسانو پرته د اکادمیسین افتخار داسې کسانو ته هم ور په برخه شو چې د علم په ډګر کې د هیڅ ډول صلاحیت لرونکي نه وو . څه عجیبه شان معیارونه ورته وټاکل شول ، ګوندیتوب یاګوند ته وفاداري ، د قومونو د ویش پر اساس ، د ژبو او نژاد د ویش پر اساس ، د کار د ځای د ویش پر اساس او تر هر څه معتبر د شخصي اړیکو او ډلګیو د ویش پر اساس ، داسې کسان دغو علمي مدارجو ته ورسیدل چې په خپل ټول ژوند کې یې یو کتاب ( او حتی یوه علمي مقاله ) نه وه لیکلې . څو تنه د صلاحیت لرونکي غیر ګوندي کسان یې د حقداری په عنوان ځکه په دغو لیستونو کې شامل کړل چې که چا بیا څه ګوته نیوله نو موږ به بیا دغه کسان ورته سترګو ته کوو . د اکادمیسین او کاندید اکادمیسین موضوع په پای کې د ملنډو په یوه موضوع بدله شوې وه او خلکو به په دې برخه کې ډول ډول ټوکې جوړولې . یو چا به له ټوکو څخه داسې یو قوم ته ځان منسوب کړ چې هیڅ یو عالم او لیکوال به په کې چا ته نه و ښوکند ، چا به تري پوښتنه وکړه چې ته ښنګه غواړې ځان دې قوم ته منسوب کړې او هغه به ځواب ورکړ ، په دې قوم کې بل لیکوال او پوه نشته ، کیدای شي چې زه اکادمیسین شم . (۹)

او لیدل کیږي چې د مصنوعي علمي - ادبي شخصیتونو د جوړولو په دغه بهیر کې هم رژیم چنداني بریالیتوب ته ونه رسید . د هغوی له



Ketabton.com

زیاتشواو پرله پسې تبلیغ سره سره ، خلکو له داسې مصنوعي او جوړو- شویو شخصیتونو څخه کرکه لرله . په عمده وطني مسایلو کې به د ادبیاتو او فرهنګ د ساحې داسې کسان د استازو په توګه ټلل چې د استازیتوب هیڅ ډول شرایط به یې نه لرل او یا خو به خلکو او فرهنګي ټولنې کرکه ترې لرله . په دغه کار کې د رژیم هدف دا و چې که د خپلې خوښې کسان د فرهنګ په ساحه کې زیات شهرت ته ورسوي او دوی د ادبي شخصیتونو په حیث وځولوي نو په هر ځای کې به خپله لازمه استفاده ترې وکړي . رژیم له فرهنګي او ادبي کسانو او روښانفکرانو څخه بدې خاطرې هم لرلې . په یوه وروستنۍ لویه جرګه کې چې اساسي قانون ( تش په نامه ) په کې تصویبېده نو هلته څو نامتو ادبي او علمي شخصیتونو هم د استازیو په توګه ګډون کړی و . سره له دې چې دغه کسان د رژیم په خوښه ټاکل شوي وو ، خو بیا هم دغو ادبي - علمي شخصیتونو د لویې جرګې د کار په جریان کې په مباحثاتو کې اساسي ونډه واخیستله ، انتقادي بحثونه یې وکړل او په ډیرو برخو کې یې منفي رایې ورکړې . رژیم غوښتل چې د نورو په څیر او د میزو په څیر یوازې د دوی تصویب ته لاسونه جګ کړي او د اعتراض کومه خبره ونه کړي ، خو هغوی په دې برخه کې ترخه تجربه وکړه . له دې وروسته یې په دې برخه کې احتیاط نور هم زیات شو .

د مصنوعي شخصیتونو د جوړولو او ځلولو په کار کې د روسانو او روسي مشاورینو نقش تر ټولو زیات و . هغو ځان ساتو او د خوکۍ او مقام او شهرت مینو کسانو چې هیڅ ډول ملي غرور یې نه لاره ، ځانونه یې روسانو او روسي مشاورینو ته ورنږدې کړل . یا خو په بشپړه



Ketabton.com

توګه د هغوی په خدمت کې شول ، یا یې هغوی ، په هغه او دغه وسیله خوشحاله کړل او له ځانه یې مصنوعي شخصیتونه جوړ کړل ، په دې لړ کې هغه کسان تر نورو ټولو عمده وو چې له پخوا څخه روسانو ته نژدې وو او له هغوی سره یې له پخوا څخه ځانونه تسجیل کړي او ثبت کړي وو .

سره له دې چې رژیم او ګوند ، د افغانستان په ادبي بهیر کې او د فرهنګ په نورو ساحو کې د خپلې خوښې د اشخاصو او د فرمایشي او دستوري اشخاصو د برجسته کولو پریمانه هلې ځلې وکړلې خو په هیڅ صورت یې مؤثر نقش ونه لرلی شو . له نیکه مرغه ، د علم او د هنر او ادبیاتو په ساحه کې کار ، یو د صمیمیت ، صداقت ، نیغې لارې او لازم صلاحیت او لازمې تومنې د لرلو کار دی . په دغو لارو کې هغه کسان د لوړو او سترو او اساسي کسانو په توګه خپل ځانونه تثبیتوي چې په واقعي توګه د کوم مقام او دریځ لرونکي او مستحق وي . مصنوعي او جوړ شوي شخصیتونه په دغو لارو کې اوږد مزل نه شي کولی . داسې کسان ډیر ژر ستړي کیږي ، پرځای کیني او رسوا کیږي ، د داسې مصنوعي شخصیتونو له پاره که هر څومره تبلیغات وشي او که هر څومره پراخ امکانات ورته ورکړل شي ، بیا هم ډیر زر خپله اصلي څیره څرګندوي او خپله ، ځان خلکو ته په اصلي څیره کې او په اصلي صلاحیت او دریځ کې ور پیژني .



Ketabton.com

# د ورځې په « نرخ » د آثارو ایجاد

د پرولیتاریایي دکتاتورۍ او کمونیزم د تسلط یو اساسي تکی ، لکه چې په ښکاره یې په نامه کې نغښتی دی ، یوه دکتاتوري ده . په داسې یو نظام کې د ژوند هیڅ اړخ له دغې دکتاتورۍ څخه بهر نه شي پاتې کېدلی ، هرڅه د تشدد ، زور او دکتاتورۍ له لارې ترسره کېږي ، ادبیات ، د ادبي او فرهنګي برخو کار کوونکي هم له دغه تشدد او دکتاتورۍ څخه بهر نه شي پاتې کېدای .

په افغانستان کې د ثور د کودتا په بیلا بیلو پړاوونو کې داسې ځپې را د مخه شوې چې یو شمیر لیکوال او شاعران یې د « ورځې په نرخ » د آثارو لیکنې او ایجاد ته وهڅول . دا موضوع د ادبیاتو خپل لازم عظمت ته یو سپکاوی و . د زور له لارې ، د دستور له لارې ، د حکم او امر له لارې یې د ادبي آثارو د ایجاد غوښتنه کوله . دې کار دغه نتایج ولرل :



Ketabton.com

الف : ادبیات په ژورنالیستیکي لیکنو بدل شول . ادبي آثارو لکه د ورځپاڼه لیکنې په څیر ، یوازې د یوې ورځې او حتی یوې شیبې ارزښت پیداکړ ، د « تلپاتې » ادبي ارزښتونو او ښیګڼو پرځای « ورځپاڼه‌یي» مؤقت ارزښتونه په پام کې ونیول شول .

په داسې حالاتو کې نومیالي لیکوال نه شي را منځته کیدلی . دا د ورځې د نرخ ادبیات دي او یوازې ورځ چارې لیکونکي ګټه ترې اوچتولی شي . دغه ګټه هم څه د فرهنګ ، هنر او ادبیاتو له پاره ګټه نه بلکه د ورځچارې او بازار ګټه شمیرلی شي . په دې توګه ده چې ادبیات په یوه بازاري او تجارتي « پیشه » بدلیږي . داسې ادبي لیکنې او داسې لیکونکي هیڅکله د یو اولس د ادبیاتو په تاریخي بهیر کې د کوم دریځ ( مقام ) لرونکي نه وي . د هماغې ورځې له تیریدلو سره د هغوی مقام هم له منځه ځي ، د هغوی ادبي ( او په حقیقت کې تجارتي ) دریځ هم پای ته رسیږي او حتی سبا ته یې څوک یادونه هم نه کوي .

ډیر ځله داسې شوي دي چې د ورځې د نرخ پر اساس دغسې لیکونکو نن یو څوک ، یو کار او یوعمل ښه ګڼلی او سبا یې چې ورځې ته کتلي دي ، د بازار د ورځې نرخ ته یې چې فکر کړی دی نو هماغه څوک ، هماغه کار ، هماغه عمل یې بد ګڼلی دی . ډیر خپله تائید کړي شیان یې نفي او په سرچپه توګه یې نفي شوي ، تائید کړي دي .

ب : لیکونکو په داسې حالاتو کې او په داسې کودتایي کزلیچونو کې خپل ځانګړی دریځ هیر کړی دی ، د بل په خولې غږیدلي دي . د فرمایش او دستور او فرمان ادبي لیکنې یې کړې دي ، په حقیقت کې دغسې لیکنې چې په خپل وخت کې د ادبي آثارو ( شعر ، کیسه ،



Ketabton.com

ډرامه ، ناول او رومان ، ادبي تحقيق او مقالو ) په نوم خپرې شوي او ايجاد شوي دي چې د ورځې نرخ ، د بازار رونق او سوداګرانه دريځ ډېر ښه څرګندولی شي او نور نو کوم ادبي - هنري او حتی اجتماعي ارزښت نه لري . البته زموږ منظور همدغسې ليکنې او همدغسې ليکوال دي چې د ورځې نرخ يې د خپلو آثارو محتوی ګرځولې وه .

ج : د ورځې د نرخ په ادبياتو کې يو شمير ليکونکو او په نامه شاعرانو ته دا موقع په لاس ورغله چې د اصيلو او مستحقو ليکوالو پرځای ، تبارز وکړي . دوی سره له دې چې په فرهنګي ټولنه کې يې خپل شخصيت او د شخصيت دغه د ورځې د نرخ اړخ په ښه توګه جوت کړی و او په همدغو نومونو پيژندل کيدل ، خو بيا هم په موقت ډول يې څه زمينه ومونده . د داسې کسانو په آثارو کې ادبي - هنري معيارونو ته پاملرنه ونه شوه او ټوله پاملرنه يوازې او يوازې دې ته واړوله شوه چې نن هغه او دغه مقام څه خوښوي ؟ هغه او دغه مقام د څه فرمان صادر کړی دی ؟ هغه او دغه مقام له ليکونکو څخه څه غوښتنه لري ؟ او هغه او دغه مقام به له ما څخه په څه ډول ليکنه خوشحاله شي ؟

ادبيات په داسې بدمرغۍ کې د بازار د توکو او د « خرڅلاو » په موادو بدل شول . موږ ډېرې داسې ليکنې پيدا کولی شو چې يوازينی هدف يې د کوم مقام خوشحالول ، د ګونديانو دستور ته لاس په نامه دريدل او د خپل ارتجاعي دريځ څرګندول وو . د دې په څنګ کې د هغو پياوړو ليکوالو او شاعرانو له دريځ څخه هم سترګې نه شو پټولی چې تر پای پورې په خپل هوډ ولاړ پاتې شول ، هيڅکله يې د کمونستانو



Ketabton.com

په فرمایش لیکنې ونه کړلې ، تل یې د خپل زړهٔ خبرې وکړلې او که په دغه لاره کې له هر څومره ستونزو سره مخامخ شول ، خو خپل غږ یې له ډولونو څخه په یو ډول خپلو خلکو ته ورساوه . د هوډ د دغو شاعرانو ټوله مبارزه د ورځې د نرخ د ادبیاتو په وړاندې وه او بې له شکه چې په عمومي ادبي بهیر کې دغه د ورځې په نرخ د ادبیاتو په وړاندې د مبارزې څپې تر ټولو زورورې وې ، دا ځکه چې دا زموږ د ټول ملت د مبارزې یو اړخ و او ځکه یې بری حتمي و .



Ketabton.com

# ادبیات

# حکمونه او دستورونه

له هماغې ورځې څخه چې په ګوان افغانستان کې کمونستان قدرت ته ورسیدل ، د افغانستان د اولس د عقایدو ، فرهنګ ، د ژوند د ول ، د تاریخ او د چاپیریال د شرایطو او حالاتو د نه په نظر کې نیولو بهیر پیل شو او هر څه فرمانونو ، حکمونو او دستورونو ته تم شول . د هرڅه په باب حکمونه او دستورونه صادریدل . هرڅه باید د کمونستانو د حزبي انفرادي ګټو په رڼا کې ، د هغوی د دستور او حکم مطابق تر سره شوي وای .

ادبیات هم د حکم او دستور پرادبیاتو بدل شول . د ادبیاتو په هره ساحه کې واکمنانو دساتیر صادرول . غوښتل یې چې عمومي ادبي بهیر دې د هغوی د خوښې پر بنسټ داسې یا هغسې روان وي . د ګوندي دستورونو په څیر ، ادبي دساتیر هم هماغسې قاطع ، کلیشه یي او حتمي ګڼل کیدل . باید د هماغو دساتیرو په اساس عمل شوی وای ، د



Ketabton.com

گوند د مرکزي کمیټې د تبلیغ او فرهنګ د څانګې د مصوبو پر بنسټ باید هرڅه تر سره شوی وای . د ادبیاتو له پاره به هم هغوی مصوبې راویستلې ، او داسې مصوبې چې په څه کې به د حزبیانو خپلې ګوندي انفرادي ګټې نغښتې وې ، نور یې نو د هیواد د فرهنګ ، هنر او ادبیاتو د پرمختګ په باب فکر نه کاوه ، یوازې خپل ګوند ورته له ټول اولس څخه معتبر و . یوازې دوی خپل ځانونه د هرڅه مستحق ګڼل ، یوازې دوی وو چې حکمونه او دستورونه یې صادرول . یوازې د دوی حکم او دستور او فرمان باید منل شوی وای . د ثور د کودتا په هر کړلیچ کې به په اصطلاح هر « رهبر » حتی د ادبیاتو په برخه کې هم متخصص و . د ادبیاتو په باب به یې هم داسې قاطع حکمونه کول ، تیوري به یې وضع کوله او ادبي لوري به یې ټاکل چې هغه د چا خبره د ادبیاتو په پوله به تللي هم نه وو .

« حزبیت » پر هرڅه مسلط و . پر ادبیاتو یې هم د تسلط غوښتنه کوله . پر ادبیاتو یې هم یرغل کړی و . غوښتل یې چې ادبیات هم د خپلو هیلو قرباني کړي .

د هر ځانګړي مناسبت له پاره به د پراخ « تبلیغاتي کمپاین » یوه برخه ادبیاتو ته ځانګړې شوې وه . ټولو فرهنګي او ادبي څانګو او برخو باید په دغه « کمپاین » کې برخه اخیستي وای . یو خاص دستور به د دې له پاره صادر شو چې مثلاً د ثور انقلاب د ځوږمې کالیزې له پاره باید یوه بشپړه میاشت ټولې ورځپاڼې ، جریدې ، د راډیو تلویزیون حتی ادبي خپرونې او نور ادبي - فرهنګي مؤسسات په بشپړ ډول ځانګړي شي . دغه کمپاین به په دومره تکراري ، مبتذلو او چوکاټي



Ketabton.com

لیکنو او خپرونو بدل شو چې بیا به نه چا هغه څه اوریدل او نه به یې لوستل . د هر مناسبت له پاره به لیکوالو ته دستور ورکول کیده لکه : د اکتوبر د کودتا د ستاینو له پاره ، د فاشیزم پر ضد د روسانو « د سر ښندنو » له پاره ( چې اصلاً یې پر موږ افغانانو څه اړه لرله ) ، د ثور د کودتا له پاره ، د تش په نامه لویو جرګو له پاره ، د ګوند د تأسیس د ورځې له پاره ، د اردو او څارندوی او خاد د ورځو له پاره او د بل هر ډول بدمرغه مناسبت له پاره . د وطن خپل اصلي ملي او تاریخي مناسبتونه د هیرتابه په کوم اړخ کې پراته وو .

هره ورځ به د یوې مشاعرې دستور او حکم صادر شوی و . په رسمي مکتوبونو او فرمانونو به شعرونه لیکل کیدل . د هر سیاسي مناسبت له پاره به د شعر د کښلو دستور صادریدهٔ . د دغو مناسبتونو په بابٔ سره له دې چې لوړو او پیاوړو شاعرانو ، شعرونه نه لیکل ، خو یو شمیر ځان ساتو شاعرانو ( یا هسې په نامه شاعرانو ) برخه په کې اخیستله . د رژیم او ګوندیانو له پاره دا مطرح نه وه چې ښه او لوړ شعرونه دې را غونډ شي ، یوازې د هغه او دغه مناسبت له پاره به یې خپله استفاده ترې وکړله او نور به یې نو نه د شاعر پوښتنه کوله او نه د شعر . په دې لړ کې حتی عنعنوي مشاعرې هم د وخت د دستورونو تابع شوې . د بیلګې له پاره د رحمان بابا د عنعنوي په زړه پورې مشاعرې له پاره هم دستورونه صادریدل چې په دې مشاعرو کې دې یوازې د دغې یا هغې موضوع په اړه شعرونو ته ځای ورکړل شي . دغه مشاعره به یې په یوه تبلیغي مبتذله مشاعره بدله کړه . څه موده له دغې عنعنې « صرف نظر » وشو او بیا هم هسې په نامه د تبلیغاتو له



Ketabton.com

پاره را ژوندۍ شوه . په دغه منځ کې یوازې هغو مشاعرو نسبي ارزښتونه لرل چې د ښو او تکړه شاعرانو او لیکوالو په خپل تشبث جوړېدلې . دغو مشاعرو کله شخصي او کله کله نیمه رسمي بڼه لرله . په داسې مشاعرو کې زیاترو شاعرانو د خپل زړه خبره کوله . په حزبي تنګ نظرو کمونستانو دا خبره ډېره بده لګېدله او داسې کسانو ته یې ډول ډول توطیې جوړولې .

د ادبیاتو په ساحه کې په شفاهي توګه د یو دستور صادرېدل هم بس وو . یعنې دا چې په شفاهی توګه به کوم « مقام » وویل چې دغه موضوع باید په شعر یا په لیکنه کې رانه شي . په ډېرو شفاهي دستورونو یو لړ موضوعات بندیان شول . په هر وخت کې ځینې داسې مسایل وو چې د خپرېدلو وړ نه وو . د نمونې له پاره د ځینو موضوعاتو یادونه کولی شو، چې حتی یوازې په شفاهي حکمونو د خپرېدلو او په ادبي – شعري آثارو کې د راوړلو وړ نه وو :

د آزادۍ په باب اود انسان یا ټولنې د خپلواک حیثیت په باب په شعرونو او نورو ادبي لیکنو کې د څه ویلو اجازه نه وه . خومره د حیرانتیا وړ خبره ده ، د افغانستان له شعر څخه ، د خپلواکۍ موضوع واخله ، لکه له جسم څخه چې روح واخیستل شي . یو داسې شعري بهیر چې تل د آزادۍ د نهضت د لارو د کاروانو جرس ترې جوړ شوی دی ؛ د یو داسې اولس شعر چې له خپلواکۍ سره یې خاپوړې کړې دي ، ورسره یوځای را لوی شوی دی او تل د خپل آزاد حیثیت له پاره هر ډول سرښندنو ته را وړاندې شوی دی ، څنګه د خپلواکۍ موضوع له خپل شعر څخه او له خپلو نورو ادبي آثارو څخه بهر کړي ؟ د دې خبرې دلیل



Ketabton.com

 څرګند دی . روسانو او کمونستانو نه غوښتل چې زموږ په شعر کې دې
د خپلواکۍ ولولې انعکاس ومومي . کيدای شي چې دغه د خپلواکۍ
غوښتنې موضوع د روسي ښکيلاك او د کمونيزم د يرغل له پاره توجيه
شي . خو هغه کار چې کيدونکی و ، پرته له دې هم وشو ، د اولس
شاعرانو له ډولونو څخه په يو ډول خپل ، خپلواك غږونه خلکو ته
ورسول او له روسي ښکيلاك څخه د خلاصون د هنګامو په تودښت کې
يې خپله ونډه واخيستله .

د پردي ، بيګانه ، اجانبو او دغو ته ورته کلمو په باب سانسور
لګيدلی و . د روس د يرغل له خاطره په شعر او نورو ادبي ليکنو کې
حتی د سکندر ، چنګيز او انګريز د يرغلونو په باب هم څه نه شول
کښل کيدای . دغه راز نور ډير مسايل هم د حکمونو او دستورونو پر
بنسټ سانسور وو .

د دغو حکمونو او دستورونو يو بل اړخ هم په زړه پورې دی . دلته
به دې اړخ ته يوه ښه شيبه تم شو :

په افغانستان کې د روښانفکرانو او ايجادګرانو له پاره پخوا د را-
ټوليدنې او ګډ کار زمينې نه وې موجودې . کله چې واقعيتونه ګورو ،
بايد په څرګنده ووايو چې دا يوه ډيره لويه نيمګړتيا وه . د تيرو
دورانونو له دغې عمده نيمګړتيا څخه د ثور د کودتا په کړليچونو کې
هغوی د ځان په ګټه ، استفاده وکړله . د ليکوالو ، شاعرانو ،
هنرمندانو او ژورنالستانو انجمنونه او ټولنې له ثور کودتا څخه وړاندې
نه وې موجودې . سره له دې چې دغې جوړيدنې او راټوليدنې ( تمرکز )
ته اړتيا احساسيدله ، خو په دې برخه کې کوم عملي ګام نه و اوچت



Ketabton.com

شوی . ځینو لیکوالو او شاعرانو د داسې فرهنګي او ادبي ټولنو د جوړېدلو له پاره څه ابتدایي هلې ځلې هم کړې وې خو بری یې نه و په برخه شوی . د ثور د کودتا په لومړي پړاو کې سره له دې چې د داسې روښانفکري اتحادیو او ټولنو د جوړېدلو له پاره اقدام وشو خو په عملي توګه داسې ټولنو په کار پیل ونه کړ او د لومړي پړاو تخته چپه شوله .

د کودتا په دویم کړلیچ کې په ۱۳۵۹ هـ.ش. کال کې د روښانفکرو ایجادګرانو ټولنې جوړې شولې . د افغانستان د هنرمندانو اتحادیه ، د افغانستان د لیکوالو اتحادیه او د افغانستان د ژورنالیستانو اتحادیه جوړې شوې . ګوندیانو او ټول رژیم د دغو ټولنو او فرهنګي سازمانونو په جوړېدلو سره د ځان له پاره د پراخو تبلیغاتو زمینه چمتو کړله . دا اتحادیې په لومړي سر کې هسې تش د مستقلو اجتماعي سازمانونو په عنوان را منځته شولې ، په داسې حال کې چې له ډولونو څخه په یو ډول د ګوند د تبلیغ او فرهنګ تر دستور او حکم لاندې وې . واقعیت دا دی چې د کودتا په دغو کړلیچونو کې خپله لیکوال را ټول نه شول چې د ځان له پاره ، داسې مستقلې ټولنې جوړې کړي او نه یې په هغه وخت کې د دې کار اجازه لرله ، بلکه ګوندیانو په فرمایشي او دستوري ډول دغه ټولنې جوړې کړلې . له یوې خوا یې غوښتل چې دغه جوړېدنې د یوه عمده ضرورت په عنوان وځلوي او له بلې خوا ټول هنرمندان ، ژورنالیستان ، لیکوال او شاعران د خپلو دستورونو او حکمونو د تعمیل او زر تر زره اجرا له پاره په بیلا بیلو مرکزونو کې را-ټول کړي . یعنې هم هغوی د داسې ټولنو په جوړېدلو خوشحاله کړي او هم ترې د خپلو تبلیغاتو له پاره ښه ګټه واخلي . همداسې وشول . دغه



Ketabton.com

ټولنې د مستقلو اجتماعي - فرهنګي سازمانونو په عنوان جوړې شوې ، د تبليغاتو ښه زمينه برابره شوله او د دغه ټولنې په بشپړه توګه د هغوی په لاس کې شولې . هر دستور چې به له پاسه صادر شو ، د فرهنګ ، هنر او ادبیاتو په بیلا بیلو ساحو کې باید د دغو ټولنو له لارې عملي شوی وای . یعنې د هغوی غوښتنې او هیلې باید ، د دغو مستقلو عنوان شویو اتحادیو د کار ، غوښتنې ، نظر او عمل په توګه ځلیدلې وای .

د هنرمندانو ټولنه ، د ژورنالیستانو ټولنه او د لیکوالو ټولنه د دریو اساسي فرهنګي ټولنو په عنوان فعالې شوې ، دوی یو شمیر ژورنالیستان ، هنرمندان او لیکوال پر ځان را ټول کړل ، خو په کار کې یې د مستقلو فرهنګي او ټولنیزو سازمانونو نښې نه وې . د ګوند تر مستقیم تسلط لاندې وې او حتی د هغو له امر پرته یې یو عادي کار هم نه شو ترسره کولای .

دلته یو بل واقعیت ته هم باید اشاره وشي . په دغو دریو ټولنو کې د افغانستان د لیکوالو ټولنه یوه‌داسې اجتماعي - فرهنګي مؤسسه وه چې په پیل کې د نورو دوو ټولنو په څیر د ګوند تر بشپړ تسلط لاندې وه ، خو د ځینو غړو او عمده کار کوونکو په خپل تشبث ، هلو ځلو او مبارزه یې خپل یو څه نسبي مستقل حیثیت جوت کړ . څه رنګه چې خپله د ګوندیانو په منځ کې پیاوړي لیکوال نه وو ، نومیالیو غیر- ګوندي لیکوالو په ټولنه کې ښه شهرت ترلاسه کړی و او په فرهنګي حلقو کې یې خپل ادبي حیثیت تثبیت کړی و ، نو خبرې یې هم ځای نیولی شو . ګوندي « دستورچیانو » به هم د خپلو حکمونو په برخه کې ورو ، ورو له دغې ټولنې سره له یو څه احتیاط څخه کار اخیست .



Ketabton.com

په را وروسته کلونو کې د دغې ټولنې ځینو غړو ( او حتی د رهبرۍ په سطحه کې ځینو غړو ) هڅه وکړه چې که د یوې واقعاً خپلواکې ټولنی په حیث دغه ټولنه تبارز نه شي کولای، نو ورو ورو باید داسې اقدامات تر سره شي چې د استقلال نخښې نخښانې ترې ښکارندې شي او دغه ټولنه باید داسې کارونه تر سره کړي چې د افغانستان د ادبي بهیر د سمسورتیا له پاره وي ، نه د تبلیغاتو له پاره .
دا کار سره له دې چې له ستونزو ډك و خو د معاصر ادبي بهیر له پاره په زړه پورې و . دغه مثبت جهت یې ژور او دقیق اړخ درلود او سره له دې چې د ډیر بارز او علني اړخ په عنوان نه و مطرح ، خو اغیزې یې ژورې او د پاملرنې وړ وې . د دغو هلو ځلو او اغیزو ځینو برخو ته به اشاره بې ګټې نه وي :
د لیکوالو د ټولنې د آثارو او کتابونو د چاپ په برخه کې ګوندیانو هڅه کوله چې تبلیغاتي ادبي آثار باید زیات خپاره شي . په دغه لړ کې ځینې بې ارزښته تبلیغاتي اثار هم چاپ شول چې ادبي - هنري ارزښتونه یې د تأمل وړ دي . خو د دې په څنګ کې د لوړ ادبي ارزښت آثار هم چاپ شول او د نومیالیو لیکوالو په خپلو ځانګړو تشبثونو د آثارو دغه دویم جهت او اړخ پر لومړني هغه بریالی شو او سره له دې چې تر پای پورې د آثارو په یو څه تبلیغاتي سیاسي اړخ هم ټینګار کیده خو په څنګ کې یې اساسي برخه لوړ ادبي ( شعري او داستاني ) آثار وو . د داسې آثارو له چاپ وروسته به کله کله د ځینو لیکوالو او شاعرانو له پاره سیاسي کړکیچونه هم را پیدا شول .
ځینې سیمینارونه او کنفرانسونه به د سیاسي مناسبتونو په غرض



Ketabton.com

جوړېدل . د ګوند د مرکزي کمیټې له خوا به دستور صادر شو او ټولو اجتماعي سازمانونو ته به مشخصې لارښوونې شوې وې . په دې لړ کې به د لیکوالو ټولنه هم مجبوره وه چې دغه لارښوونې په پام کې وساتي او د بیلا بیلو سیاسي مناسبتونو له پاره تبلیغاتي غونډې او کنفرانسونه جوړ کړي . په بل څنګ کې یې ځیني علمي ادبي سیمینارونه هم د پاملرنې وړ وو . په علمي سیمینارونو کې به د افغانستان د ادبیاتو په عمده اړخونو جالب بحثونه هم کېدل او په زړه پورې مقالې به هم په کې اورول کېدلې . د دغسې سیمینارونو له ارزښت څخه باید د یو واقعیت په توګه سترګې پټې نه شي . دغه راز هغه کنفرانسونه او غونډې چې یوازې د سیاسي مناسبتونو او د سیاسي تبلیغاتو له پاره جوړېدل ، په ځینو کې یې د ښو لیکوالو نقش د ستاینې او یادونې وړ دی . داسې لیکوالو به خپل مشخص نظر د یوې یا بلې سیاسي موضوع په رابطه څرګنداوه . دلته لازمه ده یوه مشخصه نمونه تاسو ته وړاندې کړم .

په ۱۳٦۷ کال کې د افغانستان د لیکوالو انجمن ته په عاجله توګه دنده وسپارل شوه چې د افغانستان د بې وسلې کولو په باب د لیکوالو د تائید یوه غونډه جوړه کړي . د یوې غونډې ترتیبات ونیول شول . څو تنو ښو لیکوالو ته وظیفه ورکړل شوه چې د ګوند او دولت د رهبرۍ د دغه پیشنهاد شوې طرحې په باب تائیدي ویناوې وکړي .

د زیاتې عجلې له امله ویناوې مخکې له مخکې « چك » او « سانسور » نه شوې . غونډه جوړه شوله . له پرانیستونکې وینا او له پریکړه لیك پرته چې په فرمایشي توګه د حزبیانو په خوښه تهیه شوي



Ketabton.com

وو ، نوري څلور ويناوې بيخي په بل ډول وې . په دغو ويناوو کې د لسو کلونو په موده کې د ګونديانو جنايتونو ته په مستقيم او غير مستقيم ډول اشارې شوې وې او د کلمو او جملو په يو ډول ادبي « نغښتلتيا » کې د وينو د بهير ټوله پړه په روسانو او روسي افغانانو اچول شوې وه . حتی يو شاعر چې مخکې د پرچم د ګوند غړی و ، او وروسته يې له دغه ګوند څخه سخته کرکه پيدا شوې وه ، د هغه وينا تر ټولو حيرانوونکې وه . هغه په زغرده څه داسې خبرې کړې وې چې د ګونديانو ترې هيڅ توقع نه وه . يادې شوې غونډې هماغه د غونډې په صحنه کې او بيا وروسته په ګوندي لوړو مقامونو کې ډير بد انعکاس وکړ . د خاد ( امنيت د وزارت ) استازي او جاسوسان راغلل . د ليکوالو په ټولنه کې يې له مسؤولينو څخه پوښتنې او تحقيقات هم وکړل ، خو اوس کار له کاره تير و . هغه شاعر چې يو وخت پرچمي و ، هغه خو د خپلو حزبيانو له خوا سخت توهين هم شو او څه موده وروسته يې له افغانستان څخه کوم بل هيواد ته هجرت وکړ .

د يوې بلې کوچنۍ بيلګې په توګه ، کيدای شي يادونه وشي چې د رهبرۍ په سطحه کې د ځينو تکړه او مخکښو ليکوالو په ځانګړو هڅو او مبارزو د ليکوالو د ټولنې نوم له « د افغانستان د ډموکراټيک جمهوريت د ليکوالو اتحاديه » څخه په « د افغانستان د ليکوالو انجمن » واوښت . دا هغه وخت و چې د دولت رسمي نوم هم نه و بدل شوی او افغانستان « د افغانستان ډيموکراټيک جمهوريت » په نوم ياديده .

البته له دغو خبرو او څو بيلګو څخه زما منظور دا نه دی چې څرګند کړم ، په بشپړه توګه دغې ادبي ټولنې مستقل حيثيت درلود ،



Ketabton.com

بلکه خبره دا ده چې د گوندیانو د زیاتې لاسوهنې او حزبي دستورونو په وړاندې په ځینو مخکښو لیکوالو کې د مقاومت روحیه لا موجوده وه او تل د دغې روحیې د پیاوړتیا له پاره یوه پټه مبارزه روانه وه .

په لنډه توگه باید یادونه وشي چې د کودتاچیانو د دستورونو او حکمونو اثر پر ادبي معاصر بهیر له زیاتو ناخوالو ډک و . د هغوی هڅه دا وه چې د افغانستان ادبي بهیر هم لکه د سیاسي بهیر په څیر د روسیې د معاصر ادبي بهیر په څیر په یوه واحد حزبي ، سیاسي او تبلیغاتي بهیر بدل کړي او زموږ ادبیات په فرمایشي کمونستي تبلیغاتي ادبیاتو بدل شي . دغو فرمایشونو او دستورونو ادبیات اغیزمن کړل . د ادبي بهیر په وړاندې یې گڼ شمیر خنډونه او ځنډونه جوړ کړل او هڅه یې وکړه چې ادبیات په کږو حزبي لارو او په پردو لارو یون ته اړ کړي . د حکمونو او دستورونو څپې او پر ادبیاتو تحکم ، د یو اولس سمسور ادبي بهیر له ناخوالې ، سکوت ، شاته تگ ، ابتذال او بدرنگۍ سره مخامخ کوي . دا زموږ له پاره یوه ډیره غمگینه تجربه وه او زموږ د ادبیاتو د زرغونتیا او پراختیا او پرمختیا لیوالان باید د راتلونکي ادبي بڼ په لا سمسورتیا کې دغه ډول ترخې تجربې هیرې نه کړي او هیڅوك باید په کږو تجربه شویو لارو بیا تگ ته زړه سېه نه کړي .



Ketabton.com

# پر فرهنګ او ادبیاتو

## د زهیرو کسانو خپل منفرد تشبثات

کله چې د ثور له غمیزې وروسته د ادبي هلو ځلو په باب خبرې کوو ، لازمه ده چې د ځینو منفردو تشبثاتو اغیزو ته هم اشاره وکړو . دا هغه هڅې دي چې پر فرهنګ ، هنر او ادبیاتو د زهیرو او خواخوږو کسانو په خپله هڅه ، زیات تشبث او خواري، تر سره شوي دي او بې له شکه چې پر روان ادبي بهیر یې خپله لازمه مثبته اغیزه هم ښندلې ده . دغه ډول هڅې له څو اړخونو څخه د ارزښت وړ ګڼل کیدای شي . تر هرڅه د مخه دوی په ډېر کړاو او سرخوږي، د ادبیاتو له پاره او د ادبي ودې د زمینو د لټون له پاره هڅې وکړې . دا د رژیم د فرهنګي او ادبي کړنلارې په ویاړونو کې نه شي حسابیدلای ، بلکه افتخار یې ادبي او علمي ځانګړو شخصیتونو ته رسیږي .

داسې منفردې هڅې ( چې البته کله کله یې له منفرد اړخ څخه د مشورو او ګډ ادبي کار اړخ هم پیدا کاوه ) په لومړي ګام کې د



Ketabton.com

افغانستان د معاصر ادبي وضعیت د سبه کیدلو له پاره د پاملرنې وړ دي .
لکه چې په مخکینیو څپرکو کې هم اشاره ورته وشوله ، گوندیانو غوښتل چې ادبیات او ټولې رواني ادبي هڅې د خپلو اهدافو او دستورونو تابع کړي ، خو د ځینو لیکوالو او شاعرانو په پرله پسې هڅو او مبارزو د ادبي وضعیت د مثبت بدلون له پاره داسې کار کیده چې د هغو دستورونو او اهدافو پرځای د ادبیاتو خپل ځانگړی « مقام » باید خوندي وساتل شي .

دغه راز په ځانگړو هلو ځلو د ادبي کار د زمینو د پراختیا له پاره هم هڅې کیدلې . له بیلا بیلو وسایلو ( او حتی شخصي پیژندگلویو ) څخه د فرهنگ او ادبیاتو د ودې له پاره استفاده کیدله . رژیم د ادبیاتو د ودې په غم کې نه و ، خو دغه ډول منفردو هڅو خپل لازم اغیز وکړ او ادبي بهیر یې له بشپړ سقوط او سکوت څخه وژغوره . د دغو ځانگړو هلو ځلو یو بل گټور اغیز د لوړو ادبي او علمي ارزښت لرونکو آثارو او کتابونو د چاپ په برخه کې د یادونې او ستاینې وړ دی . سره له دې چې رژیم په دې تکل کې و چې د خپلو تبلیغاتو له پاره نشراتي کار ځانگړی کړي او یوازې داسې آثار خپاره کړي چې د دوی د ایډیالوژۍ او اهدافو او تبلیغاتو په درد وخوري ، خو پر فرهنگ د زهیرو کسانو دغو ځانگړو هڅو او پرله پسې زیارونو څه داسې زمینې هم ورو ورو برابرې کړې چې د تشو تبلیغاتي آثارو او کتابونو په څنگ کې گټور ادبي آثار هم چاپ او خپاره شي . ورو ورو دغه بهیر لا په زړه پورې او اغیزمنه بڼه غوره کوله او څه رنگه چې د اولس او خلکو عام ملاتړ له همدغه بهیر سره و ، نو ځکه خو دغه بهیر له کمزورۍ دریځ



Ketabton.com

څخه پر پیاوړي دریغ بدلیده . عمومي پاملرنه دې خوا ته واوښتله چې کمزوري ادبي اثار باید د چاپ زمینه ونه مومي او د ادبي آثارو د چاپ په برخه کې باید تر هرڅه د مخه د اثر ادبي ارزښتونو ته پاملرنه واوړي . البته د دې خبرې مانا دا نه ده چې گوندي دغه عام تمایل د رژیم پر تمایل بشپړ بري ته ورسید ، خو بې اغیزې هم نه و . د رژیم له خوا بیا هم د تبلیغي آثارو پر چاپ ډیر زیات او افراطي ټینگار روان و ، بیا هم هغوی د خپلو گوندي اهدافو په رڼا کې د آثارو خپرولو ته ادامه ورکوله او هر څومره که خلکو له داسې تبلیغي آثارو سره هیڅ ډول علاقمندي نه څرگندوله ، خو بیا هم ، هغوی یې له چاپ څخه ډډه نه کوله . هر څو که اولس د دوی له تبلیغي آثارو سره بې مینې کیده او حتی کرکه یې تري کوله ، دوی یې څه خیال نه ساته او خپل تبلیغات به یې بیا هم زیاتول ، خو دا چې دغو تبلیغاتو څنگه بنه لرله ؟ څه تأثیر یې لاره ؟ دا بیا د تأمل وړ یوه خبره ده .

د ثور له غمیزې وروسته هم په افغانستان کې یو شمیر علمي – ادبي سیمینارونه جوړ شول . سره له دې چې حزبیانو له داسې علمي – ادبي سیمینارونو سره چندان علاقمندي نه لرله ، او که یې لرله نو یوازې له داسې سیمینارونو سره یې لرله چې د دوی د تبلیغاتو په درد به خوړل کیدای شول ، یا به یې د علمي سیمینارونو له دغه اړخ څخه گټه اخیستل غوښتل چې لږ تر لږه خو به د دوی د تبلیغاتو له پاره هم یوه وسیله او زمینه را پیدا شي . ځینو پر فرهنگ ، هنر او ادبیاتو خواخوږو اشخاصو له دغې کوچنۍ زمینې څخه هم د هیواد د ادبیاتو د ودې له پاره ، د ادبي پیاوړو شخصیتونو د پیژندنې او د ادبي آثارو او



Ketabton.com

ډولونو د معرفی او څیړنې له پاره پرځای گټه واخیستله . سره له دې چې رژیم به هڅه کوله چې حتی هر علمي - ادبي سیمینار او مناسبت هم د خپلو تبلیغاتو پر یوه وسیله بدل کړي ، خو په څنگ کې به یې علمي دقیقو شخصیتونو د خپلو ادبیاتو د پیژندنې ، څیړنې او هر اړخیزې معرفۍ له پاره هم استفاده ترې وکړله . په دغه لړ کې یو شمیر گټور سیمینارونه یوازې او یوازې پر فرهنگ ، هنر او ادبیاتو د زهیرو کسانو په خپل نوښت ، تشبث ، منډو را منډو او هلو ځلو ترسره شول . د نمونې له پاره یې د ځینو دغه ډول ادبي علمي سیمینارونو یادونه کولی شوو :

د میا فقیرالله جلال آبادي علیه الرحمه سیمینار ( ۱۳۵۹ هـ . ش ) ، د امیر علي شیر نوایی سیمینار ( ۱۳۶۰ ) ، د اروابناد غلام محی‌الدین افغان سیمینار ( ۱۳۶۰ ) ، د استاد گل پاچا الفت سیمینار ( ۱۳۶۱ ) ، د استاد راحت زاخیلي سیمینار ( ۱۳٦٤ ) ، د امیر کروړ سوري غوري نړیوال سیمینار ( ۱۳٦۳ ) ، د تاریخ مرصع په باب سیمینار ( ۱۳٦۵ ) ، د استاد حمزه شینواري د اتیایمې کلیزې علمي - ادبي سیمینار ، د قنبر علي خان اورکزي سیمینار ، د مولانا نورالدین عبدالرحمان جامی سیمینار ، د کیسه لیکنې سیمینار ، د کوچنیانو د ادبیاتو سیمینار ، د معاصرو ادبیاتو په باب سیمینار ، د کره کتنې سیمینار ، د عبدالحمید مومند سیمینار او ځیني نور علمي ، ادبي سیمینارونه او غونډې .

په دغه ډول غونډو او سیمینارونو کې که رژیم ځیني تبلیغي برخې هم ور زیاتولې او د سیمینار په یو اړخ کې یې ځانته تبلیغات هم کول



Ketabton.com

خو حقیقت دا دی چې دغه ډول سیمینارونه په ډېرو کړاوونو د ځینو صمیمي او خواخوږو اشخاصو له خوا په ډېر کړاو او ډېرو منډو تړړو پر بیلا بیلو فرهنګي او ادبي مؤسساتو منل شوي او ترسره شوي دي . ځیني ګټور ادبي - علمي آثار په همدغو مناسبتونو چاپ شوي دي او د کلاسیکو او معاصرو ادبیاتو د بیلا بیلو څېړکو د څېړنې له پاره ځیني ګټور کارونه هم په کې شوي دي .

د منفردو تشبثاتو په لړ کې ، کولی شو چې د یو بل اساسي ټکي یادونه هم وکړو . مخکې مو هم ویلي دي چې د ګوندیانو د حزبي کړنلارې په وړاندې په ادبي ساحه کې هم د غیر ګوندي لیکوالو او شاعرانو له خوا یو مقاومت موجود و . دغه مقاومت د دغو ځانګړو هلو-ځلو بل هغه اړخ دی چې بې له شکه په معاصر ادبي بهیر کې یې خپل اغیز لرلی دی . د ابتذال پر ضد مبارزه ، د پردیتوب پر ضد مبارزه ، د ګوندي افراطي شعارونو پر ضد مبارزه او د روسي یرغل پر ضد مبارزه په دغه ډول آثارو او لیکنو کې له ډولونو څخه په یو ډول را څرګندیدای شي . یو شمیر داسې شعرونه او لنډې کیسې ولیکلې شوې او یو شمیر یې چاپ هم شوې چې د دغو مبارزو او مقاومتونو څرګونه په کې په ښکاره لیدل کیدای شي . داسې ځیني اثار یا په موقوتو خپرونو کې او یا په شعري او داستاني جونګونو کې چاپ هم شول . ځیني دغه ډول آثار ډیره موده د سانسور د متروکې خوراك هم شول ، په مطبعه کې بندیان هم شول ، خو یو شمیر یې خلکو ته هم ورسیدل او خپل لازم اغیز یې هم ولاره . (۱۰)

د پردیو تأثیراتو د منلو او دروسي ډوله لیکونکو د غندنې په لړ



Ketabton.com

کې ، دلته یوه کوچنۍ بیلګه زموږ په واك کې ده ، دغه بیلګه سره له دې چې د فولکلوري نظرونو په باب ده خو دلته یې لوستل بې ګټې نه دي . یو منلي لیکوال ښاغلي زلمي هیوادمل د « افغان یاد » په نامه کتاب کې چې د ارواښاد غلام محی الدین افغان د سیمینار د مقالو د مجموعې په توګه په ۱۳۶۰ هـ . ش کال کې په کابل کې چاپ شوی دی ، د ځینو په اصطلاح روسي ډوله علمي نظرونو په رابطه داسې کښل شوي دي :

« ... زموږ فولکلوري او کلتوري څېړنې هم د فکرونو قرباني شوي دي . دا کار په څو دلیلونو سم نه دی ، هر څوك چې هر فکر لري ، لري دې یې ، خپله مفکوره دې خوندي وساتي مګر په پښتني کلتور او فولکلور دې ملنډې نه وهل کیږي .

یو محترم محقق کښلي وو چې : « فولکلور باید د یوې تیورۍ په رڼا کې را ټول او وڅیړل شي ، دلته دا پوښتنه را ولاړیږي چې د کومې تیورۍ ؟ په هر صورت موږ چې پښتانه یو خپل خاص ملي ممیزات ، ځانګړي کلتوري ارزښتونه او نورې ځانګړنې لرو چې هغه د ځینو خاصو تیوریو په قالب کې ښايي ځای نه شي ، که چیرې موږ یې په زور ځایوو ، دا نو د هر چا خپله خوښه ده . زما په عقیده زموږ د فولکلور او کلتور د عمومي خصوصیاتو د څرګندونې له پاره باید :

۱ - ټولې فولکلوري پدیدې که نظم دی او که نثر ، د شکل له پلوه یې باید تر کتنې لاندې ونیسو . بیا یې بیلا بیلې ځانګې سره وګورو . کره او ثقه یې کړو ، اصناف یې وښیو او ټولې شکلي ځانګړنې یې له خپلو ټولو ممیزاتو سره بیان کړو .



Ketabton.com

۲ - له شکلي څرګندونو وروسته وار موضوعي څرګندونو ته رسېږي .
موږ باید د موضوع په لحاظ خپلې سندرې په داسې بڼه وڅېړو چې له
واقعیتونو ، پښتني خصایلو او د افغانانو له ملي میزانتو سره سمون وخوري .

زموږ تحلیلونه باید د سندرو په باب، د افغاني جامعې د ټولو
اجتماعي ، سیاسي ، ملي او کلتوري شرایطو تابع وي . ځکه زموږ
جامعه په اجتماعي ، اقتصادي او کلتوري لحاظ ځیني خاص ترکیبونه
او جوړښتونه لري چې د هر فکري سیر تابع کیدای نه شي . موږ باید په
دې څېړنو کې په هوایي او سرسري ډول ځیني خاص فکري تمایلات په
زوره ورننه نه باسو . زموږ د فولکلور او کلتور د هر اړخیزې څېړنې په
برخه کې دا خبره څېړونکو ته زباتیږي چې زموږ کلتور او د فولکلور
ټول اصناف د یوې خاصې معاشرې زیږنده او د یو داسې قوم معنوي
شتمني ده چې د دغه قوم ټول اجتماعي ، اقتصادي ، ملي او تاریخي
جوړښتونه او ارزښتونه په یو خاص ملي چوکاټ کې ځلوي . » (۱۱)

دلته باید دا خبره یاده کړو ، چې که په لوړ اقتباس کې له تیوري
څخه مقصد میتود او کومه خاصه کړنلاره وي ، نو دا خبره باك نه لري ،
ځکه موږ اړ یو ، چې خپلې څیړنې عصري کړو او د څېړنو له نړیوال
یون سره یې همګامه کړو ، خو که هدف مترقي تیوري (؟) وي نو بیا
دا خبره جواز نه لري .

دغه راز د « شعرونه او نقدونه » په نوم هغه اثر چې په ۱۳۶۵ هـ . ش
کال کې په کابل کې خپور شوی دی ، د ثور له کودتا را وروسته د
پښتو د معاصر شعر په بیلا بیلو ناوړه شعاري بحرانونو او د شعر پر
ذوال خبرې په کې شوي دي . د دې کتاب په یوه برخه کې د اوسني شعر



Ketabton.com

پر ابتذال خبرې شوي او یو ځای داسې لیکل شوي دي :

« ... خو را ګرځو ، زموږ معاصر پښتو شعر ته : پښتو شعر یو غوړېدلی تاریخ لري او موږ له هرڅه نه زیاتې د شعر را پاتې مجموعې او بیلګې لرو . د شعر په دغه تاریخي سیر کې زموږ د اولس ټول « هنري اوج » او لوړتوب پروت دی . دغه شعر د لوړو ژورو درلودونکی دی او د یوه په زړه پورې تاریخ لرونکی ، خو زموږ اوسنی شعر او زموږ معاصر شعر او زموږ ځوان شعر د بحث وړ دی ، د انتقاد وړ دی او د کره کتنې وړ ! داسې لکه چې له یوې خوا له خپل دروند فرهنګي او ادبي میراث څخه جلا پاتې شوی وي او له بلې خوا د خپل عصر له غوښتنو څخه او په دې منځ کې یې ادبي معیار له یوې ورځې نه بلې ورځې ته راټیټ شوی وي . د دې خبرې که علتونه ډیر وي ، یو علت یې خامخا همدا دی چې زموږ شعر له نقد څخه ډیر لیرې او جلا پاتې شوی دی . زموږ « اوسنی شعر » او « نقد » دوه لیرې شوي شیان دي چې باید سره نژدې وای . باید شعر نقد شي ، که مبتذل وي باید رد شي او که د معاصر شعر ښه او « اصیله » نمونه وي ، باید تائید شي ، باید تعمیم شي او باید د اوسني بیلګه یې شعر په ښه وړاندې شي ، خو له بده مرغه چې داسې نه ده . لا د نقد زمینه کمه ده او لا د نقد حوصله کمه ده ... پښتو معاصر شعر په همداسې یو سرنوشت اخته دی ... زموږ معاصر شعر او هغه شعر چې اوس په ورځپاڼو ، مجلو او د ډله - ییزې مفاهمې د نورو وسایلو له لارې خپرېږي ، سخت کمزوری دی ، نیمګړی دی ، مخ په ځوړ روان دی او معیار یې له یوې ورځې نه بلې ورځې ته را ټیټېږي . د عشقي سندرو معیار مو تر همدغه حده



Ketabton.com

رارسیدلی دی چې :

جانانه تا سره زه مینه پخوانۍ لرمه    خوی د هوسۍ لرمه راځه راځه

او یا دا چې :

ښایسته ځان مې جوړ کړی په هنر راځه راځه

گودر ته یم روانه مازدیگر راځه راځه

او په چکر راځه راځه ...

او : راشه جانانه زما ته په ما گرانه یې    ته په ما گرانه یې راشه جانانه زما

او په همدې توگه دغسې نورې زیاتې تکراري او بې خونده خبرې ، او په اصطلاح د« رسالت لرونکي » او یا هم وطني شعرونو معیار په دغه ځای ولاړ پاتې دی چې :

- زه د وطن اب و دانه خورم ( خذمت ) به یې ضرور کړم ...

او : چې له هیبته مې په غرو کې ناقراره گرځي

زما د لاسه در په در د غرو زمریان وگوره

او : دا وطن په هر صورت زمونږ میراث دی (!)

او : لکه شاهین لکه عنقا بلند پرواز شاعر یم    زه دوران ساز شاعر یم

او : د وطن دشتې او غرونه رابانديې گران دي    سیندونه رابانديې گران دي ،

ډاگونه را باندې گران دي ...

او : په لوړو غرونو قسم خورم ، په سیندونه سوگند خورم ... او په همدې ډول نورې تشې خبرې چې نه شعر دی او نه نثر !

له دغه ډول شعرونو سره باید څه وشي ؟ باید رد شي ، باید انتقاد پرې وشي او لکه چې یوه لیکوال د بدو کتابونو په باب کښلي دي :

« باید وویل شي چې نن ورځ ناوړه او زیان لرونکي کتابونه نه یوازې دا



Ketabton.com

چې د یو محل لوستلو ارزښت هم نه لري ، بلکه د سوزولو وړ دي . » او دغه ډول شعرونه هم باید وسوزول شي ، ځکه چې دغسې شعرونه په لوستلو نه ارزي ، باید شاعر یې وپوهول شي ( که شاعر وي ! ) چې دغه خبرې شعر نه دی ، داسې چې خلك یې شعر نه گڼي او باید یې هم ونه گڼي .

... باید معاصر پښتو شعر نقد شي . منقد د ابتذال او انحطاط مخه ونیسي...»[۱۲] په همدغه اثر کې یو بل ځای لولو :

« ... کیدای شي پوښتنه پیدا شي چې معاصر پښتو شعر باید ولې دومره په سختۍ نقد شي ؟ خو ولې باید نقد نه شي ؟ ولې باید بې انصافي او بې رحمي وگڼله شي او ولې ترې باید په ډار سره ډډه وشي ؟ آیا دغسې شاعري د ژبې له ادبي پانگې سره بې انصافي او بې رحمي نه ده ؟ ... کله چې موږ ووینو زموږ شعر ، زموږ د ځوانانو سندرې او زموږ د معاصرینو غږ ، هغه هم شعري او هنري غږ سخت کمزوری دی ، د اوریدو وړ نه دی ، هیڅ ډول اجتماعي او هنري ارزښت نه لري ، نو بیایې ولې باید شعر وگڼو ؟ نو بیایې ولې باید لیکونکی ، ویونکی ( او یا په سمه او حسابي وینا جوړوونکی ) شاعر وگڼو او هنرمند ؟ یو وخت د پښتو ژبې له یوه نامتو معاصر شاعر څخه په یوه مرکه کې پوښتنه شوې وه چې د پښتو ژبې له اوسني شاعر څخه ستا هیله څه ده ؟ هغه ځواب ورکړی و : « زما یوازینۍ هیله دا ده چې له شعر سره ظلم ونه کړي ، مثلاً نظم ته شعر او ناظم ته شاعر ونه وایي . شعر په بې ځایه غوړه مالیو او بې ځایه ستاینو ککړ او ملوث نه کړي . » (۱۳) خو زموږ ځیني شاعران ( یا شعر جوړوونکي ) له شعر سره ظلم کوي .

---



Ketabton.com

هغوی شاعران خو لا څه چې ناظمان هم نه دي . د هغوی له خوا جوړې شوې خبرې کاشکې لږ تر لږه نظم خو وای . د نظم په اصولو هم برابرې خبرې نه دي ، شعر او شعري اصول خو به پرېږدو یوې خواته . هغوی له ښه شعر سره ظلم کوي او له ښه شاعر سره او په کلي ډول له ژبې سره ، د ژبې له ادبیاتو سره او له فرهنګ سره . همدغه خبره ده چې کله کله د شعر د ارزښت په لړ کې پوښتنه پیدا شي . همدغه خبره ده چې لوستونکي اوعلاقمندان ترې زړه تورن شي او یا خو حتی ښه شاعران د شعر له روان بهیر څخه خوابدي شي ... » (۱٤)

د داسې لیکنو ، د داسې آثارو او د داسې مقاومتونو نمونې زیاتې دي . په تیره بیا د شعر او کیسه لیکنې په برخه کې نورې داسې ډېرې په زړه پورې بیلګې ترلاسه کیدای شي چې د ځانګړو مقاومتونو څرکونه ترې په ښه ډول را څرګند شي .



Ketabton.com

# د ثور څوکه تا

## او پر څو مسیرونو د افغانستان د معاصرو ادبیاتو د یون ویش

د افغانستان د ادبیاتو په باب خبره ، د افغانستان د ټولو خلکو د هنري - ادبي ارزښتناکو میراثونو په باب خبره ده . د افغانستان د ادبیاتو پر ماضي خبرې کول ، په حقیقت کښې د افغانستان پر تاریخ خبرې کول دي . داسې خو د ادبیاتو ، د نن او سبا په باب خبرې هم د ټول اولس په څکله ، د ټول اولس د فرهنګي او ادبي وضعیت ، د نن او سبا په باب خبري دي . (۱۵)

ادبي وضعیت په مستقیم او یا هم په غیر مستقیم ډول د اولس له سیاسي - اجتماعي حالاتو څخه اغیزمن کیږي . کله چې موږ د افغانستان د ادبیاتو تاریخ مطالعه کوو ، نو د سیاسي او ټولنیزو پیښو او تاریخي حالاتو په رڼا کښې یې باید ولولو او څېړنه پرې وکړو . د تاریخ هره حادثه د ادبي آثارو د ایجاد له پاره او یا د ادبي بهیر د پرمختګ یا خنډ او ځنډ له پاره اغیزمنه وه او ده . ادبیاتو به هم ، د



Ketabton.com

دغه ډول حوادثو په ایجاد کې او یا د پیښو د انګیزو او بیا هڅونې په توګه خپله ونډه لرلې وي . ادبي آثارو به هم په خپل خپل ځای کې ، خپل خپل کار کړی وي . خو که په مجموعي توګه د یوې خاصې زماني مقطع پر عمومي ادبي بهیر او د دغه بهیر د ودې او یون په باب خبرې کیږي نو ، د ټولنې تاریخ ، سیاسي او ټولنیز حالات او دغه ډول نور مسایل په کې دخیل دي .

د افغانستان معاصر ادبیات ، د پرنګي د ښکیلاك په وړاندې زموږ د اولس د مقاومت او غزا په جنګیالیو هڅو ، د مشروطیت د نهضت د سربښندونکو مبارزو ، د سراج الاخبار د مطبوعاتي او فرهنګي یون په سلسلو او دغه راز د نړیوالو عمومي بدلونونو په رڼا کې خپله څیره را ـ څرګنده او مشخصه کړه . بیلا بیلو عواملو د افغانستان د معاصرو ادبیاتو په تشخص او ځلونه کې خپله خپله ونډه لرلې ده . دا د معاصرو ادبیاتو د تاریخي بهیر خبره ده ، خو کومه اساسي خبره چې غواړم په مشخص ډول یې د افغانستان د معاصرو ادبیاتو په رابطه مطرح کړم ، هغه دا ده :

د ثور کودتا او وروسته د روسانو نیغ پوځي یرغل ، زموږ پر ادبیاتو هم ډیرې ناوړې اغیزې وکړې . همدغه حادثه وه ، چې زموږ ادبیات یې له بده مرغه په لومړي ګام کښې پر بیلو بیلو مسیرونو وویشل . د یوه واحد اولس ادبیات ټوټې ټوټې شول او ادبي بهیر ، لارې لارې شو . ګوندي لیکوال ، په اصطلاح مخکښ لیکوال شول ، یو شمیر ځان ساتي یې په ځان پسې روان کړل ، یو شمیر وو ، چې خپل ځانونه یې یو اړخ ته کړل ، یو شمیر بیخي چوپ شول ، یو شمیر داسې



Ketabton.com

وو چې پټ پټ به یې څه ویل او کښل او په پټه به یې یو بل ته سره اورول ، یو شمیر داسې وو چې د افغانستان د خلکو د سپیڅلي جهاد د تودو سنګرونو په بل اړخ کښې یې د ادبي مقاومت هنګامې تودې کړې او یو شمیر بیا داسې شول چې د نړۍ لیرې ګوټونو ته مهاجر شول ، د نړۍ په بیلو بیلو هیوادونو کښې وویشل شول ، ځینو یې په هماغو حالاتو کښې هم څه ولیکل اود هیواد له ماتم سره یې د خپل قلم غږ ملګری کړ .

دا او داسې نور مسیرونه ، زموږ د معاصرو ادبیاتو د یوې لارې او «څو لارې » تاکي . دلته به د همدغو مسیرونو ، د همدغو لارو او « څو- لارو » په باب خپله خبره لږه نوره هم اوږده او مشخصه کړو :

۱ - د ثور د کودتا له پیلامې سره سم ، ادبیات په رسمي او تشریفاتي شکل ، د یوې وچې تبلیغاتي وسیلې په توګه استخدام شول . د رسالت ، او « مسؤولیت » او « تعهد » له شعارونو څخه په استفادې سره یې هر څه د خپل ګوند تبلیغاتو ته وقف کړل . یو شمیر ګوندي شاعران او یو شمیر ځان ساتي په دغه مسیر کې تر ټولو وړاندې شول . حتی له هنري ارزښتونو څخه ناوړه توجیهات هم کیدای شول ، لکه دا چې اوس د هنري نغښتو ارزښتونو ، تشبیه ، استعارې ، سمبول او داسې نورو خبرو ضرورت نه شته ، اوس د انقلاب دوران دی او باید هر څه بربنډ او څرګند وویل شي .

۲ - د دغه مسیر په څنګ کې یو بل تت شانته مسیر هم د یادونې وړ دی . په هماغه دول حالاتو کښې داسې ګڼ شمیر لیکوال او شاعران وو ، چې خپل هنر یې هغو تشو لفاظیو او تبلیغاتو ته نه شو ځانګړی


Ketabton.com

کولی . داسی کسان لومړی چوپ شول ، بیایې په ډار یا جرأت قلم ته لاس کړ ، له ځانه سره یې یو څه ولیکل ، بیایې څه موده وروسته کوم ډیر باوري اشنا ته وښودل ، بیا به په ګډه څو کسانو داسې آثار سره ولوستل ، بیا به ځینو دغو ښو آثارو په څه سمبول او استعاره او نغاړلي هنر کې په مشاعره یا کومه مجله او خپرونه کې د نشر لاره هم پیدا کړه ، او داسې دغه تت او تر یوه وخته خاموش مسیر هم ورو ورو په یوه نسبتاً ارزښتمن ادبي مسیر بدل شو .

دغه مسیر سره له دې چې د جهاد او مقاومت څرګند بهیر نه دی ، خو د مقاومت یو لړ تت او په را وروسته کلونو کې یو لړ څرګند څرکونه په کې را تر سترګو کیږي . دغه مسیر د ثور د کودتا په را وروسته کلونو کې قوت وموند ، د هیواد ډیر ښه شاعران او لیکوال د همدغه مسیر په لیکو کې ودریدل ، دلته باید په زغرده وویل شي چې دا کوم منسجم ، مشخص یا د یوې سیاسي سازماندهۍ په وړانګو کې سازمان شوی مسیر نه دی چې ګوندې د ټاکلو قواعدو او مقرراتو په رڼا کې د مقاومت په شکل مبارزه او ادبي یون کوي . دا په حقیقت کې د افغانستان د اولس د هیلو او غوښتنو په څنګ کې د دریدلو په مانا باید تعبیر شي ، خو په یو څه پاشلي ډول .

په دغه مسیر کې څو بیلا بیل ټکي د پاملرنې وړ دي :

الف : د روسانو د پوځي یرغل په وړاندې کرکه د دغه مسیر د ادبي آثارو اساسي برخه جوړوي . که په څرګنده یې نوم نه شي اخیستلای ، نو د « اغیار » « پردي » « اجنبي » او حتی پرنګي او مغول په استعارو او نومونو کله کله ټولو هیوادوالو ته د ور رسیدلو او خپریدلو



Ketabton.com

زمینې هم پیدا کولای شي .

ب : په دغه مسیر کې هغه کیږي ، د ګوندي دستورونو د پلي کولو او تشو تبلیغاتو پرځای ادبي او هنري اصالت ته زیاته پاملرنه وشي .

ج : د حالاتو د تقاضا له مخې کله کله پیچلې سمبولیزم د دغه مسیر د ادبي هنري آثارو د ایجاد له پاره را منځته کیږي .

د : کله کله بنایي په غنایي او عاشقانه اثر کې هم د مقاومت او د اولس د ویلاړ تت څرکونه نغښتل شوي وي .

هـ : په غونډو او مشاعرو کې له نیکه مرغه د همدغه ډول آثارو زیات هرکلی کیږي او له وچو تبلیغاتي او د ګوند له دستوري آثارو څخه کرکه کیږي . حتی ډیر هغه کسان چې پخوا به یې د دستوري شاعرانو پر پل ، پل ایښوده ، د ادبي ، او اجتماعي اصالت په درک همدغه مسیر ته را اوړي .

و : په دغه مسیر کې څه داسې ادبي آثار هم ایجادیږي او یا یې د ایجاد له پاره هڅې کیږي چې د مایوسۍ او ناهیلۍ څپې پرې زوروري دي . د دې ټکي عوامل باید د افغانستان په داخل کې د اجتماعي ، سیاسي او نظامي حالاتو او تشدد او بد مرغۍ په لمن کې ولټول شي .

ز : له جنګ څخه کرکه په داسې آثارو کې په حقیقت کې د کمونیزم له وحشت څخه د کرکې مانا لري ، هغوی چې زموږ پر مسلمان ملت یې دغه جنګ تحمیل کړی دی . هغوی چې په خپل قاموس کې یې دا عادلانه جنګ باله .

له دغه ډول اثارو څخه ځیني یې د نشر زمینه هم پیدا کوي . سره له دې چې د اوس له پاره هغه ټولې نمونې زموږ په لاس کې نه شته ، خو



Ketabton.com

بیا هم کیدی شي ، یواځې د ځونې په توګه یې څو بیلګې وړاندې شي . ښايي ځيني يې په غنايي انداز کې د څه مهمو ټکو لرونکي وي . څو داسې ځونې راوړو چې په هماغه ډول حالاتو کې یې د خپریدلو موقع موندلې ده . د کمونیزم د تسلط په دوران کې د یو شاعر دغه شعر هم بې له مقاومته نور څه کیدای شي :

خزان نه څه ګیله ده چې بهار یې داسې وي
اشنا څه ملامت دی چې ریبار یې داسې وي
زما له غمه ډك زړه یې کړ خاورو سره خاورې
بې غمو له غم څه زده چې غمخوار یې داسې وي
د هیلو قافلې مې چې لوټیږي ورته خاندي
خاروان ته ګناه نه شته چې سالار یې داسې وي
شفق د سباوون یې چې زما په وینو رنګ دی
نو شپه خو به خود شپه وي چې سهار یې داسې وي
په زړه ټپ د بیلتون مې شو ناسور کله رغیږي
توبه له هغې توري چې پرهار یې داسې وي
رنديږي چې پرې سترګې د بلبل او د بورا
خارزار ورنه ډیر ښه دی چې ګلزار یې داسې وي
د خامو وینو بوي یې ده فضا په سر اخیستې
د دار به یې څه وایم چې دربار یې داسې وي
خپلواك یې د ژوند ساه وي چې ترې واخیسته شي واك
د مړو په حساب وي چې اختیار یې داسې وي



Ketabton.com

نیولی یې له غلو سره د ژوند د لارې سر
ویده به یې څه وکړي چې بیدار یې داسې وي
هرګوټ هره کوڅه یې د خوارانو ګورستان دی
له دښته نه یې څه غواړې چې ښار یې داسې وي
پالنه د اغزو کړي خو د ګل پوښتنه نه کړي
هغه به څنګه ګل وي چې مالیار یې داسې وي (۱٦)

او یا دا شعر چې له ډولونو څخه په یو ډول د افغانستان د مقاومت د ادب رنګ لري او هغو د قدرت پر ګدیو مغرورو ته خطاب په کې نغښتی دي :

تاسو که جامونه په سر واړول
مونږه هم خمونه په سر واړول
تاسو د خوښۍ نشې په سر کړلې
مونږه ټول غمونه په سر واړول
تاسو سره ګلونه کړل کتار په سر
مونږه سره اورونه په سر واړول
وګورئ قوت د مینتوب زمونږ
څنګه مو لوی غرونه په سر واړول
څه له مو طبیبه د لاس رګ نیسې
اوس خو مو دردونه په سر واړول (۱۷)

یا دا چې :

شي به حرم ماته دا شاړې کوڅې
په کې د نورو قافلې ورکې شوې



Ketabton.com

دواړه به یو شو دې پردو ته اشنا
که مو د زړونو فاصلې ورکې شوې
اغیاره ځان دې په ګواښنو ستړی کړ
کله مې زړه کې ولولې ورکې شوې
بیا به کوو د زړګي خواله سره
چې د غمونو مرحلې ورکې شوې (۱۸)

یا لا هغه وخت چې روس پر افغانستان خپله خیټه اچولې ده ، د یو داسې شعر کښنلو او خپرولو هم زړه غوښت :

ښنځې مې په زړه د غم نوکارې دي
دا دې مینې وایه کومې چارې دي
ما به چې ځارلې هر ماښام درته
ډکې له پردو نه هغه لارې دي
مات په کې غرور د زورورو شو
دا شاړې کوڅې خدایزو خونخوارې دي (۱۹)

یا :

په رندانو که ساقي جامونه ویشي
دا وختونه هم په ما غمونه ویشي
اشنا بیرته دې ملهم کړه ترینه لیرې
په زخمو مې د زړګي داغونه ویشي
مالي ګوره چې اغیار پرې راټول شوي
په خپل منځ کې ستا د باغ ګلونه ویشي (۲۰)



Ketabton.com

یا : وخته سبا به دې پیغور را کاوه

ښه شو چې چاته مې سجده ونه کړه (۲۱)

او یا د یو ځوان شاعر دغه شعر ته وګورئ چې په ۱۳٦۷ هـ . ش کال کې یې په کابل کې ویلی او په ۱۳٦۹ هـ . ش یې د افغانستان د لیکوالو انجمن له لارې په یوه مجموعه کې چاپ کړی دی :

ارمان د اوښکو نازولو وخوړ

لکه موسکی شبنم چې ګلو وخوړ

د دې ګلاب وطن حسن مې

څه هم پردیو څه هم خپلو وخوړ

چا ته لمبه احساس وښیم

وطـن زمونږه نابللو وخوړ

څه بې پښتو شول پښتانه د وختو

باج د جنګونو تږې مغلو وخوړ ... (۲۲)

دغه رنګ د زخمي وطن تر سرلیك لاندې دغه شعر هم ولولئ چې په ۱۳٦۷ هـ . ش کال کې ویل شوی او په ۱۳٦۹ هـ . ش کال کې خپور شوی دی :

تانه وه که مانه وه خو ورانه شوه

دا د حق خبره کول ګرانه شوه

خدایه دې وطـن کې ولې هرڅه نه

وینه د انسان ډیره ارزانه شوه

خدایږو غورځوي مو د مرګ کندې ته

دا قافله کوم لورې روانه شوه



Ketabton.com

عقله دې زخمي زخمي وطن کې نن
لوبه د مرګي ډیره اسانه شوه
ستا د غم په جیل کې مې د حق چغه
پورته ان د ظلم تر اسمانه شوه ... (۲۳)

دغه مسیر سره له دې چې په داخل کې او د هغوی په څنګ کې زیات منسجم او منظم نه دی ، خو د هیواد په سطح یو مسلط بهیر دی . دا د پاملرنې وړ یوه خبره ده . دا د اولس د عامو هیلو او آرمانونو انعکاس دی او دا ، ادبي اصالت او هنري ځانګړنو او ارزښتونو ته یو ځواب دی .

۳ - د افغانستان د اولس د وسله وال جهاد په څنګ کې ، ادبي هلې ځلې ، د قلمي او فرهنګي جهاد د سنګرونو یوه اساسي برخه ده . د جهادي ادبیاتو مسیر ، د افغانستان په معاصرو ادبیاتو کې یو نوی ، ځلند او پیاوړی څپرکی دی . دا هغه څپرکی دی ، چې له توروګولیو په کې جوړېدای شي او له قلم څخه توره او ټوپک .

د مقاومت د شعر په سلسلو کې وایي چې « ښایي که د فلسطین د اشغال پیښه نه وای را منځته شوای نو عربو به ، نه اوسنی سیاسي او فکري رشد پیداکړی وای او نه خو به عربي شعر په تېره د فلسطین شعر ، یوې داسې درجې ځلا او عظمت ته رسیدلی‌وای » . (۲٤)

موږ ویلای شو چې که د روس یرغل او د دغه پوځي وحشي یرغل په وړاندې ، د افغانانو مقدس جهاد او مقاومت نه وای ، نو که له یوې خوا خو به ، نه په نړۍ کې د کمونیزم وحشت له منځه تللی وای ، نه به په ټوله نړۍ کې د افکارو دومره بدلون را منځته شوی وای ، نه به د



Ketabton.com

روسانو په منګولو کې ښکيل اولسونه داسې په بيړه د هغوی له منګولو خلاص شوی وای ، نو له بلې خوا به نه زموږ په معاصر شعر کې ، د ننګ او جنګ په ډګر کې ، يو داسې نوی څپرکی ځليدلی وای .

نوميالی ليکوال او شاعر ښاغلی هميش خليل ليکي :

« ... او هرکله چې د افغان توره زنګ ونيسي ، نو چيرته نه چيرته پرې څوك د اقتدار په هوس وبلوسيږي او د افغانستان د خوږو له ستوني کولو نه وړاندې نه صرف خپله له ستوني تير شي ، بلکه وينه يې هم د دغه تورې د ځلا او بريښنا سوب شي . يو ځل چې دا توره زنګ شوه ، نو د يونانيانو وينې يې په کار شوې ، بيا چې زنګ شوه ، نو د چنګيزيانو په وينو سپينه شوه ، بيا چې زنګ شوه نو مغول يې پرې را پينس کړه ، بيا چې زنګ شوه پيرنګی يې وروستو او بيا چې زنګ شوه نو سره ور وبلوسيدل ... او زه وايم داسې به بل څوك وي چې زما د غازي د تورې مخ روڼې له پاره بيا د ده په مقدسه خاوره وبلوسي ؟ » (۲۵)

دې ټکی ته موږ د خپلو ادبياتو په تاريخي بهير کې هم په ښه توګه متوجه کيدلای شو . په تيره بيا زموږ د شعر د تورې د زنګ له پاره هم دغه تلوسې او د دغو بلوسو په وړاندې زموږ د اولس مقاومت ، غزا او سرښندنې ، ډيره ښه ځلا ورکړې ده . له همدې کبله ده چې زموږ په ادبياتو کې د هند د مغولي دولت د استبداد ، د پرنګي د ښکيلاك او د روس د يرغل په وړاندې د مقاومت او جهاد د سنګرونو شاعرانه هنګامې د خپل خپل وخت د ادبياتو لوړ ، ځليدونکي او ښکلي بابونه جوړوي .

د روسي يرغل په وړاندې زموږ ادبيات ، د پخوانيو دغه شان ورته بابونو په تناسب هم زيات ځليدونکي ، منظم او منسجم دي . له يوې



Ketabton.com

خوا له بده مرغه ، دغه يرغل د نړۍ په معاصر تاريخ کې تر ټولو تراژيك او غم لړلی اقدام و او له بلې خوا ، له نيکه مرغه ، زموږ د ميړني او مجاهد اولس قرباني او وياړونه هم بې ساري وو . د ادبياتو په برخه کې هم خبره همداسې شوه . ګڼ شمير ليکوالو د هجرت کاروانونو ملګرتيا وکړه . له ادبياتو څخه يې د مقاومت د يوې اساسي برخې په توګه ګټه واخيستله او تر پای پورې يې د جهاد د تودو مورچلو په څنګ کې ادبي جهاد ته په پرله پسې توګه ادامه ورکړه . د ادبي او قلمي جهاد په اوږدو کې د ګڼ شمير ښو ليکوالو او شاعرانو نومونه د يادونې او ستاينې وړ دي . دغو ليکوالو او شاعرانو د هجرت په سيمه ، په پاکستان کې ( او يو څه برخه يې په ايران کې ) د شعر او ادبياتو هنګامې او انګازې ګرمې کړې ، له شعرونو څخه ګڼ شمير جهادي سرودونه جوړ شول . د شعر ګڼ شمير مجموعې يې چاپ او خپرې کړې ، د سنګرونو ترانې يې د جهاد سنګرونو ، کليو ، بانډو او ښارونو ته ورسولې . د ځانګړو ادبي آثارو د خپريدو په څنګ کې يې په مجلو ، جريدو او ورځپاڼو کې هم ادبي او قلمي جهاد ته دوام ورکړ .

د دغو ادبياتو او يا زموږ د معاصرو ادبياتو د دغه ارزښتمن مسير يو څو بارز خصوصيات داسې شميرلی شو :

الف : د جهاد او مقاومت ادبيات وو ، چې زموږ د مقدس جهاد هنګامې يې په ادبي آثارو کې پورته کړې ، ويې ځلولې ، خپلو اولسونو او ټولې نړۍ ته يې ورسولې او داسې خو همدغه جهادي ادب و چې د فرهنګي او قلمي جهاد سنګرونه يې ګرم وساتل .

ب : زموږ په معاصرو ادبياتو کې يې د متن او محتوی په اساس



Ketabton.com

يو بنيادي بدلون را منځته کړ .

ج : که موږ د دغو آثارو د ادبي او هنري ارزښتونو جاج اخلو ، نو ښايي د يو شمير ښو آثارو په څنگ کې له داسې تکيو سره هم مخامخ شو چې په کې ويل شوي دي ، دغه آثار د بيان له پلوه ډير بربنډ دي او يا يې هنري ارزښتونو ته غور په کار دی . دا يو منطقي ټکی هم دی . په حقيقت کې د هر ټولنيز او سياسي بدلون په پيلامه کې د ادبي آثارو د فورم او هنري ارزښتونو اړخ يو څه د تأمل وړ برخې لري . زموږ د ادبياتو د دغه مسير ادبي او هنري ارزښتونو ته هم ورو ورو پاملرنه زياتيږي او ادبي هنري کمزوري يې ورو ورو کميږي .

د : د جهاد او مقاومت ادبياتو د افغانستان د ادبياتو هغه تاريخي عنعنه يوځل بيا را ژوندۍ کړه ، چې د پيړيو په اوږدو کې يې د خپل ادبي تاريخ په څولۍ کې د امانت په توگه ساتلې وه . دا د مقاومت عنعنه ، او ظلم ، جبر او استبداد ته د نه ايليدلو را پاتې عنعنه وه . دا ځل دغه عنعنه نه يواځې دا چې يو ځل بيا را ژوندۍ شوه ، نوې ولولې ورسره وې ، نوې ځلايې لرله او د ښايست نوې وړانگې يې ملگرې وې .

خو اوس چې موږ د خپل ادبي معاصر بهير ، د دغه ارزښتناك مسير په باب د مطالعې او څيړنې تکل لرو ، نو د تأمل وړځينو هغو ټکيو په باب هم غور په کار دی چې د دغه مسير په يون کې را تر سترگو کيدای شي .

الف : دا خبره سمه ده چې په دغه حساس تاريخي دوران کې چې موږ ژوند په کې کوو او په تيره بيا په دغه ډول حالاتو کې چې زموږ اولس ورسره لاس او گريوان دی ، سياست او سياسي مسايل د حوادثو



Ketabton.com

او پدیدو په مرکز کې واقع کیږي ، که څوك وغواړي او که نه ، خو هر عمل یو ډول سیاسي انګیزې او یا سیاسي پایلې لري . ادبیات هم بې له شکه چې له دغه ډول اجتماعي او سیاسي فضا څخه اغیزمن کیږي . دلته خبره د سیاست او ادبیاتو د پولو او سرحدونو یا جلاوالي او ورته-والي په باریکو او ظریفو اړیکو نه ده ، خو غواړم ووایم چې د دغو ضرورتونو ، حالاتو او ایجاباتو د پام کې ساتلو په څنګ کې ، ادبیات ځیني خپلې غوښتنې ، خپل ارزښتونه او خپلې ځانګړنې هم لري . له همدې کبله ده چې ادبیات له یوې مخې سیاست ته استخدامول د یو څه غور وړ دي . په دغو سیاسي اجتماعي حالاتو مور په تفصیل سره مخکې خبرې وکړې ، ومو ویل چې زموږ د اولس د وسله وال جهاد په څنګ کې ، څنګه زموږ د اولس لیکوالو او شاعرانو د قلم له تورو ، د ټوپك ګولۍ جوړې کړې دي ، دا د اولس په سطحه کې یوه عامه خبره او یو عام ارزښت دی ، دغسې ادبي آثار بې له شکه چې د ادبي تاریخ تلپاتې بیلګې جوړوي ، خو په داسې آثارو کې به یواځې تش سیاسي تبلیغات نه وي ، د یو قوي متن په څنګ کې به یوه ژوره عاطفه ورسره وي ، سنګلی بیان به لري ، د حوادثو ژورو ته به ورننوځي ، ټولې هنري او ادبي ځانګړنې به په پام کې لري او تر هرڅه په زړه پورې دا چې د هغه دقیق ایجادي انفرادیت څرکونه به په کې وي چې یو لوړ لیکوال او شاعر یې د یو هنرمند لیکوال او شاعر په حیثیت خامخا باید لرونکی وي . زموږ د ادبیاتو په دغه مسیر کې دې اړخ ته لازیات غور په کار دی .

ب : کوم بل ټکی چې زموږ د ادبیاتو په دغه مسیر کې خبرې پرې کیدای شي ، هغه دا دی چې د یو واحد اولس د ادبیاتو د مشترکو هڅو



Ketabton.com

او ګډو اهدافو پر لور د ادبي یون پرځای ، د ګروپي او تنظیمي تمایلاتو محدودیت ، زموږ عمومي ادبي بهیر سنایي یو څه اغیزمن کړی وي . یایې سنایي زموږ لیکوال او شاعران یو له بله یو څه لیرې سره ساتلي وي . خبره دا ده چې لیکوال او شاعر یواځې د یو تنظیم په چوکاټ کې محدود نه وي ، هغه د ټول وطن او اولس شاعر او لیکوال دی . هغه که د کوم ځانګړي سیاسي تنظیم غړی وي ، هم د ټول وطن شاعر او لیکوال دی او که ، له سیاسي مشخصو هلو ځلو سره هیڅ مینه ونه لري او د هیڅ کوم سیاسي ګوند او تنظیم غړی نه وي ، بیا هم د اولس شاعر او لیکوال دی . لږ تر لږه ، د ادبیاتو په سیمه کې د دغو توپیرونو ځای نه شته . ټول شاعران او لیکوال باید سره نږدې شي ، د یوه واحد اولس د ادبیاتو د انکشاف په امید سره یوځای شي ، او د سیاسي او تنظیمي اختلافونو ( او کله کله په ځینو مسایلو کې د نظر له اختلاف سره سره ) ګډ ادبي کار وکړي ، د یوه واحد اولس ادبیات همداسې جوړېږي او همداسې د پرمختګ پوړیو ته خیژي . لیکوال باید د اولس عمومي او هراړخیزو مسایلو ته په پراخه توګه وګوري او همداسې لیکنې وکړي ، همداسې شعر ووايي او همداسې نور ادبي آثار ایجاد کړي .

زموږ ادبیاتو یوځل دغه ترخه تجربه تر سره کړې ده . فکر کوم چې بیا د دغې ترخې تجربې تکرار ته ضرورت نه وي . د ثور د خونړۍ کودتا له پیلامې سره سم زموږ ادبیاتو دا تجربه وکړه . هغوی هم ادبیات یواځې ګوندي ګټو ته ځانګړې کړل . دا د لینین دستور و . هغه فرمان صادر کړی و چې ټول ادبیات باید یواځې او یواځې د مارکسیزم او لنینیزم خدمت ته وګمارل شي . په دغو ترخو تجربو کې هغوی نه یواځې



Ketabton.com

خپل ادبي بهیر له ماضي څخه په مجرده توګه را جلا کړ ، هغه ټول ادبي عظمت یې هیر کړ او د هر ډول لوړو او ښکلیو ادبي آثارو د ایجاد مخه یې بنده کړه . هرڅه یې د ګوند دستورونو او فرمانونو ته ځانګړي کړل . اوس پرې پښیماني څرګندوي ، خو « له ورخ تیرې اوبه کله را ـ جار وځي ... » پر موږ یې هم همدغسې یوه تجربه را تحمیل کړه او یو ځل بیایې په افغانستان کې تکرار کړه او پایله یې داسې شوه لکه د هغوی خپله پایله .

اوس چې هغه ټولې تجربې زموږ مخې ته پرتې دي ، هغه ټوله ترخه ماضي مو مخې مخې ته کیږي ، راځئ چې د خپلو ادبیاتو په دغه ارزښتمن مسیر کې پردې ټکیو فکر او غور وکړو .

ج : په دغه مسیر کې د غنایي - عاطفي شاعرۍ ځای یا هیڅ نه لیدل کیږي او یا ورته زیات محدودیتونه او زنځیرونه پراته دي .

د : د دغه مسیر په ادبیاتو کې داسې آثار هم را څرګندیږي چې د پیښو ظاهر یې زیات برجسته دی او دننه او عمق ته تګ نه په کې لیدل کیږي او یا دا چې له دې اړخه کمزوري دي .

هـ : دومره چې مو د نړۍ په ټول معاصر تاریخ کې ، مقاومت او جهاد یوه عظیمه حادثه ده ، زموږ ادبي آثار هغومره عظیم نه دي . د یو داسې عظیم جهاد او مقاومت له پاره د همداسې سترو او پراخو ادبي آثارو ضرورت لیدل کیږي . دغه ټکی له موږ او تاسو ټولو څخه د عظیم ادبي کار او د « صمیمیت » او « صداقت » د پرله پسې ادبي هنري کار غوښتنه کوي . د شعر وضعیت که یو څه په زړه پورې وي ، د داستاني آثارو او په تیره بیا د ناول او رومان په برخه کې لا زموږ کار



Ketabton.com

اوس هم په نشت حساب وګڼيږ .

و : په دغه مسير کې د عملي ادبي کره کتنې څرکونه ورك دي . کره کتنه د علم په عنوان مطرح ده او د يو داسې مسير د سېکلا له پاره بې ضرورت بيخي جوت دی . له کره کتنې څخه د « کرکې » او « دښمنۍ » د تعبير پرځای که په دې مسير کې کره کتنه د اخلاص ، دوستۍ او صميميت نخښه وګڼل شي نو بې له شکه چې د عظيمو او ښکلو آثارو پيدا کيدلو ته بايد سترګې پرلاره شو .

٤ – د افغانستان د جهاد او مقاومت د ادبياتو په بهير کې ، يو بل مسير ته هم پاملرنه په کار ده . دا د نړۍ په ليرې ګوټونو کې د افغاني شاعرانو او ليکوالو متشتتې او خورې ورې هلې ځلې دي ، چې د مقاومت د ادبياتو په مطالعه کې به خپل ځای ولري ، خو دغه هڅې منظمې ، منسجمې او پرله پسې نه دي ، او دا موضوع د ځان له پاره يو لړ علتونه هم لري .

د ثور له کودتا وروسته زموږ د هيواد يو شمير ليکوال او شاعران له خپل ټاټوبي څخه مهاجرت ته اړ شول او څه داسې زمينې جوړې شوې چې يو شمير کسان په امريکا ، اروپا او د نړۍ په نورو هيوادونو کې ژوند وکړي او د خپل عادي ژوند په لړ کې کله کله ادبي هڅې هم ترسره کړي ، شعر ، کيسې او ادبي تحقيقي آثار هم وليکي . له کودتا او په تيره بيا له روسي پوځي يرغل وروسته په بيلا بيلو کلونو کې ګڼ شمير افغاني ليکوال او شاعران دغو سيمو او هيوادونو ته مهاجر شوي دي چې د نمونې په توګه يې د ځينو نومونه دا دي :

عبدالرحمن پژواك ، ډاکتر روان فرهادي ، سيد شمس الدين مجروح ،



Ketabton.com

پوهاند ډاکټر حبیب الله تږی ، پوهاند محمد نسیم نګهت سعیدي ، ډاکتر عبدالحکیم طبیبي ، سعد الدین شپون ، عبدالباري جهاني ، حیدر نیسان ، ډاکټر عبدالرزاق پالوال ، ډاکتر شیر محمد- نصري ( حقشناس ) ، زلمی بابا کوهی ، محمد اسحق نګارګر ، ډاکتر- محمد اکبر اکبر ، محمد صدیق حیا ، محمد روحانی رویا ، داکتر خلیل- الله هاشمیان ، مریم محبوب ، کریمه طهوري ، فریده انوري ، عنایت- شریف ، خورشید عطایی ، لطیف جان بابی ، حلیم تنویر ، ضیاء- منصور ، اکبر بري ، کاظم بیمار ، حامد نوید ، سهیك عطایی او یو زیات شمیر نور ( ٢٦ )

له دغو لیکوالو او شاعرانو څخه ځیني یې د ژوند کړکیچونو او کړلیچونو ښایي له ادبي کار څخه یوې خواته پاتې کړي وي او یایې خپل هیوادوال لا نه دي ځیني خبر . ځینو یې بیا ادبي کار ته هم دوام ورکړی دی او د روسانو له یرغل وروسته ترننه پورې د مقاومت د ادبیاتو یوه برخه په همدغو هیوادونو کې کار او فعالیت کوي . د دغه مسیر په باب څو ټکو ته په خاص ډول پاملرنه په کار ده :

الف : دا مسیر زیات پراګنده دی . په هر هیواد کې د هغه هیواد عامو شرایطو له یوې خوا ، او زموږ د لیکوالو او شاعرانو ځانګړیو شرایطو له بلې خوا ، جلا جلا وضعیت او د ادبي کار له پاره جلا جلا زمینې پیدا کړي دي ، خو په کار کې یې کوم خاص انسجام نه شته او نه د یو داسې کار له پاره د نړۍ په نورو ګوټونو کې زموږ لیکوالو او شاعرانو په یو داسې بنیادي کار او پروګرام غور کړی دی . البته په دې کې شك نه شته چې د ځینو کسانو ادبي کار ، زموږ د مقاومت د ادبیاتو ارزښتنا که برخه جوړوي .



Ketabton.com

ب : د ادبي آثارو د کښلو له پاره په دغه مسیر کې ښايي يو څه زيات امکانات موجود وي . ښايي دوی ډير څه وليکلی شي او هر ډول چې یې زړه غواړي ویې لیکي او خپاره یې کړي .

ج : د افغانستان د حوادثو په ارتباط ، دوی د پیښو په مینځ کې نه دي او ځکه خو ښايي کله کله ځیني کسان د حوادثو عمق ته په ټولو باریکیو داخل نه شي . ډير څه یې په اوريدلو او لوستلو اړه لري او ادبي دقيق کار په ټوله مانا د پیښو تل ته د ورننوتلو په مانا دی .

خبره به را لنډه کړو :

د افغانستان ادبيات د ثور د کودتا او د روسي يرغل د وحشت له کبله په داسي بيلا بيلو مسيرونو وويشل شول ، خو له نيکه مرغه چې د افغانستان د جهاد او مقاومت ادبياتو زموږ په معاصرو ادبياتو کې ، نوې ولولې ، نوې هنگامې پيدا کړې .

اوس موږ ته له بل هر وخت څخه زيات د دې ضرورت ليدل کيږي چې د ثور کودتا د پيلامې له هغه منفي مسير څخه را ديخوا اوس څنگه د يوه واحد اولس د ادبياتو په باب په گډه فکر وکړو ، د هغو ادبياتو په باب چې بنسټونه به يې همدغسې د مقاومت پياوړي ارزښتونه جوړوي . په دې برخه کې د ټولو ليکوالو ، شاعرانو او محققينو او پوهانو گډ کار ته زياته اړتيا ليدل کيږي .

دا کار يواځې په گډ «صميميت» سره تر سره کيدای شي ،

په گډو هڅو ، د ټولو شاعرانو او ليکوالو په سره نزدې کيدلو او يو د بل په زړه د پوهيدلو او د هغوی په آثارو د پوهيدلو له لارې .

سبا ته به زموږ د صداقت او صميميت په همدغسې گډو هڅو حساب کيږي .



Ketabton.com

**ضمیمه :**

# د افغانستان رواني پېښې
# او د هیواد علمي او کلتوري میراثونه

| |
|---|
| هغه حوادث چې په افغانستان کې د ۱۳۷۱ ش.کال په ثور کې را پیل شول ، په حقیقت کې د ثور د تراژیدۍ یوه بله پیلامه او یو بل اړخ دی . د دې رسالې له کښلو څو کاله وروسته دغه حوادث را منځته شول او دا دی د دغې تراژیدۍ د تکمیل په منظور مې غوره وبلله چې د چاپ په وخت کې یې دغه نوې ضمیمه هم ورسره مله کړم . |

د افغانستان د علمي او فرهنګي میراثونو په باب خبرې د وطن د تاریخ د پرون او نن هغه بابونه دي چې پاڼه پاڼه یې زموږ د ژوند د حالاتو ، هلو ځلو ، د خواخوږیو او زړه سویو ، بدمرغیو او جفاوو داستانونه لري . د افغانستان فرهنګ د خپل دغه اوږد تاریخ په تېرولو لړو ژورو او خوږو ، ترخو کې خپل ځانګړی ارزښت ساتلی دی .

نن چې کله د نړیوال فرهنګ د بیلا بیلو اړخونو په هکله خبرې او څېړنې کیږي ، نو افغاني کلتور د دغه جهاني کلتور یوه نه بیلیدونکې برخه ده . د جهاني فرهنګ ډیر لرغوني او ارزښتناك تاریخي آثار او



Ketabton.com

قيمتي نښې نښانې د افغانستان وياړ ګڼل کيږي . له اسلامي دورې څخه پخوا هم ډير داسې تاريخي آثار د افغانستان په ګوټ ګوټ کې پيدا شوي دي چې د ټول جهاني فرهنګ او تاريخ له پاره خاص ارزښت لري . دغه راز افغانستان د اسلامي فرهنګ يو داسې ټاټوبی هم دی چې د دغه فرهنګ ډير علمي او هنري آثار په دې هيواد کې را منځته شوي او ايجاد شوي دي . د اسلامي فرهنګ د مطالعې له پاره هم د افغاني فرهنګ د بيلا بيلو اړخونو څيړنه لازمي ده . د خطاطۍ ، ميناتورۍ ، تعمير جوړونې او تذهيب ، ادبياتو ، علمي څيړنو او تحقيقاتو او د فرهنګ د نورو برخو په وده کې د افغاني کلتور له مطالعې څخه هيڅوك بې نيازه کيدای نه شي .

د افغانستان د فرهنګي ، تاريخي او علمي شتمنيو د ساتنې او په هيواد کې د دغې عنعنې د ودې او پرمختګ له پاره پرله پسې هلې ځلې روانې وې . د افغانستان د تاريخ ، فرهنګ ، هنر او ادبياتو په باب که ډيرې هر اړخيزې څيړنې نه وې شوې ، خو بيا هم دغه لړۍ په ډير زيار پيل شوې وه . د تاريخي آثارو پلټل روان وو ، کشفيات کيدل او پر دغو پيدا شويو آثارو څيړنې پيل شوې وې . د افغانستان د لرغوني تاريخ د کښلو له پاره تر ډيره له همدغو لاس ته راغليو تاريخي آثارو څخه استفاده کيده . همدارنګه د فرهنګ د نورو اړخونو په باب هم لټون روان و او د نويو فرهنګي او علمي پرمختګونو له پاره تکلونه کيدل .

د ثور کودتا په افغانستان کې د دغه ډول علمي او کلتوري ودې په لياره کې خنډونه را منځته کړل . د افغانستان د ملي فرهنګ پرځای د



Ketabton.com

يوې پردۍ ايډيالوجۍ او پردي فرهنگ ارزښتونه مقدم شول . په دغه دوره کې د افغانستان د تاريخ او فرهنگ له پاره کار او هلې ځلې يو بابيزه کار گڼل کيده او ټوله پاملرنه په اصطلاح د انقلاب او د نويو برياوو (!) او د جهاني کارگري تحريك او غورځنگ خوا ته وه . سره له دې چې په څو وروستيو کلونو کې يې په خپلو دغو ترسره شويو کارونو او پروگرامونو پښيماني ښکاره کړه او د افغاني فرهنگ خپلو ارزښتونو ته هم يو څه توجه وشوه ، خو دا هغه وخت و چې اوبه له ورخه تيرې وې . دغو وروستيو پښيمانيو د افغانستان د علمي او فرهنگي ودې له پاره کوم بنيادي کارونه کړای شو .

## نوې پېښې او علمي او کلتوري ميراثونه :

د افغانستان ټول پوهان او البته زړه سواندي او هيوادپال پوهان ، ليکوال او منورين يوې داسې شيبې ته سترگې پر لاره وو چې هيواد آزاد شي او د خپلواکۍ له نويو ولولو سره د هيواد د بيا ودانۍ په ستر کار کې ، د علمي او فرهنگي بيا رغاونې له پاره متې را ونغاړي او په دغه لړ کې نه ستړي کيدونکې هلې ځلې وکړي ، خو له بده مرغه داسې ونه شول . په افغانستان کې د نوي حکومت له جوړيدو سره سم ټول اميدونه له يو لړ پوښتنو او شکونو سره مخامخ شول او د ډيرو منورينو او د هيواد له علمي او فرهنگي ودې سره د علاقمندو او زړه سواندو کسانو هيلې له خاورو سره برابرې شوې .

دلته به په افغانستان کې له روانو پيښو را وروسته د ځينو علمي ، کلتوري او هنري برخو په باب څو څرگندونې وکړو او د هغو پوښتنو او

---



Ketabton.com

تشویشونو په هکله به وغږیږو چې په روانو حالاتو کې زموږ علمي او کلتوري شتمنیو او پانګې ته متوجه دي . دغه بیلا بیلې برخې د افغانستان د کلتوري او علمي موارېثو یوازې یو څو نمونې دي او کیدای شي په نورو زیاتو برخو کې دا ډول پوښتنې او تشویشونه مطرح شي .

## الف - کتابونه او کتابتونونه :

په کابل کې د نوي حکومت او یا د نویو حالاتو له راتلو سره سم په هیواد کې د لویو علمي پانګو یعنې کتابونو او کتابتونونو په سلسله کې ځینې مسایل مطرح شول . په پیل کې د یو فرمان په لړ کې خرګنده شوه چې ټول کمونستي کتابونه به سوزول کیږي . سره له دې چې د کتابونو د لټون په سلسله کې دغه موضوع څه موده وروسته سړه شوه ، خو ډیرو کسانو په پخواني شوروي کې چاپ شوي کتابونه او حتی د پخواني رژیم له خوا چاپ شوي کتابونه او آثار له دې ویرې وسوزول او یا یې ضایع کړل چې په کور او کتابتون او دفتر کې د دغو آثارو د موجودیت له امله یې ژوند ته څه خطر پیښ نه شي . د کمونستانو د دوران هغه تجربه یوځل بیا تکرار شوه چې د پخوانیو رژیمونو ډیر آثار یې له کتابخانو بهر کړل ، ضایع یې کړل او حتی ډیرو کسانو د دوی له ویرې د خپلو شخصي کتابتونونو آثار له منځه یوړل .

حقیقت دا دی چې د هر دوران کتابونه د همدغه خپل دوران د حوادثو ډیر ښه منعکسوونکي دي . نه پوهیږم موږ ته ولې دغه ذهني رنځ را پیدا شوی چې هر نوي ته هر زوړ له ځیرمې ناوړه ښکاري او حتی د زړو له تجاربو هم استفاده نه کوو . زه خو داسې ګڼم چې حتی د



Ketabton.com

کمونستانو په دوران کې ټول خپاره شوي آثار باید موږ ضایع نه کړو ، ویې ساتو او حتی خپلو نویو نسلونو ته یې ورکړو او ورته ووایو چې دا واخلئ او ویې لولئ ! وګورئ چې څه یې ویل ، څه یې لیکل او څه یې کول ؟ دغه آثار د کمونستانو د فجایعو ، د هغوی د خپرونو او د افکارو اسناد دي او موږ باید د خپل وطن د راتلونکي له پاره ، د خپل تاریخ له پاره ، د خپلو کتابتونونو او آرشیفونو له پاره دغه اسناد محفوظ کړو . د دغو اسنادو ضایع کول په واقعیت کې د هغوی پر نادودو او فجایعو پرده اچول دي . موږ باید هیڅکله د دغو آثارو له اغیز څخه کوم ډارونه لرو . موږ باید په دې ایمان ولرو چې نور نو د نړۍ له اوږو نه د کمونیزم پیټی کوز شوی دی . دغو کتابونو او آثارو چې د خپل قدرت په وخت کې زموږ پر مسلمانه او هیوادپاله ټولنه کومه فکري اغیزه ونه کړه او یوازې د ټوپك په زور یې په بې وزلو خلکو یو څه منل ، نو اوس د خپل زوال په دوران کې به څه اغیزه ولري . موږ چې په خپلو عقایدو او د اعمالو په حقانیت ایمان ولرو ، د نورو د افکارو او عقایدو له لوستلو ، لټون او تحقیق څخه باید هیڅ ویره ونه کړو .

د کتابونو د ضایع کولو په لړ کې یوه بله د پاملرنې وړ خبره دا ده چې په دغو کلونو کې یو شمیر ارزښتناك آثار هم چاپ شوي دي او کیدای شي د همدغو آثارو په سلسله کې داسې علمي او ادبي آثار هم ضایع شي چې هیڅ کمونستي او مارکسستي رنګ نه لري ، خو یوازې د دغو کلونو په جریان کې چاپ شوي وي .

له بده مرغه موږ او تاسو د کابل په ښار کې د کتابونو او کتابتونونو له ډیرو ناوړو کیسو او پیښو څخه هم خبر شوو . ویل کیږي چې د کابل



Ketabton.com

د عامه کتابتون او دغه راز د کابل پوهنتون د ډېر غنیمت کتابتون ځیني ارزښتناك آثار ضایع شوي دي . ځینې به یې د جنګ په لمبو کې ضایع شوي وي او ځینې به یې په قصدي توګه له منځه تللي او حتی د نورو په لمسون لوټ شوي وي . ماته څو کسانو د خپلو سترګو لیدلې خبره وکړه چې د کابل د ملك اصغر په څلور لارې کې د کابل د عامه کتابتون وضعیت د ډېر تأمل وړ دی . حتی زموږ ځیني مجاهد ورونه او یا د هغې سیمې محافظین له دغو ارزښتناکو کتابونو څخه د چای د ډوډۍ د پخولو له پاره د سون د موادو په توګه استفاده کوي او دا څومره لویه تراژیدي ده .

زموږ یو ښاغلي لیکوال په کابل کې د افغانستان د لیکوالو په انجمن کې د کتابونو د سوزولو په اړ کې خپله د سترګو لیدلو یوه پیښه یوځای داسې قلمند کړې وه :

« د سهار په لسو بجو د کابل په نوي ښار کې د افغانستان د لیکوالو ټولنې په لوټ شوې ودانۍ کې د هغه څلورو ، پنځو لیکوالو کتلو ته ورغځم چې د نهایت مجبوریت له امله لا هم په کابل کې پاته دي او بیا بې معاشه ، بې کوپونه او بې رشوته وظیفې ته هم حاضرېږي .

د لیکوالو ټولنې په محوطه کې وسله وال محافظین (!) په ډېره بې-رحمۍ د شنو ونو په غوڅولو بوخت دي ، د هیواد بادرده او حساس شاعر واصف باختري ورو ورو اوښکې تویوي او وایي : « قطع هر درخت مثل مرگ اولادم مره آزار میته » غوارم باختري او ملګري یې له هغې ځوروونکې صحنې څخه وباسم ، د وتلو دروازې ته نژدې د محافظینو دیګ بار دی او د نغري څنګ ته د ټولنې د کتابخانې پنځه



Ketabton.com

کتابونه د سیزلو انتظار وباسي . تر دیگ لاندې په نغري کې د خوشحال ـ
ختټك او علامه اقبال لاهوري له دیوانونو نه سوې لمبې پورته کیږي .
وسله وال محافظین په دیګ کې ځمځه وهي او بیره یې ده چې دیګ به
کله پخیږي ؟ زما په ذهن کې د خوشحال دا شعر انګازې کوي :

« د مردانو (!) دیګ پخیږي په مهال پس » (۲۷)

تعمیرونه به بیا جوړ شي . سړکونه به بیا جوړ شي ، ښارونه به بیا هم ښکلي شي ، خو دغه ارزښتناك آثار به بیا هیڅکله لاس ته رانه شي . په دغو کتابونو کې ډیر زیات یې نادر آثار وو چې بیا به یې موږ هیڅکله پیدا نه کړای شو ، زموږ راتلونکي نسلونه ، زموږ بچي او لمسي به بیا د دنیا په کوم کوم ګوټ کې د خپل وطن په دغو علمي آثارو پسې سرګردانه ګرځي ، یا به یې چیرته کومه نسخه پیدا کوي او یا به یې نه مومي او زموږ روح ته به دعا کوي او آفرین به راته وایي !

**ب – مطبوعات ، راډیو ، ټلویزیون او فلم :**

سره له دې چې اوس په افغانستان کې دمطبوعاتو ، راډیو ، ټلویزیون او فلم او سینما په باب ډیرې خبرې بې وخته او یا ناوخته دي ، خو مطرح کول یې بې ځایه خبره نه ده . له بده مرغه د جنګ په لمبو کې د افغانستان ډیره ستره او قیمتي دولتي مطبعه له مینځه لاړه . د نوي حکومت یا نوي حالت له راتګ وروسته چې پوازې د هیواد او انیس دولتي ورځپاڼې خپریدلې هغه هم بندې شوي . همدغه اوس خو په افغانستان کې د چاپ له پاره هیڅ ډول امکانات نشته او یا بیخي محدود دي . له یوې خوا حالات داسې دي چې د مطبوعاتو له پاره



Ketabton.com

کومه مشخصه کړنلاره نشته . د هرڅه په باب حالات غیر یقیني دي . څوك نه پوهیږي چې څه ډول مطالب خنګه خپاره کړي ؟

د افغانستان د دولتي مطبعې په څیر یوه ستره مطبعه به بیا زموږ غریب وطن څنګه او څومره موده وروسته پیدا کوي ؟ زموږ د بې وزلي هیواد له پاره دا څومره لویه فاجعه ده .

د راډیو او تلویزیون په باب هم خبره همداسې ده . له بده مرغه د جنګ لمبو د راډیو د خپریدو دستګاوې له منځه یوورې او اوس په ډیرو محدودو امکاناتو محلي ډوله خپرونه کوي . د تلویزیون انتن هم د جنګ په لمبو کې وسوزید او د یوې مودې له پاره د کابل ښاریان د تلویزیون له لیدلو محروم شول . اوس تلویزیون بیا په ډیرو محدودو امکاناتو خپل نشرات پیل کړي دي .

راډیو ، تلویزیون او مطبوعات یوازې د یو ګوند او یوې ډلې په خدمت کې وو . حتی په هغو دوه میاشتو کې چې ښاغلی مجددي د جهادي شورې مشر او د دولت ممثل و ، بیا هم راډیو ، تلویزیون او مطبوعات د جمعیت او شورای نظار په امر چلیدل . ښاغلي مجددي له قدرت څخه د ګوښه کیدو په ورستۍ وینا کې له دې موضوع څخه شکایت وکړ او ویې ویل :

« ... جمعیت اسلامي و شورای نظار به این همه اکتفا نه نموده ، وزارت اطلاعات و کلتور و رادیو تلویزیون را مانند وسایل و ملکیت شخصي و حزبی در خدمت اهداف حزب و شخصي خویش قرار دادند .

اکثر بیانیه های این جانب و اخبار مربوط به ریاست دولت را در رادیو و تلویزیون سانسور ویا از نشر آن ممانعت بعمل آمده است ... »



Ketabton.com

له بده مرغه د کمونستانو چلند بیا تکرار شو . د وطن د لوړو گټو پرځای بیا هم د تنظیمي او ایډیالوژیکي کړښو پر بنسټ چلندونه وشول او راډیو ، تلویزیون او مطبوعات یوازې د یو گوند په خدمت کې شول او نتیجه یې بیا هم داسې شوه ، لکه کومه نتیجه چې کمونستانو ولیدله .

د فلم او سینما په برخه کې هم له بده مرغه داسې څه چلندونه وشول. د دې پرځای چې له دغه اغیزمن هنر څخه سمه او پرځای گټه واخلي ، سینماگانې وتړلې شوې او پر ضد یې د تبلیغاتو یوه څپه پیل شوه . موږ هیڅکله له فلم او سینما څخه د یوویشتمې پیړۍ په دغه پیلامه کې بې نیازه کیدای نه شو ، خو دا چې څنگه ترې د خپل هیواد او حالاتو په نظر کې نیولو سره گټه واخلو ، دا نو زموږ په صلاحیت او ادراك پورې اړه لري .

البته په تلویزیون کې چې په دغه څو میاشتو کې کوم فلمونه وښودل شول ، هغه ټول د یوه تنظیم او حتی د یوه تنظیم د یوې کوچنۍ برخې هلو ځلو ته وقف شوي وو او د ټول افغانستان نماینده گي یې نه کوله .

## ج - علمي مرکزونه او پوهنتونونه :

په افغانستان کې زموږ د محدودو امکاناتو په رڼا کې کافي علمي او تعلیمي مراکز او پوهنتونونه موجود وو . کمونستانو سره له دې چې له دغو مراکزو څخه یې هم د خپلو اهدافو له پاره گټه اخیستله ، مگر بیا یې هم فعال وسائل او یایې د روسي کولو پروسه پرې تطبیق کړه . خو له نوي حالت وروسته د دغو علمي مراکزو او تعلیمي او پوهنتوني



Ketabton.com

مؤسساتو نن او سبا هم غیر یقیني بریښي . په علمي مرکزونو لکه د افغانستان د علومو اکاډمي او نورو کې خو ځیني خلك تر یو وخته د حاضرۍ د لاسلیك او د تنخوا د اخیستلو له پاره ورتلل ، خو د کار هیڅ درك نه و . د دغو علمي کسانو اکثریت یې له کابله وتلي دي . دغه راز د پوهنتونونو او تعلیمي مؤسسو په هکله هم څه تصمیم نه دی نیول شوی . تراوسه پورې لا تړلي دي او د پوهنتونونو یو ګڼ شمیر استادان له هیواد نه بهر تللي او مهاجر شوي دي .

د علمي مراکزو او پوهنتونونو او نورو تعلیمي مؤسسو په هکله که همدغه وضعیت دوام وکړي ، دا د زیات تشویش وړ خبره ده . دغه علمي او اکاډمیك کادرونه که د افغانستان غونډې له یو وروسته پاتې او غریب هیواد څخه ووتل او بیا ورستنیدلو ته یې زړه ښه نه کړ نو دا به زموږ د هیواد له پاره یو بله نه جبیره کیدونکې غمیزه وي .

د آزادو او په دولت پورې د تړلو فرهنګي مؤسساتو ، ټولنو او انجمنونو په هکله هم تراوسه پورې کومه کړنلاره نشته . دغه مسلکي کسان هم زیاتره یې له کابل څخه وتلي او یا لا تراوسه پورې بې سرنوشته دي . دوی د خپلو فعالیتونو په څرنګوالي او راتلونکې نه پوهیږي .

## د – هنرونه او راتلونکې هنري پرمختګونه :

د افغانستان د هنرونو او د راتلونکو هنري پرمختګونو په هکله هم ګڼ شمیر سوالونه را پیدا شوي دي . افغانستان چې د هنرونو د ایجاد ، ودې او سمسورتیا په برخه کې یو په زړه پورې تاریخ لري ، اوس یې نه



Ketabton.com

یوازې دا چې د سبا له پاره د هنري ودې او سمسورتیا په برخه کې تشویشونه موجود دي ، د اوسنیو او را پاتې هنري ذخایرو او غنیمت هنري پانګو د ساتلو په لړ کې هم تشویش پیدا شوی دی .

په راتلونکي حکومت کې د هنرونو د ودې په باب اوس څه نه شو ویلای خو د ډیرو ښکلو هنرونو د پرمختګ په برخه کې خبرې شته دي . ځیني ناخبره او د ډیر محدود نظر خاوندان ښایي د ډیرو هنرونو دروازې وتړي ، د نقاشۍ او میناتور په هکله داسې خبرې شته دی . حتی د خطاطۍ د هنر په باب هم ولیدل شي چې څه کیږي ؟

موسیقي خو په راډیو او تلویزیون کې بنده شوې وه . د افغانستان ګڼ شمیر هنرمندان او سندر غاړي له هیواده بهر شول ، ځکه چې نور نو په خپل ټاټوبي کې د خپل مسلك او خپل استعداد او هنر له پاره کومه زمینه نه ګوري . ایا د نړۍ په کوم ګوټ کې به داسې یو اولس هم موجود وي چې خپله موسیقي ونه لري ؟ آیا داسې کوم اسلامي هیواد شته دی چې د موسیقۍ په وړاندې یې داسې قاطع خنډ درولی وي . ما خپله په خوست ، لوګر ، جلال آباد او یو شمیر نورو ښارونو کې ولیدل چې د مجاهدینو شورې د کیسټ خرڅولو ټول دکانونه بند کړي وو . په داسې حال کې چې زموږ همدغه زړور مجاهدین د جهاد په سنګرونو کې هم خپله اصیله موسیقي اوري ، خوند ترې اخلي او د ډول غږ خوښي غزا او جهاد ته هڅوي . موږ د جهادي اولسي سندرو په لټون کې ایله د ګردیز د ښار په یو کونج کې د کیسټ خرڅولو یو دکانګی پیدا کړ . اوس نو د افغانستان خپله اصیله موسیقي هم باید سړی له افغانستان نه بهر ولټوي او دا ځومره د افسوس خبره ده .



Ketabton.com

### هـ - ملي موزيم او ملي آرشيف :

د افغانستان ملي موزيم په ټوله منطقه کې له ډېرو ارزښتناکو تاريخي موزيمونو څخه ګڼل کيږي . په دغه موزيم کې د افغانستان د تاريخ او د دغې ټولې سيمې د تاريخ په اړه ډېر عمده آثار خوندي دي . هر هغه څوک چې د افغانستان او د سيمې پر تاريخ تحقيق کوي ، په دغه موزيم کې د کار ډېر مهم اسناد او مواد پراته دي . د افغانستان د لرغوني او معاصر تاريخ په اړه په ملي موزيم کې ډېر معتبر اسناد ، زموږ له ډېرو مهمو فرهنګي او تاريخي افتخاراتو څخه شميرل کيږي . په کابل کې د جنګ جګړو د ادامې په لړ کې د دغه موزيم په باب هم بيلا بيل روايتونه اوريدل کيږي .

څوک وايي لوټ شوي ( خدای « ج » مه کړه ) او څوک وايي چې ځيني مواد او اسناد يې تري تم شوي دي . حتی د آوازو په بنه ويل کيدل چې ځينو لويو ميلمنو ته د افغانستان ځيني تاريخي اسناد د تحفې په توګه ورکړل شوي دي او حتی قوماندانانو له ځينو موزيمونو څخه ځيني تاريخي اسناد د کابل له ښار څخه را بهر کړي دي .

د تاريخي اسنادو او آثارو په لړ کې يو بل د تشويش وړ حرکت ډېر په څرګنده جريان لري . د تاريخي اسنادو او مدارکو قاچاق د افغانستان په ګوټ ګوټ کې روان دی . په دغه قاچاق کې د افغانستان د ځينو کسانو ، د ګاونډيو هيوادونو او حتی نړيوالو حلقو هلې ځلې رواني دي . په افغانستان کې د تاريخي آثارو د قاچاقي کيندنو ، د آثارو د را وکښلو او قاچاق په برخه کې ګڼ شمير کسان سخت مصروف دي . دغه آثار په پټه د کيندنو په وسيله را بهر کيږي او بيا لاس په لاس د افغانستان له



Ketabton.com

پولو راوځي او له دې لیارې اوس خلك ځانونه شتمنوي . زما د خپلو شخصي معلوماتو له مخې له بده مرغه دغسې کندنې ، چې په حقیقت کې د افغانستان د تاریخ د خرڅونې او له وطن سره د خیانت تر حده گناه لري ، اوس هم په بیلا بیلو برخو کې روانې دي .

د افغانستان ملي آرشیف هم د افغانستان له سترو تاریخي افتخاراتو څخه دی ، سره له دې چې کله کله د دغه آرشیف د زیانمنیدلو خبرې هم اوریدل کیږي . خو امید دی چې ارزښتناك ادبي ، فرهنگي او تاریخي آثار یې محفوظ وي ، که دغه آثار لادرکه او له مینځه لاړ شي ، بیا به هیڅکله جبیره نه شي .

په مجموع کې د افغانستان په روانو پیښو کې علمي او کلتوري میراثونو ته زیات تاوان رسیدلی دی . امید دی چې گران هیوادوال د خپل وطن د علمي او کلتوري میراثونو د خوندي ساتلو له پاره له هیڅ ډول هلو ځلو څخه ډډه ونه کړي . زموږ مجاهد ملت لکه څنگه چې یې د خپل دین او وطن د ناموس له پاره سرښندنې وکړې ، دغسې د خپل ملت د شتمنیو او د علمي او کلتوري میراثونو د تحفظ له پاره جدي اقدام وکړي ، لږ تر لږه هر افغان باید د خپلو امکاناتو په رڼا کې د دې کار مخنیوی وکړي .

افغانستان زموږ د ټولو گډ تاریخي کور دی ، د دې گډ تاریخي کور هره شتمني زموږ گډه شتمني ده ، د دې وطن هر تاریخي ویاړ ، زموږ له پاره د تاریخي ناموس حیثیت لري او د دې ناموس ساتنه پر موږ فرض ده .



Ketabton.com

## پایلیکونه
## او
## څرګندونې

۱ - لینین د « ادبیات او ګوندي سازمان » په نوم یوه رساله لري . په دغه رساله کې د « مارکسیزم-لیننیزم » د تیورۍ په رڼا کې په دې ټکي زیات ټینګار شوی دی چې څنګه ادبیات د مارکسیستي - کمونیستي ګوند تر رهبرۍ لاندې او د حزبي فرمایشونو تر بشپړ تسلط لاندې راشي . دغه رساله د ادبیاتو د چوکاټي کولو ، فرمایشي کولو ، دستوري کولو او حزبي کولو له پاره یوه مقدمه ګڼل کیږي . د اکتوبر له کودتا وروسته د ادبیاتو په باب له همدغې رسالې څخه د یو لارښود اثر په عنوان استفاده کیدله او څکه خو د شوروي ادبیات له خپل هغه پخواني برم او پرتم څخه پاتې شول او ادبیات درګرده په فرمایشي لیکنو بدل شول او یا خو لوړو آثارو ته د کښلو او خپرولو هیڅ زمینه برابره نه شوه . د ادبیاتو د داسې حزبي چلند په باب د « قصه نویسی » لیکوال داسې لیکي :

« د نن ورځې د کمونیستي هیوادونو زیاتره کیسه لیکونکي ، فرمایشي کیسې لیکي ، هغوی ته د یو ګوند له خوا یوه مشخصه



Ketabton.com

کړنلاره ، فکر او دستورالعمل ورکول کیږي او هغوی گوندي افکار او اصول د داستان په قالب کې او د داستان په شخصیتونو کې په پام کې نیسي او په دې توگه په غیر مستقیم ډول د یوه گوند او په واقعیت کې د سیاستمدارانو د افکارو له پاره تبلیغات کوي . په فکري لحاظ دغه ډول لیکوال له خپله ځانه هیڅ واك نه لري او حتی مجبور دي چې د داستان شخصیتونه هم د گوندي احکامو پر بنسټ انتخاب کړي او له همدې کبله ده چې دغه ډول زیاتره کیسې قلابي بڼه لري . یا دا چې هغوی د ډیر پخوا ماضي پر لور لاړ شي او د پخوا زمانو په باب کیسې ولیکي .

... د داسې لیکوالو ترمنځ زیات توپیر شته دی چې خپله وغواړي د بزگرانو او کارگرانو په باب یو څه ولیکي او د هغو لیکوالو چې د یو حزب او مقام له خوا د یوې داسې کیسې حکم ورته وشي چې د بزگرانو او کارگرانو د طبقو په باب څه ولیکي . لومړنۍ ډله لیکوالو د د دغو طبقاتو د ژوند په باب یو نوي څه کشف کړي وي چې د هغه په نظر د ویلو ارزښت لري ، په داسې حال کې چې دویمه ډله یې د یو حزبي حکم او فارمول پیروي کوي او ښایي خپله د بزگرانو او کارگرانو له ژوند څخه هیڅ خبرتیاوې نه لري . لومړنۍ ډله لیکوال د خپل قضاوت پر بنسټ کیسه لیکي او دویمه ډله یې همغسې چې څنگه نور قضاوت کوي . لومړنی لیکوال خپلواك دی او دویم لیکوال مجبور ، له همدې کبله ده چې له « گورکی » وروسته په شوروي کې کیسه لیکنه د زوال په لور روانه ده . تر هغه وخته چې لیکوال د انتخاب له پاره بشپړه خپلواکي ونه لري ، نه شي کولی چې د خلکو د ژوند ژورو ته لاره پیدا کړي او بیلا بیل



Ketabton.com

اړخونه يې د هر نظر پر اساس حلاجي کړي . د « حزبي اخلاقو »
پيروي ليکوال ته د آزادۍ محدوديت پيدا کوي . له هغه څخه د انتخاب
واك اخلي او د هغه د ليد ديوال ډير زيات را لنډوي ... »

- براهني ، رضا ، **قصه نويسي** ، چاپ سوم ، تهران ( نشر نو )
۱۳۶۲ ش . ( ۱۱۳ - ۱۱۵ ) م ، م .

۲ - دلته د يوې ټوکې په بڼه کيداى شي د يو ګونډي واکمن خبره
راوړو . په ۱۳۵۹ هـ . ش . کال کې په کابل کې د ميا فقيرالله جلال-
آبادي عليه الرحمه د مړينې د دوه سوم تلين په مناسبت نړيوال سيمينار
جوړيدونکی و . د هغه کوم اثر د دغه سيمينار په مناسبت بايد چاپ
شوی واى ، کوم اثر يې د ګوند د مرکزي کميټې د تبليغ ، ترويج او
فرهنګ د څانګې د هغه وخت د مشر نظر ته وړاندې شوی و . هغه کوم
چاته په تيلفون کې ويلي وو : « دغه ميا فقيرالله خو د «انقلاب ثور »
په باب هيڅ هم نه دي ويلي . فکر نه کوم چې په دې شکل به چاپ شي ! »
او له دې خبرې څخه يوه ټوکه جوړه شوه او تل به په فرهنګي حلقو کې
تکراريدله .

۳ - د زياتو معلوماتو له پاره وګورئ :
- کشمالي ، فرهنګي وده که فرهنګي رکود ؟ **خپلواکی** ( مجله )
۱۳۷۱ ش اسد ، سنبله ۷ کال ، ٤ ګڼه . ( ۹۷ - ۱۱٦ ) م ، م .

٤ - د کره کتنې په برخه کې هم دلته د يوې جالبې نمونې راوړل
په زړه پورې بريښي . له دغې نمونې څخه په ښه ډول را څرګنديږي چې
په تيره بيا د کودتا په لومړنيو کرليچونو کې د ادبي او هنري نقد په
باب څومره حساسيت موجود و . د ۱۳۵۸ کال په پيل کې د افغان



Ketabton.com

ننداري پر سټيج کومه ننداره ښودل شوې وه . پر دغه ننداره د راډيو د هنر او ادبياتو د ادراې په کومه خپرونه کې زموږ يو تکړه ليکوال نقد کښلی او خپور کړی و . په هغه کره کتنه کې د ننداري د توصيفي اړخونو په څنګ کې ، يو څو برخو ته انتقادي اشارې هم شوې وې . د هغې کره کتنې له خپريدلو وروسته په افغان ننداري کې يو محشر جوړ شو . د هغه وخت د افغان ننداري مشر هغه ليکوال ته تيلفون وکړ چې زر تر زره راشه ؛ او که نه راځې نو بيا دې بل ډول هم راوستلی شم .
هغه ليکوال بيچاره مجبور شو چې خپل ځان د هغه دفتر ته ورسوي . د مؤسسې مشر پرته له دې چې حتی هغه ليکونکی په سرسري توګه هم وپيژني ، له ورتګ سره سم يې تهديد کړ او ډول ډول تورونه يې ورپورې ور وتړل . هغه ته يې وويل چې آخر د چا په دستور او امر دې داسې ليکنه خپره کړې ده . هغه ليکونکي ورته د ادبي او هنري نقد پر ارزښتونو خبرې شروع کړې وې او دا چې د هيڅا دستور په کې مطرح نه و ، خو د مؤسسې مشر ټولې خبرې د هغه په خوله کې وچې کړې وې او ورته يې ويلي وو چې ته غلط شوی يې ، د انتقاد ځای دې غلط کړی دی . د انتقاد ځای حوزه او جلسه ده ، نه دا چې په هرځای کې نقد وشي ؛ او هغه ليکوال حق حيران پاتې شوی و چې اوس نو له يو داسې چا سره څنګه خبره وشي او څنګه ورسره علمي دلايل وويل شي . بيا يې د خپل ميز د سر تفنګچې ته اشاره کړې وه چې : نور داسې ليکنې ونه کړې او که نه نو داسې څه هم شته دي !

کله چې له علمي او هنري مسايلو سره داسې چلند وشي ، څنګه به د ادبياتو د پرمختګ او د ادبي – هنري نقد لارې چارې هوارې شي ؟



Ketabton.com

۵ - د اروابناد استاد گل پاچا الفت په باب هغه خپرونه زما په سپارښتنه د افغانستان نومیالي لیکوال ښاغلي حبیب الله رفیع لیکلې وه ، خو د هغې خپرونې له سرنوشت سره سم د خپرونې د کار کوونکو له پاره هم جزاوې وټاکلې شوې . محترم محقق او منقد حبیب الله رفیع چې په هغه وخت کې یې له ډیرو اوږدو سرگردانیو او د افغانستان د علومو له اکاډمۍ څخه له موقوفۍ وروسته د هغه وخت د راډیو-تلویزیون د وزارت د افغان فلم په ریاست کې نوې وظیفه پیل کړې وه ، یوځل بیا له وظیفې څخه گوښه کړی شو . زه او د خپرونې نور اړوند ځیني مسؤولین څو څو ورځې « کسر معاش » شول او ټول د بیا له پاره د داسې خپرونو په برخه کې د احتیاط له پاره تهدید شولو .

۶ - دا متن ټکی په ټکی هغه یادې شوې مقدمې نه دي ، خو د هغو سریزو محتوی کټ مټ همداسې وه . د پښتو ټولنې ( وروسته د افغانستان د علومو اکاډمي ) د ۱۳۵۷ هـ . ش. کال د ځینو کتابونو سریزې همدا ډول وې . د بېلګې په ډول : د زیړي کالنۍ ، د سره غره-گلونه ، پښتانه شعرأ - څلورم ټوک او یو شمیر نور .

دغه راز د خوشحال خان خټك د کلیاتو لومړی ټوك له یوې داسې غیر علمي سریزې سره چاپ شو چې د وطن د نومیالی علمي-ادبي شخصیت اروابناد علامه پوهاند عبدالحی حبیبي علمي زیار ته په کې سپکاوی شوی و . په یاده شوې سریزه کې حزبي سریزه لیکونکي له خپل حزبي او حکومتي مقام څخه په گټه ، داسې خبرې کړې وې چې هیڅ علمي - ادبي ارزښت یې نه لاره ، یوازې د ځان ښودنې یوه ننداره وه او د ادبیاتو او دخوشحال پیژندنې په عنوان په لومړۍ برخه کې د



Ketabton.com

ثور د کودتا په باب ډېرې غیر ضروري او اضافي سیاسي چوکاټي خبرې ځای شوې وې . همدغه خبره وه چې د کلیاتو په دویم چاپ کې ترې هغه موسمي سیاسي سریزه بهر شوه .

۷ - کشمالی ، په **خپلواکۍ** مجله کې هماغه خپره شوې مقاله (۱۰۱) م .

۸ - طبری ، احسان . **کژراهه** ( خاطراتی از تاریخ حزب توده ) ، چاپ سوم ، تهران ، ۱۳۶۷ هـ . ش.( ۲۳۹ - ۲۴۱ ) م ، م .

۹ - دلته لازمه ده یادونه وشي چې حزبیانو د خلکو د خولو د ټپولو په خاطر یو څو تنو مستحقو علمي شخصیتونو ته هم دغه د اکادمیسین او کاندید اکادمیسین علمي لوړ لقبونه اعطا کړل . په دې توګه یې خپلو ګوندي او له ګوندیانو څخه ګوندۍ تر و غیر ګوندیانو ته د دغو لقبونو ورکړه ، قانوني او علمي او د استحقاق پر اساس څرګندول غوښتل ، خو خلکو به په دغو علمي یا په اصطلاح علمي لقبونو پورې ملنډې کولې .

۱۰ - څه رنګه چې هغه ټول آثار زمونږ په واك کې نشته نو نه شو کولی چې دلته هغه ټولې بیلګې ستاسو خدمت ته وړاندې کړو .

۱۱ - **د افغان یاد** . ( د غلام محی الدین افغان د شپیتم تلین د مقالو مجموعه ) کابل پوهنتون ، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی ، اوسنی-ګړنی ادب او د پښتني فولکلور ټولوني ربړې . د ښاغلي زلمي هیوادمل مقاله ، ۱۳۶۰ هـ . ش.( ۱۵٦ - ۱۵۷ ) م ، م .

۱۲- انځور ، زرین . **شعرونه او نقدونه** ( پر معاصر پښتو شعر څو انتقادي څرګندونې ) کابل : د افغانستان د لیکوالو انجمن ، ۱۳٦۵ . ( ۱۴ - ۱۷ ) م ، م .



Ketabton.com

۱۳ - دغه مرکه د پښتو له پیاوړي شاعر استاد عبدالرؤوف بینوا سره شوې وه . دغه نقل قول له دغه مأخذ څخه شوی و :

**ننګرهار** ( مجله ) ، ۱۳۵٤ ش ، د غوبي میاشت . ( ۲٤ - ۲۵ ) م ، م .

۱٤ - انځور ، زرین . **شعرونه اونغدونه** ( ۱۸ - ۲۰ ) م ، م .

۱۵ - د رسالې دغه برخه د ۱۳٦۹ کال ( د میزان په ۱۱ - ۱۳ ) په سوات کې د افغانستان د اوسنیو ادبیاتو په باب په جوړ شوي سیمینار کې اورول شوې او د هغه سیمینار د مقالو په مجموعه کې چاپ شوې ده .

۱٦ - حافظ ، نصرالله . **سنا د چم ګلونه** . کابل : ۱۳٦۵ ش .

( ۱۱۹ - ۱۲۰ ) م ، م .

۱۷ - همدغه اثر . ( ۱۳۷ - ۱۳۸ ) م ، م .

۱۸ - زړه سواند شینواری ، حبیب الله . **ارمانونه** . کابل :

د افغانستان د لیکوالو انجمن . ۱۳٦٦ ش . ( ٦۸ ) م .

۱۹ - همدغه اثر . ( ٦۹ ) م .

۲۰ - همدغه اثر . ( ۷۵ ) م .

۲۱ - همدغه اثر . ( ۸۳ ) م .

۲۲ - یون ، اسمعیل . **مهکور** . کابل : د افغانستان د لیکوالو

انجمن ، ۱۳٦۹ ش . ( ۹۷ - ۹۸ ) م ، م .

۲۳ - ټکور ، افضل . **پرهرونه ټکورونه** . کابل : د افغانستان

د لیکوالو انجمن ، ۱۳٦۹ ش . ( ۱۱۵ - ۱۱٦ ) م ، م .

۲٤ - کنعانی ، غسان . **باشاخه های زیتون** ( ادبیات فلسطین )

ترجمهء علی رضا نوری زاده . **تهران** : انتشارات چکیده ،

۳٦۲۵ . ( ٤٦ ) م .



Ketabton.com

۲۵ - اکبر . محمد اکبر . مراندې ( د همیش خلیل سریزه ) پیښنور ، ۱۳۶۸ ش . ( ٦ ) م .

۲٦ - دا کوم منظم فهرست نه دی . یوازې د ځمونې له پاره مې د ځینو ښاغلیو لیکوالو او شاعرانو نومونه اخیستي دي چې زه یې له نومونو او آثارو سره اشنا وم . ډیر نور ښاغلي لیکوال به له دغه فهرسته پاتې وي چې په دغه مسیر کې یې نومونه د اخیستلو او یادولو وړ دي .

۲۷ - **وفا** ( جریده ) د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه - پیښنور ( د شهباز په قلم د هفتې هنداره ) ۱۳۷۱ هـ . ش . د جدی ۲٤ . ( ۷ ) م .

PROPERTY OF ACKU 3381



Ketabton.com

Series No: 72-

# The Impact of April Tragedy on Culture, Literature and Democracy

By:

M. Zarin Anzor

Publisher:

The Writers Union of Free Afghanistan ( WUFA )

Copies 2000-
Peshawar 1994-

Ketabton.com